خراسان غږ

خراسان غږ

23

گڼه

أَلَا تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَكَثُوا أَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوا بِإِخْرَاجِ الرَّسُولِ وَهُمْ بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ أَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللَّهُ أَحَقُّ أَنْ تَخْشَوْهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ

ولې تاسو له داسې قوم سره نه جنګیږئ چې هغوی خپل قسمونه مات کړي دي او د رسول د وېستلو اراده يې کړې ده، حال دا چې هم دوی په تاسو شروع کړې ده اول ځلې! ایا تاسو له دوی نه وېرېږئ، نو الله تر ټولو زیات حق دار دی د دې چې له هغه نه ووېرېږئ، که تاسو مومنان یئ.

(سورة التوبة: 13)

دیني، تاریخي، سیاسي، ادبي او خبري مجله

خراسان غږ پنځلس ورځنۍ مجله | مؤسسة العزائم يې وړاندې کوي | در ويشتمه گڼه / يکشنبه 22 ذو القعده ۱۴۴۴ هـ

د ديموکراسۍ

بريا مو مبارک شه



د عافيې د وا معتصماه غږ ته به څوک لبيک ووايي؟!

په شرعي (!) نظام کې رافضي محتسبين

ديوبنديان څوک دي؟ (3)

د تصوف بنياد نړولو سره شرافت حاصلول (5)

لنډه کيسه: خپل نذر يې پوره کړ!

مؤسسة العزائم
الإعلامية

مؤسسة العزائم الإعلامية

يې وړاندې کوي

سرلیک

خراسان غږ مجله ۲۳ مه ګڼه ذو القعده ۱۴۴۴ هـ

سرمقاله:

03 د دیموکراسۍ بریا مو مبارک شه

سیاسي برخه:

06 د تصوف بنیاد نړولو سره شرافت حاصلول (5)

17 د عافیې د وا معتصماه غږ ته به څوک لبیک ووایي؟!

22 په شرعي (!) نظام کې رافضي محتسبین

38 دیوبندیان څوک دي؟ (3)

50 مؤمنان ګټونکي دي

دیني برخه:

57 د الله د نصرت صورتونه (2)

66 د قرآن فضائل عظمت او اهمیت (2)

لنډه کیسه:

69 خپل نذر یې پوره کړ!

د ديموکراسۍ

بريا مو مبارک شه

بسم الله الرحمن الرحيم

د ترکيې د استانبول ښار د خلکو يوې ګڼې ګوڼې ته د وينا پر مهال د دې جملې "نن د بيا د ولس بريا وه او نن بيا ديموکراسۍ وګټله" د تکرار سره چکچکې شوې او هم مهاله د نړۍ په ګوټ ګوټ کې تلويزيونونو، راډيوګانو او نورو خواله رسنيو دا خبر خپراوه چې اردوغان يو ځل بيا د ترکيې ولسمشر شو.

ټاکنې چې د وخت د هبل (ديموکراسۍ) او جمهوريت اصل بلل کېږي، د علماؤ له لوري صريح کفر بلل شوی دی، د اوسني عصر امام أحمد نزال الخلايلة يا شيخ زرقاوي رحمه الله فرمايي: "هغه کسان چې ځان ټاکنو ته کانديد کړي او هغه کسان چې رايه ورکوي د دواړو حکم د الله عز وجل په دين کې له اسلامه وتل دي"، معنا دا چې ټاکنې يوه کفري پروسه ده او د اسلامي نظام پر ضد د جوړ شوي نظام ديموکراسۍ تهداب او بنياد دی، د الله عز وجل په شريعت کې قانون جوړونه د الله تعالى کار دی، خو په ديموکراسۍ کې د ټاکنو له لارې دا قانون جوړونه بيا خلکو ته سپارل کېږي چې خلک بيا کانديدان د الله عز وجل سره شريک کوي او لکه څنګه چې قبر پرستي شرک او کفر دی، دغه شان د الله پرته د بل چا لپاره د قانون جوړونې واک ورکول هم کفر دی.

سره د دې چې ټاکنې يوه کفري پروسه ده او جمهوريت کفر دی خو بيا هم د اسلام په نوم ځينې منافق صفته مسلمانانو د دغه کفري پروسې د بريا لپاره دعاوې غوښتې او بيا يې د بريا پرمهال جشنونه نيول، مبارکۍ يې ويلې او د دغه کفري پروسې بريا يې لمانځله.

دوی د هغه اردوغان بريا لمانځله چې بار بار دا اعلانونه کوي چې زه يو سيکولر يم، ديموکراسۍ ته ژمن يم، سيکولريزم ته دعوتونه کوي او د ديموکراسۍ لپاره هر رنګ قربانۍ ته تيار دی.

دوی د هغه اردوغان بريا لمانځله چې په ترکيه کې د جمهوريت بنسټګر اتاتورک قبر، انځور او فکر ورته له اسلامي مقدساتو لسګونه ځل زيات ارزښت لري.

دوی د هغه اردوغان بريا لمانځلې چې ترکيه يې د ناټو يو له مهمو هيوادونو وګرځاوه او د اسلام پر ضد جګړه يې د ناټو سره اوږه په اوږه نه ستړې کېدونکې مبارزه وکړه.

دوی د هغه اردوغان ملاتړ کوي چې د صليبي

ټلوالې سره څنګ په څنګ یې په افغانستان، عراق او صومالیا یرغل وکړ.

دوی د هغه اردوغان بریا لمانځي چې مسلمان وژنه خپل ویاړ ګڼي او د نړیوالې ټولنې، اروپايي ټولنې او امنیت شورا څخه پرې امتیازونه اخلي.

دوی د هغه اردوغان بریا لمانځي چې د اسرائیلو وحشي رژیم سره راشه درشه، دوستانه او جوړجاړی لري او د هغوی امنیت، اقتصاد او ښه والی ورته تر هر څه مهم وي.

دوی د هغه اردوغان بریا لمانځي چې خپلې اوبه یې د روسي جنګي بېړیو په واک کې ورکړې تر څو تري روسي جنګي الوتکې په شام کې مسلمانان کباب کباب او تور سکاره وګرځوي.

دوی د هغه اردوغان بریا لمانځي چې د انجرلیک هوايي هډه یې د امریکايي الوتکو دمه ځای وګرځوه تر څو امریکايي الوتکې په عراق او شام

کې د بمبار لپاره همدا ادرس وکاروي او له بمونو ډکې الوتکې له همدې ځایه پورته شي او بیرته خالي راشي تر څو یې دمه جوړه شي.

دوی د هغه منافق اردوغان بریا لمانځي چې د مؤمنانو پر ضد جګړه کې د ایراني مجوسي حکومت، د روس ملحد حکومت او د امریکا صلیبي حکومت سره نیغ په نیغه جوړجاړی لري او د هغوی د ګټو لپاره مال، ځان، ځمکه سیم او زر ټول قربانوي.

دوی د هغه اردوغان بریا لمانځي چې له امریکایانو یې د شام د صحواتو اربکیانو پروژه واخیسته او د مجاهدینو پر شاه یې د خنجر ګوزار وکړ.

دوی د هغه اردوغان بریا لمانځي چې زرګونه سوریې کډوال یې د ترکیې او سوریې په پوله ووژل، حال دا

چې هغوی د بشار الأسد د ظلمونو څخه په تنګ راغلي و.

دوی د هغه اردوغان بریا لمانځي چې د سوریې د منبج او الباب ښارونه یې په کنډواله بدل کړل، زرګونه ماشومان، زنانه، سپین ږیري او عام مسلمانان یې په بمونو وریت کړل او هلته یې قائم شوی شریعت نافذ کړ.

دوی د هغه اردوغان بریا لمانځي چې کفري هیوادونو

ته يې د هغوی زرګونه اتباع لاس ترلي وسپارل له دې ويرې چې د مجاهدينو سره به يو ځای شي.

دوی د هغه اردوغان بريا لمانځه چې د بشارالأسد وحشي ننګه کوي او د شام د ډيری ځمکې په نيولو کې يې د بشار سره مرسته وکړه.

او دوی د هغه اردوغان بريا لمانځي چې ايمان کنجو خور يې لاس ترلي د اسرائيلو يهودي دولت ګوتې ته وسپارله، ځکه يواځينی ګناه يې دا وه چې د ترکيې له لارې يې کوښښ کوه د اسلامي دولت تمکين ساحې ته هجرت وکړي.

څومره عجيبه ده؟!

آخر دوی په څه د اردوغان بريا لمانځي، جشنونه يې شروع کړي او له يو بل څخه په مبارکۍ ويلو کې مخکې کېږي؟!

آيا په دې چې د ناټو غړی دی او د ده له لارې به نړيواله ټولنه امريکا او غربي نړۍ خوشاله کړي؟

آيا په دې چې د يهودو سره اړيکې خورا نږدې او صميمانه دي؟

آيا په دې چې د روسيې له نږدې ملګرو څخه دی؟

منم د ټاکنو دې جګړه کې يو منافق سيکولر بريا وموندله چې لومړی او وروستی هدف به يې د ترهګرۍ په نوم د اسلام پر ضد جګړه وي.

خو د دومره وحشتونو او ناوړه اعمالو سره سره بيا هم د اخوان المرتدين هم فکره، جهاد بدنامونکي او د اسلامي امت په سپينه لمن داغ طالب مليشې په ډيره سپين سترګی دغه سيکولر اردوغان ته د بريا تبريکي وايي او فکر کوي چې ګوندې په دې تبريکۍ يې د اسلامي امت سره خواخوږي ښودلې او د ديموکراسۍ د بريا په دې ستره خوښۍ کې يې د نورو ديموکراتانو سره ګډون وياړ دی.

خو آخر دوی په دې تبريکۍ سره غواړي د چا سره سيالي وکړي.

د امريکا سره چې اردوغان ته يې د مبارکۍ پيغام ولېږه

د اسرائيلو له ولسمشر اسحاق هرتزغ سره چې

مبارکي يې وويله د روسيې له ولسمشر پوتين سره چې د اردوغان برى د شام د جګړې ګټل ګڼي.

او که نه د نړۍ د نورو مشهورو او غير مشهورو طواغيتو سره سيالي کول غواړي چې د مسلمانانو په وينه يې نږدې شل کاله سوداګري وکړه.

طالب مليشې بايد پوه شي چې د اردوغان او د ده په څېر په اسلامي نړۍ د واکمنو نورو طواغيتو

Zabihullah (ذبـــيح الله م..)
@Zabehulah_M33

د ترکيې د ولسمشرۍ په اړه د اسلامي امارت ريس الوزراء الحاج ملا محمد حسن اخند د مبارکۍ پيغام:
ښاغلي جلالتمآب رجب طيب اردوغان ته د ترکيې د انتخاباتو په دوهم پړاو کې د بريا، او د ترکيې د منتخب ولسمشر په توګه بيا انتخابيدو مبارکي وايم، له الله جل جلاله څخه هيله لرم چې ترکيې هيواد ته

چې په سيمه او نړۍ کې ځانګړی اهميت لري لا قوت، ثبات او د دين خدمت ور په برخه کړي.
د افغانستان او ترکيې د ولسونو ورورګلوي او دوستي دې هميشه او دوامداره وي.

ذبيح الله مجاهد د اسلامي امارت ویاند



5:34 PM · May 28, 2023 · 41.3K Views

بريا په سيمه کې د زنا، سود، هم جنس پرستۍ، دلالۍ، ديموکراسۍ، کفر، الحاد او بې دينۍ بريا ده.

د اسلام په نوم د اردوغان په څېر تشو باټو ووزي احمقان غوليږي ځکه چې عمل يې هر چاته څرګند دی، که په خوله هر څومره د اسلام او مسلمانانو د خواخوږۍ چيغې ووهي خو اعمال يې د لمر په څېر روښانه دي، ځکه هر چيرته چې د اسلام او مسلمانانو پر ضد کرنې ترسره کېږي اردوغان يې په سر کې دی.

د اردوغان په څېر د نورو منافقينو په څېرو د خلکو د غولېدنې اصلي وجه داده چې خلکو اصلي مفاهيم هير کړي دي.

ټاکنې چې صريح کفر دی مسؤليت او امانت ګڼل کېږي.

د مسلمان خلاف د کافرو سره مرستې ته سياست ويل کېږي.

په ځمکه د الله عز وجل د قوانينو پرځای وضعي قوانين او ديموکراسي حاکمول حکمت او مهارت ګڼل کېږي.

تر دې چې دا دی د اردوغان په څېر وحشي صفته انسانانو ته هم خلک د بريا تبريکي وايي او د ده په واسطه د دې کفري پروسې بريا داسې ګڼي ته به فکر کوې چې په بدر کې يو ځل بيا کفارو ماته خوړلې او اسلام غالب شوی دی.

طالب مليشې دومره له اسلامه بېزاره شوي چې اوس په ډېره سپين سترګۍ نورو ته د ديموکراسۍ د بريا تبريکي هم ورته سياست او حکيمانه عمل ښکاري، فکر کوې چې کاش مونږ هم داسې يو اردوغان درلودای چې بيا مو د بل اردوغان پرځای خپل اردوغان ته د ديموکراسۍ مبارکي ويلای!

د دوی دا کارونه د هغه جديد اسلامي نظام پاليسي ده چې د قطر په العديد هډه او د دوحې په مجللو هوټلونو کې امريکايي استخباراتو او د نړيوالې ټولنې نورو مداريانو د طالب مليشو لپاره جوړ کړ او دوی يې د کابل په ګدۍ کېنول تر د دغه جديد اسلامي نظام په نوم د ديموکراسۍ د دې نوي بڼې د تطبيق ترڅنګ د صليبي ټلوالې نور لاسپوڅي هيوادونه هم خوښ وساتي او د بل لوري بيا د همدغه صليبي ټلوالې، د ټلوالې له لوري په اسلامي نړۍ د حاکمو طواغيتو سره څنګ په څنګ او اوږه په اوږه د ټلوالې د مستقيم څار لاندې د ترهګرۍ په نوم د اسلام پر ضد جګړه کې عمده رول ولوبوي او هغه مؤمنان لمنځه يوسي چې نړيوال امنيت او په ځانګړې توګه امريکا ته ګواښ وي.

5

تصوف

د تصوف بنياد نړولو سره شرافت حاصلول (٥)

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو!

تاسې د تصوف د شرکياتو او خرافاتو په اړه د دغه علمي، تحقيقاتي او معلوماتي سلسلې څلور برخې د مجلې په تيرو گڼو کې ولوستلې اوس يې پنځمه برخه خپروو په دې هيله چې تر پايه يې په دقت ولولئ او تر نورو يې ورسوئ.

***

(الردّ البواح على مدعيي التصرف في التقادير والألواح)

په تېرو برخو کې مونږ د خضر عليه السلام په اړه د تصوف د صوفيانو د معتقداتو څخه پاتې ټول معتقدات ذکر کړل، او د هغى د ردّ نه فارغ شولو او دا چې هغه واړه معتقدات د صوفيانو د عقيدې د پنځم مصدر او مأخذ تفصيل و، اوس په دې برخه او فصل کې د لوى الله په خاص فضل او توفيق سره د هغوى د نورو پاتې مأخذونو تذکره کوو، چې هغوى د خپلو معتقداتو دپاره مصادر او أصول گرځولي دي.

٦: مصدر او ماخذ د عقائدو د دوى: په دې ماخذ کې د دوى په زعم او گمان د دوى د ځينو پيرانو مستقيما لوح محفوظ ته کتنه، هغى ته ورختل اوپه هغى کې کتل نظر کول، لاس وهنه او بدلون راوستل دي.

نو دا چې کله د يوه بې علمه أمي انسان داسې باور او يقين جوړ شي، چې د ده پير او شيخ عرش ته گوري، عرش ورته ښکاري او لوح محفوظ ويني او نه صرف دا بلکه په لوح محفوظ کې د پوره لاس وهنې وسع او توان هم لري، نو هغه به بيا بد کوي چې د داسې پير او استاذ قول او عمل بد او باطل وگڼي، بس بيا نو د چا خبره چې که دا پير هرڅه کوي نو ښه کوي، که هرڅه وايي نو ښه وايي، لاحول ولاقوة الا بالله.

بيا د دې متعلق د نقشبندي صوفيانو اکثر کتابونه د داسې عبثياتو او خرافاتو څخه ډک وي، صوفي پير أحمد الفاروقي نه په المواهب السرمدية في مناقب السادة النقشبندية صـــ١٨٤ او په الأنوار القدسية في مناقب النقشبندية صـــ١٨٢ کې قول نقل دى نومورى وايي چې:

«كثيرا ما كان يعرج بي فوق العرش المجيد، ولقد عرج بي مرة فلما ارتفعت فوق العرش بقدر ما بين مركز الأرض وبينه رأيت مقام الإمام شاه نقشبند»

ژباړه: او ډير ځله هغه څه شوي، چې زه پورته عرش مجيد ته پورته کړاى شوى يم او يقيناً يوه ورځ وخيژول شوم، بس کله چې د عرش له پاسه پورته کړاى شوم، نو د ځمکې د مرکز او د عرش ترمنځ مې د شاه نقشبند مقام وليده.

بيا وروسته وايي «واعلم أني كلما أريد العروج تيسر لي»

ژباړه: او پوه شه چې کله هم زه (عرش) ته د ختلو إراده وکړم نو دا ختل ما لره ميسر او اسانه شي، سبحان الله. دا دي سپين سترگي او ښکرور درواغ، دا دي د تصوف کرل او ريبل، عرش ته ختل او معراج کول يې بيخي شخصي ټيکه گرځيدلې ده.

عرش ته ښتل دا د نبي کريم صلى الله عليه وسلم هغه ځانگړې معجزه وه، چې د دې په سبب الله متعال د هغه د نُبوت د مزيد تصديق او د کفارو او د لويو لويو دعوه کونکو مخه ونيوله، خو سړى حيران شي چې نبي صلى الله عليه وسلم په ټول ژوند کې په ويښه صرف يو ځل خو صوفي جناب (!) بيا بيا بار بار ځانته د ختلو خبره ثابتوي، بلکه دا چې دغه کار يې د خپل اختيار نه لاندې د خپلې خوښې پورې تړلى دى، د دې نه خو صفا همدا معلوميږي چې دوى په دې کمال کې نبي صلى الله عليه وسلم ډير وروسته پريښى دى، انا لله وانا اليه راجعون.

هسې وايم که دا صوفيان د نبي صلى الله عليه وسلم په زمانه کې موجود وى، نو د نبي صلى الله عليه وسلم

معراج ته ختل به تأثیر کونکی پاتې شوی و؟ خو افسوس او بیا افسوس چې صوفیانو ته دا او دېته ورته دعوې او کړنې بیخي شرم ،عار او عیب نه ښکاري، بل په دې باب کې د تحقیق په مرسته به دا ووایم چې اسلام ته چې څومره ډلو او فرقو ځانونه منسوب کړي دي، په هغو کې زه فکر نه کوم چې د صوفیانو او روافضو پشان بله داسې فرقه وي، چې په شیطاني وسوسو او درواغو دومره عادت وي لکه دوی چې دي.

دغه ډول ابن عربي صوفي په مواقع النجوم صـ۱۴۸ کې لیکي من الصوفية من لا يزال عاكفا على اللوح، ومنهم من يشهده تارة تارة*

ژباړه: د صوفیانو څخه ځینې هغه دي، چې همیشه په لوح محفوظ باندې ورکاږه شوي پراته وي او ځینې د هغوی څخه هغه دي، چې کله کله ورته حاضریږي.

دیته وایي: غلو + درواغ = توهین د الله.. لاحول ولا قوة الا بالله!

دغه ډول تاسې لږ د رفاعیه سلسلې د صوفیانو د باني پیر أحمد الرفاعي اړوند دا خبره ولولئ، د هغه په اړه په قلادة الجواهر صـ۹۴ کې لیکي چې هغه به ویل: كل شيخ لا يغير صفات تلميذه و لايكتب الشقي سعيدا فما هو عندنا برجل.

ژباړه: هر هغه شیخ چې د خپل شاګرد صفاتو کې تغیر رانه ولي، او شقي (یعني بدبخت) سعید (یعني نیک بخت) ونه لیکي، نو دا زمونږ په نزد هیڅ سړی نه دی، دا خو دا شو راشه بله یې واورئ د همدې قلادة الجواهر په صـ۱۰۳ کې یې دا هم لیکلي دي چې وایي: یوځل همدې پیر رفاعي ته یو سړی راغی داسې سړی چې: مکتوب على جبهته سطر الشقاوة فمحاه.

ژباړه: چې په تندي یې یوه د بدبختۍ کرښه لیکل شوې وه نو پس پیر رفاعي هغه ورانه کړه. الله اکبر دا وګورئ د مسلمانانو د تقدیر لیکل خو الله کوي او کړي یې دي، شقاوت او سعادت ازلي صفات وي، مبرمه فیصله وي، د الله هیڅ مخلوق په هغې کې وسه اختیار او طاقت نه لري، خو د تصوف صوفیان دغه لاس وهنه مشکل نه ګڼي، د الله فیصله بدلول او هغه ختمول دوی ته ګران کار نه ښکاري، لاحول ولاقوة الا بالله.

دغه ډول صوفي محمد ابو هدی په قلادة الجواهر فی ذکر الرفاعي وأتباعه الأكابر صـ۱۹۹ کې دا هم لیکلي وایي: وأما سيدي الشيخ منصور قدس الله سره فإنه لم يزل في السماء مثل الدلو في حوض البئر، له صعود ونزول، يقضي حوائج الناس وحوائج ذريته وأصحابه إلى يوم القيامة.

ژباړه: او بهرحال کوم چې زما پیر منصور و، نو هغه همیشه په اسمان کې اوسیده لکه بوقه چې په کنده د کوهي کې زوړنده وي، بس کار یې اسمان ته ختل او کوزیدل و، پوره کوي هغه حاجتونه د خلکو او د خپل اولادې او د مریدانو د قیامت تر ورځې پورې. زه بیا داخبره کوم چې کله ساده بې علمه مسلمانان د داسې کتاب حواله او د دومره نوم اوشهرت خاوند دا عبارت وګوري، نو څنګه به هغه دغه پیر منصور مشکل کشا او حاجات پوره کونکی نه ګڼي؟

الغرض داسې ډیرې حوالې لرو چې دې خلکو په کې د داسې څه دعوې او اثباتونه خپلو پیرانو ته کړي، چې د ادم علیه السلام نه واخله تر محمد بن عبدالله صلی الله علیه وسلم پورې راغلي ټول انبیاء د هغې نه عاجز او بیزاره ول، خو مخکې مونږ دا خبره ذکر کړې وه چې درواغو کې دا قوم د نورو ټولو باطل پرستو څخه دوه ګوتې مخکې تللی دی، دغه ډول که د دوی پیر کومه خبره د تقدیر څخه وکړي او هغه کار ونه شي نو دا چې اوس ورته خلک درواغجن وایي.

نو د دې متعلق دفاع وګورئ مشهور عصري صوفي ضيف الله جعلي الفضلي په الطبقات في خصوص الأولياء والصالحين والعلماء والشعراء في السودان ص ... کې وایي: كشف الأولياء على قسمين: منهم من ينظر في اللوح فإنه لا يتغير ولا يتبدل كسيدي علي الخواص ومنهم من ينظر في ألواح المحو والإثبات، وعدتها ثلاثمائة وستون لوحا فإنها تتغير وتتبدل، فإذا أخبر الولي بكلام ولم يقع فلا ينكر عليه بأن يقال: كذب، بل يحمل على أنه نظر في ألواح المحو

والإثبات.

ژباړه: د اولیاوو کشف په دوه قسمه دی، ځینې له هغوی څخه په لوح محفوظ کې کتل کوي، خو هغه لوح چې تغیر او تبدیل په کې نه راځي، لکه زما پیر علي الخواص او بعضی هغه دي، چې هغوی هغه الواح ګوري چې هغه کې ورانیدل او ثابتیدل کېږي او د دي الواحو شمار دري سوه اوشپیته دی، چې تغیر اوتبدیل په کې راتلی شي، نو پس کله چې کوم ولي په یوه خبره خبر ورکړي او واقع نه شي نو انکار به تري نشي کیدای چې وویل شي چې ده دروغ ویلي دي، بلکه احتمال شته چې ده په هغه لوح کي کتل کړي وي، چې هغې کې تغیر او تبدیل راځي (یعنی مقصد یی دا دی ده به یو خبر ورکړی وي، چې هغې کې لیکل شوی وو خو وروسته به الله هغه تغیر کړی وي، نو جناب (!) پیر درواغجن ونه ګڼئ، نور هیڅ نه وایم دومره به ووایم چې دغه کتنه لوح ته انبیاء نه شي کولای او د تصوف صوفیان یی کوي، د دي به څه مطلب وي، صوفیان دي د دي ځواب وکړي؟

***

(الدلائل والبینات)

(في بطلان متبعي الشیاطین والجنات)

۷: اووم مأخذ د تصوف هغه د هغو جناتو څخه اخستنه کول دي چې هغوی ته دوی د روحانیینو نوم ورکړی دی او دغه ډول د ارواحو، مړو او داسې نورو څخه هم اخیستل د دوی د خواصو عقیده ده، په دې اړه که الابریز د صوفي عبد العزیز دباغ وکتلای شي نو روغ روغ فصلونه یې په دې باب کې ترلي هغه په صـ۱۶۴ کې لیکي: "وفائدة حضور الملائكة والجن أن الأولياء يتصرفون في أمور تطيق ذواتهم الوصول إليها وفي أمور أخرى لا تطيق ذواتهم الوصول إليها فيستعينون بالملائكة وبالجن في الأمور التي لا تطيق ذواتهم الوصول إليها".

ژباړه : او فائده د ملائکو او جناتو دا ده چې أولیاء تصرف کوي په هغه کارونو کې چې د دوی ذوات (یعنی دوی بنفسه) په هغې کې رسیدګي کولای شي(توان یې لري) او په نورو هغو امورو کې چې د هغوی ذوات د رسیدګی توان نه لري نو په هغې کې مدد وغواړئ په ملائکو او جناتو باندې، په هغه کارونو کې چې د دوی ذوات هغې ته د رسیدو توان نه لري، دا شوه د صوفي دباغ خبره خو مونږ بار بار د دوی دا قسم دعوې رد کړې دي، دلته هم یاد صوفي د ډیری جرمونو او درواغو مرتکب ګرځیدلی دی، ځکه اوچت اولیاء هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام دي، هغوی ته ملائیکې او جنات نه حاضریږي او د تصوف بزرګانو ته حاضریږي، بل د تصرف دغه قسم دعوی هم باطله ده، هیڅ صحابي بلکې هیڅ نبي یې ځانته اثبات نه دی کړی، خو صوفیان یې په اثبات کې شرم نه محسوسوي.

بل دا چې دې کې شک نشته چې جنات د دوی سره قوي اړیکې لري، دوی سره خبرې کوي او دا هم هغه جنات دي چې د شیاطینو له جملې څخه دي او د همدې قسم مزخرفاتو مرسته او زور دی چې صوفیانو پرې خپل دوکانونه خلاص کړي دي، نو دا چې د دې شیطان جن څخه ورته کومه رهنمایي میلاویږي نو صوفیان پیران او د هغوی مریدان یې امتثال ته یو د بل څخه ورمخکې کېږي، هغه څه چې ورته جنې شیطان ویلي وي، نو هغه د دوی پخه عقیده او منهج وګرځي، اګر که دغه خبر یې د کتاب اوسنت صریح مخالف هم وي، خو پروا یې نه ساتي، دا چې دغه جنې شیاطین په دې صوفیانو څه څه نخرې او پیښې کوي، د دې نه د خبرولو د پاره دې د شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله مجموع الفتاوی ۱۱/۳۰۱ صفحه وکتلای شي، د دوی ډیری د سترګو لیدلي بالمشاهده واقعات یې حکایت کړي دي، چې عقل لرونکو ته په کې د عبرت او فهم او د تصوف د حقیقت نه د خبریدو او د هغوی نه د ځان د بچ کېدو ورته څه سبب ګرځیدلی شي.

***

(مطرالقذائف)

۸: علی المخدوعین بالأوهام والهواتف: د صوفیانو دعقیدې اتم مأخذ اومصدر هغه غیبي هاتفي اوازونه دي، چې

په دوی باندې کبرې نو که دې اواز کې جناب(!) صوفي ته هر خطاب وشي، نو دا يې د قرآن ایت او یا هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو غوندې، بلکې له هغې نه يې هم زیات د عمل او قدر قابل وګڼي ابن عجیبه صوفي په الفتوحات الالهیة ص۲۵۵ کې د تصوف د پیرانو متعلق لیکي: "وتكون أيضا مخاطبات على ألسنة الهواتف الكونية, فيسمع العارف منها كل ما يحتاج إليه, وهذا أمر مجرب لمن ذاق الفهم عن الله وفي ذلك يقول القشيري: أنا بالله أنطق ومن الله أسمع".

ژباړه: او کبرې همدا ډول خطابات (دوی) ته په کوني هاتفي ژبو سره، نو اوري عارف له هغې څخه هر هغه څه چې دا حاجت لري هغې ته او دا کار تجربه کړای شوی دی، هغه چاته چې هغه د الله له لوري فهم څکلی وي او همدې باره کې قشیري ویلي دي چې زه قسم بالله خبره کوم او د الله نه يې اورم، لاحول ولاقوة الا بالله.

مونږ وایو که چیرې د تصوف صوفیان د موسی علیه السلام په زمانه کې وای، نو بیا ممکن موسی علیه السلام ته د کلیم الله صفت او د هغه سره د الله د تکلم کولو معجزه نه وی کامیابه شوې، والعیاذ بالله. ځکه چې موسی علیه السلام تکلم د الله تبارک وتعالی ته د طور غر ته ختلو او دومره سخت سفر يې وریسې کولو خو د دوی پیران په کور کې ناست وي او د الله سره خبرې کوي دغه ډول ټول انبیاء يې شاته پریښودل، ځکه هغوی سره د الله متعال خبرې دا د جبریل علیه السلام په واسطه کېدلې خو د تصوف پیران اوبزرګان په مستقیم ډول بلا واسطه د الله سره خبرې کوي!!

دا بیله خبره ده چې مونږ د دوی د دعوې د رد لپاره الزاماً دغه خبرې ومنلې، چې دا د الله له لوري دي، خو نه بلکې حقیقت او سل سلنه ۱۰۰/۱۰۰ حقیقت هغه دا دی چې دا خبرې دالله او د ملائکو نه دي، بلکې د جنې شیاطینو اوازونه دي، چې د دې په مرسته صوفیان د محمدي شریعت مخالفت ته چمتو کوي، هسې تاسې د صوفي فریدالدین عطار دا نقل واورئ چې په تذكرة الأولياء ص ٦٠ کې لیکي چې إبراهيم بن أدهم وویل: " خرجت إلى البرية متوكلا على الله تعالى فما وجدت فيها شيئا للأكل مدة طويلة فخطر على بالي أن أذهب إلى صديقي وآكل من عنده , فهتف بي هاتف: إن الله طهر الأرض من المتوكلين؟ قلت: ما هذا الصوت؟ ثم هتف هاتف: من أراد أن يأكل من بيت صَديقه فليس بمتوكل.

ژباړه: ابراهیم بن ادهم وايي چې زه یوځل صحرا ته ووتلم ،په داسې حال کې چې توکل کونکی وم په الله تعالی باندې، نو پس ما په هغې کې تر ډیرې اوږدې مودې پورې هیڅ هم مونده نه کړل د خوراک لپاره، نو زړه ته مې راغله چې یو ملګري کره لاړشم او د هغه نه خوراک وکړم نو یو اواز وشو په ما باندې دا (اواز) چې الله ځمکه د توکل کونکو څخه پاکه کړې ده، نو ما وویل چې دا اواز د څه شي و، نو بیا راته اواز وشو چا چې دا اراده کړې ده چې د دوست د کور څخه خوراک وکړي، نو دا کس توکل کونکی نه دی.

نو اوس وګورئ عزتمندو! تصوف ته دا او دیته ورته دغه شیطاني اوازونه دین ښکاره شوي دي او همدا يې عقیده جوړه شوې، چې بې ضرورته ولږېږي او خلوتونه برداشت کوي او د بدن هغه حقوق چې الله يې ادا کول په بنده لازم کړي دي، د هغې ضیاع او نه اداء کول ورته شریعت ښکاري، په دې باب کې ابتدایي درسونو کې مونږ د دوی دا قسم ډیر کارونه د نبي صلی الله علیه وسلم د سنت ضد او برعکس ثابت کړي، دغه ډول دا هم وګورئ چې مطلب د دې عبارت د عطار دا دی چې ځمکه کې بل متوکل نه و، بس صرف همدا ابراهیم یوازې و، بل دا چې د دوست د کور څخه خوراک کونکی متوکل علی الله نه وي او حال دا چې نبي صلی الله علیه وسلم په بې شمیره مقاماتو کې د خپلو ملګرو په کورونو کې خوراک کړی دی، وروسته له دې چې اوږدی شوی او د ولږی د ماتولو دپاره يې هیڅ هم په خپل کور کې نه دي موندلي، دغه ډول صحابه کرامو هم د خپلو ملګرو سره د هغوی په کورونو

کې خوراکونه کړي نو د تصوف د قاعدې په بناء نعوذبالله منها هغوی متوکلین نه وو؟

دغه ډول په تذکرة الأولياء للعطار صــ۱۷۱ کې عطار صوفي دا هم لیکلي دي چې:

علي سيرجاني صوفی یوه ورځ د شجاع الدين کرماني دقبر په خوا کې د الله څخه وغوښتل چې ده ته یو میلمه راولیږي چې دا ورسره یو ځای خوراک وکړي نو وایي إذ جاء كلب فطرده ,(ژباړه) نو دې وقت کې ورته یو سپی راغی او هغه وشړلو نو وایي فهتف هاتف: تطلب ضيفا ثم تطرده.

ژباړه: نو یوه اواز کونکي ورته اواز وکړ چې ته میلمه غواړې او بیا یې واپس شړې نو وایي: فحزن جدا وخرج للبحث عنه ووجده في برية فقدم إليه طعاما فلم يأكل فتاب الشيخ إلى الله وأناب إليه فنطق الكلب: أحسنت يا شيخ لو عمِلت هذا الصنيع بموضع غير ضريح الشيخ شجاع الدين لعوقبت عقابا شديدا.

ژباړه: نو بس دا په دې اواز ډیر غمجن شو او د هغه په لټون پسې بهر شو او هغه یې په یو صحرا کې ومونده، نو طعام یې ورته وړاندې کړ، نو هغه ونه خوړ، نو پس شیخ توبه وویسته الله ته او رجوع یې وکړه هغه نو پس سپي ورسره خبرې وکړې ورته یې وویل: چې ښه کار دې وکړ ای شیخه! که چرته دا کار تا د پیر شجاع الدین د قبر نه پرته په بل کوم ځای کې کړی وای، نو خامخا به سخترین عقاب سره مخ شوی وای په ځای د دې چې مونږ په دې واقعه تعلیق وکړو او د بطلان وضاحت یې وکړو نو دغه فرصت عوامو مسلمانانو ته ورکوو هغوی دې په دې کې سوچ وکړي دغه سوال بل ځای نه کېده چې قبر سره یې کولو ایا دا قبرستي او هغې ته دعوت او بلنه نه ده؟

دویم داچې سپي سره خوراک کول اسلام جایز گرځولي دي؟

درېیم داچې سپي ته ضیافت کول په اسلام کې جائز دي؟

څلورم دا چې دا اواز دچا و، وضاحت یې له صوفیانو څخه وغواړئ؟

پنځم داسې غوره و او که صوفي سیرجاني په دې اړه له صوفیانو څخه وضاحت طلب کړئ؟

شپږم داچې سپي ته څنگه دغه علم و، چې که سیرجاني صوفي دا کار د بل قبر خوا کې کړی وای ، نو سخت عاقبت سره به مخ شوی وی.

الغرض داسې ډیرې نور ثبوتونه لرو او شته چې د داسې قسم اوازونو ډیرې واقعات او حکایات په کې صوفیانو نقل کړي او لیکلي او د خپلو معتقداتو لویه برخه یې په دی ودرولې ده، فإلی الله المشتكى وبه المستعان ولاحول ولا قوة الا بالله.

(الردّ القوي)

(علي عقيدة الرؤية في الدنيا بعدالوفاة للنبي)

۹: هغه څه چې صوفیانو د خپلو معتقداتو د پاره اصل او مأخذ گرځولي دي، هغه د دوی په زعم او گمان سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ویښه او بیدارۍ کې لیدل او د هغه سره خبرې کول او د هغه نه احکام او مسائل أخذ کول دي.

نو عزتمندو مسلمانانو! د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د لیدلو اړوند د أهل علمو دوه قوله دي:

(۱) په خوب کې د هغه لیدل دي.

(۲) په ویښه د هغه لیدل دي وروسته د وفات نه.

نو په خوب کې لیدلو باندې اتفاق دی د أهل علمو، چې دا لیدلی شي دې باب کې ډیرې صحیح احادیث راغلي دي، چې همدا موقف ثابتوي البته د لیدو د صحت او تیقن د رؤیت د پاره یې علماوو یو څو شروط ذکر کړي چې دا مخکې غالباً اجمالي طور سره مونږ ذکر کړي و

او کوم چې دویم قسم لیدل دي، چې هغه په ویښه لیدل دي، نو د دی قسم لیدلو په بطلان باندې د مسلمانانو اتفاق دی ،ځکه چې دوی په دې اتفاق لري چې نبي صلی الله علیه وسلم وروسته د وفات څخه تر قیامته نه لیدل کېږي اونه لیدل شوی دی او که څوک دا دعوی کوي نو دعوی به یې باطله او دغه انسان به په حقیقت د دعوې کې دروغجن وي، د صحابوو، تابعینو او اتباع تابعینو محدثینو فقهاوو او دا ډول تر ننه د هیڅ صحیح العقیده انسان نه دا نه ده ثابته چې هغوی کې

یو کس دا دعوی کړې وي، چې هغه نبي صلی الله علیه وسلم وروسته له وفات څخه په ویښه لیدلی وي.

خو دا صرف د تصوف د صوفیانو کمالونه دي، چې په دې باب کې یې داسې لړل کړي، چې کشران یې د پاکولو په چل نه پوهیږي، دوی په دې باب کې څه ویلي، د هغې له جملې څخه د مشت نمونه خروار په توګه راځو او د یو څو صوفیانو چټیات را اخلو، د تصوف د تیجاني طریقې ډلې والا چې دا یوه غلو کونکې ډله ده، د دې ډلې د باني احمد تیجاني چې دا تقریباً په ۱۲۳۰ هـ کې مړشوی، د ده متعلق تیجاني صوفیانو په فتح الرباني ص۸۲ کې لیکلي دي چې " إن من کرامات التیجاني رؤیة النبي صلی الله علیه وسلم یقظة دائما أبدا بحیث لا یغیب عنه طرفة عین وسؤاله له عن کل أمر ومشاورته في کل شيء دق أو جِل والتربیة علی یدیه"

ژباړه: بیشکه د تیجاني له کراماتو څخه هغه لیدل د هغه دي نبي صلی الله علیه وسلم لره په ویښه همیشه او هر وخت په داسې ډول چې د سترګو د رپ په اندازه به نه تري غایب کېده دغه راز(د هغه له کراماتو څخه) پوښتنه کول، د هغه (تیجاني) دي، د هغه (یعنی دنبي صلی الله علیه وسلم نه) د هر کار متعلق او مشوره کول د ده دي د هغه سره په هر کار کې باریک وي او که غټ او تربیت حاصلول د (تیجاني) دي په لاسونو د هغه دي.

نو وګورئ مسلمانانو د دې مغربي تیجاني نه یې سم صحابي جوړ کړی و بلکې صحابوورخو په ژوند هم نبي صلی الله علیه وسلم داسې نه دی لیدلی لکه د ده متعلق چې نقل دي، ځکه دوی وایي چې د سترګو د رپ په مقدار به له ده څخه پناه کېده او دا هم وروسته د وفات د نبي صلی الله علیه وسلم څخه نو درواغ نور څه ته وایي هغه د عوامو د متل موافق به ووایم که درواغ ګډ او چیلی وای نو د دې صوفیانو پسې به یې چغې او رمباړې وهلې وای بل دا چې تیجاني صوفیانو خو لا بیخي عارف ته دا لازمه کړې چې دا مقام عرفان ته تر هغې نه شي رسیدلای چې ترڅو نبي صلی الله علیه وسلم په ویښه ونه ویني په رماح حزب الرحیم ۱/۱۹۹ کې لیکي:

ولا یکمل العبد في مقام العرفان حتی یصیر یجتمع برسول الله صلی الله علیه وسلم یقظة ومشافهة.

ژباړه: او د عرفان مقام کې بنده کمال ته نه شي رسیدلای تردې چې د نبي صلی الله علیه وسلم سره په ویښه مشافهة ملاقات ونه کړي.

زمونږ ردّ په دې دا دی که صحابوو ته د دوی په زعم د دې ضرورت نه و نو تابعین خو د دوی په نزد د عرفان په مقام کې بیخي کمال ته نه دي رسیدلي، ځکه چې هغوی کې یو هم نبي صلی الله علیه وسلم په ویښه نه دی لیدلی، دغه ډول مشهور ایمه أربعه او محدثین رحمهم الله یوه هم چېرته نبي صلی الله علیه وسلم په ویښه نه دی لیدلی، سره د دې چې شپه او ورځ به یې سر او کار د احادیثو د حفظ، کتابت او قراءت سره و، خو صوفیان چې اکثر یې له حدیثونو څخه کرکه کوي او دي علم او د دي علم أهل ته په سپک نظر ګوري، هغوی نبي صلی الله علیه وسلم په ویښه ګوري ډیر دتعجب مقام دی، دغه ډول بغیة المستفید ص۷۹ کې د صوفیانو تقسیم په دې باب کې کوي او لیکي:

منهم من یری روحه في الیقظة متشکلة بصورته الشریفة، ومنهم من یری حقیقة ذاته الشریفة وکأنه معه في حیاته صلی الله علیه وسلم، وهؤلاء هم أهل المقام الأعلی في رؤیته صلی الله علیه وسلم.

ژباړه: ځینې له هغوی یعنې د تصوف د اولیاوو څخه هغه دي چې روح د هغه یعنې د نبي صلی الله علیه وسلم په ویښه ویني په داسې حال کې چې متشکل شوی وي، په شریف صورت د هغه کې او ځینې (اولیاء) داسې دي چې هغوی حقیقي ذات شریف د هغه ویني داسې ګویا چې دا د هغه سره په ژوند د هغه صلی الله علیه وسلم سره مخ شو او دغه قسم خلک همدوی د اوچت مقام والا دي په اعتبار د لیدو د هغه سره.

دا شوه د تصوف خبره خو مونږ دلته خپل جواب بیا را معاد کوو چې په امت کې د یو عالم امام

او فقیه نه د لیدو دغه ډول صورت نه دی نقل او تاسې یې ځانته ثابتوئ اخر په کوم دلیل؟

دغه ډول شعراني صوفي دابوالمواهب شاذلي متعلق لیکي چې هغه ویلي دي: انقطعت عن رؤية رسول الله صلى الله عليه وسلم مدة فحصل لي غم بذلك فتوجهت بقلبي إلى شيخي يشفع في عند رسول الله صلى الله عليه وسلم، فحضر عنده رسول الله صلى الله عليه وسلم، فقال: ها أنا فنظرت فلم أره فقلت ما رأيته، فقال: عليه الصلاة والسلام سبحان الله غلبت عليه الظلمة، وكنت قد اشتغلت بقراءة جماعة في الفقه، ووقع بيني وبينهم جدال في إدحاض حجج بعض العلماء، فتركت الاشتغال بالفقه، فرأيته.

ژباړه: زه څه موده د نبي صلی الله علیه وسلم د لیدو څخه بې برخې شوم نو زه سخت غمجن شوم په دې باندې نو ما مراقبه کې خپل پیر ته توجه وکړه، چې زما متعلق نبي صلی الله علیه وسلم ته سفارش وکړي، نو نبي صلی الله علیه وسلم هغه ته حاضر شو نو ویې ویل: دا دی زه دا یم نو ما چې وکتل ومې نه لیده، نو ما پیر ته وویل چې ما خو ونه لیده، نو نبي علیه السلام وفرمایل سبحان الله تیاره وربانده غالبه شوې او زه دغه وخت یوې ډلې سره د فقهې په قراءت مشغول وم ،په دې چې زما او د دوی ترمنځه د بعضې علماوو د دلائلو د بطلان جګړه شروع وه، نو ما دغه شغل پریښوده نو پس بیا مې له هغې وروسته ولیده [طبقات الکبری ۲/۶۷].

دلته هم ښه غور وکړئ، یاد صوفي وایي چې ما به همیشه نبي صلی الله علیه وسلم لیده!! بیا چې کله د هغه ملاقات بند شو، نو توجه یې خپل پیر ته وکړه، نو پیر ورته د ملاقات ترتیب برابر کړ، بیا دا هم ده چې ده ته بیا هم نه ښکاریده ولې چې دا د علماوو په فقه کې مصروف و او عجیب لا دا چې دا صوفي وایي چې دغه د فقهې علم ته نبي صلی الله علیه وسلم تیاره وویله، ځکه چې دا وایي مونږ د فقهې بحث کې د اهل علمو د دلایلو بحث کې مصروف وو، نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې تیاره وربانديي راغلې ده، نو دې سره ما هغه بحث پریښوده، نو بیا مې ولیده نو هسې که چا ته الله لږ عقل هم ورکړی وي، نو هغه دې لږ د دې صوفي دې خبره کې ښه سوچ وکړي بطلان به یې ورته په اسانه ښکاره شي

راشئ بله یې واورئ: عبدالوهاب شعراني صوفي د جلال الدین رفاعي صوفي متعلق په قلادة الجواهر ص۴۲۲ کې لیکي: چې أنه رأى النبي صلى الله عليه وسلم في اليقظة بضعا وسبعين مرة.

ژباړه: بې شکه ده نبي صلی الله علیه وسلم په ویښه څه دپاسه اویا (۷۰) ځله لیدلی دی.

دا لا څه کوې بلکې دا عبدالوهاب صوفي د أحمد ابوالعباس مرسي پیر متعلق لیکي: وكان رضي الله عنه يقول لي أربعون سنة ما حجبت عن رسول الله صلى الله عليه وسلم ولو حجبت طرفة عين ما عددت نفسي من جملة المسلمين.

ژباړه: او دغه مرسي پیر و، چې ویل به یې زما څلویښت کاله وشولو چې زه د نبي صلی الله علیه وسلم څخه نه یم بند کړای شوی او که زه به کله د سترګې د رپ په مقدار د هغه د لیدلو څخه بې برخې شوم، نو ځان به مې (دغه وخت) د مسلمانانو څخه نه شمیرلو.

[طبقات الکبری للشعراني ۲/۱۳]

نو که د صوفیانو دا خرافات حق او صحیح تسلیم شي نو بیا خو دوی واړه صحابه شول، ځکه د صحابي تعریف هم دا دی چې صرف یوځل یې په ویښه نبي صلی الله علیه وسلم لیدلی وي، بس دا کس صحابي ګڼل کیږي. خو صوفیان یې بار بار ګوري نور د دوی او د صحابوو ترمنځه فرق په څه کې پاتې شو؟ تاسو وواياست د صحابه کرامو منزله خو لاړه ډېره وړې شوه د دوی د لاسه، بیا د دوی مریدان هغه لاړه تابعین شو، خو مسلمانان په دې پوهیږي، چې دوی ته ښکاره شوی شخص نبي صلی الله علیه وسلم نه بلکې شیطان دی او شیطان همیشه خپلو دوستانو ته ځان ښکاره کوي او همدا یې د تباهی سبب ګرځي ، دغه ډول بل د تصوف

پیر او صوفي عبدالله بن أبي جمرة الأندلسي دا هم یو له هغوصوفیانو څخه و، چې ده به هم دا دعوی کوله چې دا نبي صلی الله علیه مخامخ په ویښه ویني او مشافهة ورسره خبرې کوي ، چې د ده د همدې دعوې په وجه د سیمې عوامو مسلمانانو د ده نه براءت اعلان کړ او دایې په خپلو مجلسونو باندې بندکړ، او کور کې نظر بند و، تر دې چې په خپل کور کې په ٦٧٥ هـ کې ورته مرګ راغی دا واقعه هم عبدالوهاب شعراني په طبقات الکبری ١/١٧٢ کې ذکر کړې ده.

عزتمندو مسلمانانو! د متقدمینو صوفیانو داسې ډیرې نوري درواغجنې کیسې هم شته چې د حد او اندازې څخه زیاتې دي، دغه څو د هغې څخه کافي وګڼې اوس راځو او په دی باب کې د متأخرینو قبوریه دیوبندي صوفیانو هم یو څو وسوسې ذکر کوو: لیهلک من هلک عن بینة ویحی من حي عن بینة په ارواح ثلاثة ص ٣٤٣ کې لیکي:

دیوان محمد یسین مرحوم جو حضرت نانوتوی رحمة الله علیه کے خدام میں سے تھے فرماتے ہیں کہ میں ایک دفعہ چھتہ کی مسجد کے شمالی گنبد کے نیچے ذکر جہر میں مصروف تھا کہ حضرت رحمة الله علیه مسجد کے صحن میں اسی شمالی جانب مراقب اور متوجہ تھے اور توجہ کا رخ میرے ہی قلب کی طرف تھا اسی اثناء میں مجھ پر ایک حالت طاری ہوئی اور میں نے بحالت ذکر دیکھا کہ مسجد کی چار دیواری تو موجود ہے مگر چھت اور گنبد کچھ نہیں بلکہ ایک عظیم الشان روشنی اور نور ہے جو آسمان تک فضاء میں پھیلا ہوا ہے۔ یکا یک میں نےدیکھا کہ آسمان سے ایک تخت اتر رہا ہے اور اس پر جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف فرما ہیں اور خلفائے اربعہ ہر چہار کونوں پر موجود ہیں۔ وہ تخت اترتے اترتے بالکل میرے قریب آکر مسجد میں ٹھہر گیا اور آنحضرت صلی الله علیه وسلم نے خلفاء اربعه میں سے ایک سے فرمایا کہ بھائی ذرا مولانا محمد قاسم کو بلالو۔ وہ تشریف لے گئے اور مولانا کو لے کر آگئے۔ انحضرت صلی الله علیه وسلم نے ارشاد فرمایا کہ مولانا مدرسہ کا حساب لائیے عرض کیا حضرت حاضر ہے اور یہ کہ کر حساب بتلانا شروع کیا اور ایک ایک پائی کا حساب دیا۔ حضرت صلی الله علیه وسلم کي خوشی اور مسرت کي کوئی انتہا نہ تھی۔ بہت ہی خوش ہوئے اور فرمایا اچھا مولانا اب اجازت ہے حضرت نے عرض کیا جو مرضی مبارک ہو۔ اس کے بعد وہ تخت آسمان کي طرف عروج کرتا ہوا نظروں سے غائب ہو گئی .

ژباړه: مرحوم دیوان محمد یاسین چې د نانوتوي صاحب له خدمت کوونکو څخه و، هغه فرمایي: یو ځل د چیته سیمې جومات له شمالي ګنبدې څخه لاندې په جهري (لوړ غږ) ذکر مصروف وم او حضرت د دې جومات د انګړ او غولي شمالي لور کې متوجه و چې مراقبه یې کوله او د هغه د توجو مخ زما د زړه په لور و، په دې وخت کې په ما یو حالت راغی او د ذکر په حالت کې ما ولیدل چې د جومات څلور دېوالونه موجود دي خو چت او ګنبد نه و، بلکې یوه ډېره غټه رڼا وه چې تر اسمانه خپره شوې وه، ناڅاپه مې ولیدل چې له اسمان څخه یو تخت په ښکته راروان دی او په هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ناست دی او څلور واړه خلفاء یې څلور لورو ته شتون لري، هغه تخت لاندې راټللو، تردې چې بیخي نږدې راغی او په جومات کې ودرید او نبي صلی الله علیه وسلم خپلو خلفاوو کې یوه ته وویل: ورور لږ مولانا محمد قاسم ته غږ کړه. هغه لاړ او مولانا یې له ځان سره راوستلو، نبي صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه: مولانا د مدرسې حساب راوړه هغه ورته وویل: حضرت صلی الله علیه وسلم دا دی حساب حاضر دی.

له دې ویلو سره یې ورته حساب کتاب پیل کړ او د یوې یوې روپۍ حساب یې ورکړ، د حضرت صلی الله علیه وسلم د خوشحالۍ څه حد نه و، ډیر خوشحاله

شو بیا یې ورته وویل: اوس اجازت دی، هغه ورته وویل ځنگه چې ستاسو خوښه وي، له دې وروسته دغه تخت د اسمان لور ته پورته شو او په همدې توگه هغه تخت له سترگو پناه شو.

[ارواح ثلاثة صـ۳۴۳]

دا د هندوستان د مشرک اوطاغوت اکبر نظام په مرسته اوچاندو جوړه شوې د دیوبند مدرسه چې د تصوف قبوریت، پیرپرستی او وطنیت په نظریه اوعقیده ولاړه مدرسه ده، د دې د حساب اخستو لپاره نبي صلی الله علیه وسلم راځي، خو بل طرف دا نبي صلی الله علیه وسلم د خلفاء راشدینو د خلافتونو د بیت المال او نورو اخراجاتو د حساب غوښتنې لپاره رانغلو، خو د دیوبندي قبوریانو د حساب غوښتنې لپاره راځي، دا فضیلت دوی ته اخر په څه حاصل شوی دی؟

داسې خو به نه وه چېرته چې قاسم نانوتوي د مدرسې د خرچې په مال کې د خیانت د الزام لاندې و او ملگرو یې دا ډرامه د شک د ختمولو لپاره جوړه کړې وه، ځکه دا قسم بې حقیقته خلاف الواقع حکایات دې قوم کې د کتاب اوسنت نه زیات د قبولیت قابل وي؟! دغه ډول راشئ او دېته ورته یوه بله کیسه واورئ:

امداد الله مکي وایي:

میں اکثر دیکھتا ہوں کہ حضور صلی اللہ علیہ وسلم تشریف لاتے ہیں اور اپنی رداء مبارک میں مجھے ڈھانپ کر کبھی اندر لاتے ہیں اور کبھی باہر لے جاتے ہیں۔ سوتے اور جاگتے یہی منظر آنکھوں کے سامنے رہتا ہے کہ حضور رداء مبارک لئے رہتے ہیں اور الگ کرنا نہیں چاہتے۔

ژباړه: زه اکثر گورم چې حضور صلی الله علیه وسلم راغلی وي او په خپل مبارک څادر کې ما پټ کړي، کله مې د باندې وړي او کله مې دننه وړي، په خوب او ویښه دا حالت زما په سترگو کې وي چې نبي صلی الله علیه وسلم سره خپل مبارک څادر وي او نه غواړي چې هغه له ځانه جدا کړي.

عزتمندو! دا امدادالله صوفي هغه کس دی، چې د خالق او مخلوق ترمینځه په فرق کولو قائل نه دی، د وحدة الوجود په بحث کې مونږ د هغه د دې نظریس وضاحت کړی دی، خو دلته یې گستاخی ته وگورئ چې وایي نبي صلی الله علیه وسلم مې په څادر کې اچوي او په شا مې گرځوي دا دومره لوی سړی شو چې نبي علیه السلام یې خدمت کوي؟! سبحان الله والله اکبر.

د دیوبندي صوفیانو بله خیالي کیسه ولولئ: د ارواح ثلاثه لیکونکی په صـ۴۳ کې د صوفی رشید احمد گنگوهي متعلق لیکي او وایي: هغه ویلي چې ایک مرتبہ شاہ ولی اللہ جب مرض موت میں مبتلا ہوئے تو مقتضائے بشریت بچوں کی صغر سنی کا تردد تھا۔ اسی وقت جناب رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم کو دیکھا کہ آپ تشریف لائے اور فرماتے ہیں کہ (تو کاہے کا فکر کرتا ہے جیسی تیری اولاد ویسی ہی میری) پھر آپ کو اطمینان ہو گیا۔

ژباړه: یو ځل کله چې شاه ولي الله د مرگ په ناروغۍ اخته و نو د بشري غوښتنې په اساس د بچیانو د وړوکوالي غم ورسره و، دغه وخت یې جناب رسول الله ولیدو چې هغه راغی او فرمایي: چې (ته د څه فکر کوې؟ لکه ځنگه چې ستا اولاد دی همدا ډول زما اولاد هم دی) بیا هغه ډاډمن شو.

عزتمندو! همیشه د قبر پرستو دا عادت وي ،چې د مشرانو خبرې بغیر د دلیل او بغیر د تحقیق څخه، لکه د قرآن د آیت په شان مني، په ځای د دې چې صوفي اشرف علي تهانوي دیوبندي قبوري دا خبره نقل کړې نو باید لومړی یې په دې څو خبرو کې سوچ کړی وی.

۱: ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم په غیبو پوهیده چې شاه ولي الله ته راغی چې دا نور وفات کیږي؟

۲: صحابوو کې د نبي صلی الله علیه د وفات نه روسته د شاه ولي الله نه ډیر بې کسه صحابه کرام وفات شوي دغه ډول تابعین اتباع التابعین وغیره صالح سلف ایا په دوی کې چا ته هم نبي صلی الله علیه وسلم راغلی دی؟

هسې مسلمانان دي د صحابه کرامو ترمنځه واقع شویو مشاجراتو کې فکر وکړي، فاطمه رضي الله عنها د ابوبکر رضي الله عنه نه د میراث د مطالبې په وجه خفه شوه اګر چې دا خفګان تر لږ وخته و، ځکه هغې د خپل باباجان میراث غوښته خو ابوبکر رضي الله عنه ورته مرفوع حدیث ذکر کړ، چې ما د نبي صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې هغه وفرمایل «نحن معاشر الأنبياء لا نورث وما تركنا صدقة»

ژباړه: مونږ دانبیاوو ډله یو مونږ میراث کې نه وړل کیږو او هغه څه چې مونږ وروسته (دکوم مال څخه) پریږدو هغه صدقه وي.

واقعه د صحیح البخاری په شمول ګڼو کتابونو د احادیثو کې موجوده ده، خو نبي صلی الله علیه وسلم د دوی ترمنځ د جوړې او تسلی په پار تشریف رانه وړ، جنګ جمل کې چې عائشه مور طلحه او زبیر رضي الله عنهم اجمعین یو طرف وو او علي رضی الله عنه او د هغه ډله بل طرف وه، خو نبي صلی الله علیه وسلم د دوی ترمنځه د جوړې او تسلی په پار تشریف رانه وړ!! د معاویه رضي الله عنه او د علي رضي الله عنه ترمنځه دخونریزو جنګونو د بندولو او د دوی ترمنځه د روغې د پاره نبي صلی الله علیه وسلم تشریف رانه وړ، دحسین رضی الله عنه سر مبارک له تنې څخه جدا کیږي او په بې رحمی سره د خپلو ښځو او ماشومانو ترمخه قتلیږي.

خو نبي صلی الله علیه وسلم د دفاع او یا هم د بشارت او یا هم د تسلیت لپاره تشریف رانه وړ خو عجیبه دا ده چې د صوفیانو د بوټ تسمه شلیدلي نه وي، بیا دوی ته حاضر شوی وي عجیب کرامات او فضائل دي بله دا چې

٣: درییمه خبره چې سوچ په کې په کار دی دا چې رازق الله دی که رسول الله صلی الله علیه وسلم؟

شاه ولي الله ته د هغه د بچو داسې ضمانت کول چې د دوی غم مه کوه ستا بچي زما بچي دي، د روزی دغه ډول کفالت دا غیر د الله نه د بل چا واک او اختیار کې شته؟

٤: بله دا چې د شاه ولي الله نه ګنګوهي ته دا نقل کوم سند باندې راغلی دی، ګنګوهي ته چا وویل؟

٥: دا چې څوک په ویښه نبي صلی الله علیه وسلم ویني، ده ته په اجماع د مسلمانانو صحابي ویل کیږي، نو اوس دغه دیوبندیان قاسم نانوتوي دیوانه محمد یسین، شاه ولي الله ،حاجي امدادالله وغیره ټول خو لاړل صحابه کرام شول او د دوی لیدونکي ټول تابعین شول.

افسوس! په څومره سپین سترګی او څومره جرأت ښکاره او علني د رسول الله صل الله علیه وسلم او صحابه توهین کوي خو نوم ورته د محبت او عبادت ورکوي او ورځ تر بلې یې په دوکو او درواغو خلک غولیږي، انا لله وانا الیه راجعون.

د دیوبندي صوفیانو د همدې پیر اکبر صوفي حاجي امداد الله بل درواغ واورئ د خپل تصوف د بدعي بیعت متعلق په رسول الله صلی الله علیه وسلم درواغ تړي او وایي:

میری بیعت باطن بلا واسطہ خود رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم سے اس طرح ہوئی کہ میں نے دیکھا کہ حضور ایک بلند جگہ پر رونق افروز ہیں اور حضرت سید احمد شہید کا ہاتھ آپ کے دست مبارک میں ہے اور میں بھی اسی مکان میں بوجہ ادب کے دور کھڑا ہوں حضرت سید صاحب نے میرا ہاتھ پکڑ کر حضور کے ہاتھ میں دے دیا ۔ خدا نے مجھ کو کچھ اور بھی دکھایا ہے اگر کہہ دوں تو تم لوگ کچھ کا کچھ کہو گے [شمائم امدادیہ صـ١٠٨]

ژباړه : زما باطني د (تصوف) بیعت له کومې واسطې پرته له نبي صلی الله علیه وسلم سره داسې شوی دی، چې ما ولیدل چې نبي صلی الله علیه وسلم په یو لوړ ځای کې ناست دی او د حضرت سید احمد شهید لاس د هغه په مبارکو لاسونو کې دی او زه هم په دغه ځای کې د ادب له امله لرې ولاړ وم، حضرت سید احمد شهید زما لاس ونیوه او د نبي صلی الله علیه وسلم په

لاس کې یې کېښود، الله تعالی ما ته نور څه هم وښودل، که زه هغه ښکاره کړم نو تاسې به څه څه وواياست. [شمائم امدادیه صـ۱۰۸]

دغه امدادالله صاحب (!) خو نور هم وه وېرولو چې دا نور به څه وي، چې که دایې ووایي نو ملګري به یې څه، څه ووایي، بس دا پټې بلاوې یې پټې شې دي، ځکه چې دا کومې یې چې ښکاره کړې همدا یې بس دی، که پټې یې هم ښکاره کړې وای نو ریښتیا به هم ډېره عجیبه وای

دا شوې د ده خپلې کارنامې اوس یې د بل نه چې نقلوي دا هم واورئ. حاجي امداد الله صوفي دیوبندي په شمائم امدادیه دویمه حصه ۷۵ کې داهم وایي: مولوي قلندر صاحب کو ہر روز زیارت رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم کې ہوتی تھی۔ ایک دن کسی جمال کے لڑکے کو کہ سید بھی تھا طمانچہ مارا۔ اس دن سے زیارت منقطع ہو گئی۔ مدینہ منورہ کے مشائخ سے رجوع کیا۔ انہوں نے ایک زن ولیہ مجذوبہ کے حوالے فرمایا جب وہ عورت مسجد نبوی میں آئی اور مولانا نے عرض کیا، سنتے ہی جوش میں آئی اور مولانا کا ہاتھ پکڑ کر کہا۔ "شف هذا رسول اللّٰه صلی الله علیه وسلم " پس (مولانا نے) بیداری میں چشم ظاہر سے زیارت کي۔ اس سے پہلے اس لڑکے سے خطاء بھی معاف کرائی تھی مگر کچھ مفید نہ ہوا۔

ژباړه: چې مولوي قلندر صاحب سره به هره ورځ د نبي صلی الله علیه وسلم ملاقات کېدو، یوه ورځ یې یوه ښایسته سید هلك ته څپېړه ورکړه نو له دې ورځې وروسته په هغه ملاقات منعه شو، د مدینې منورې مشائخو ته یې رجوع وکړه، هغوی یوې ښځینه ولی مجذوبې (لیونۍ) ته حواله کړ، کله چې هغه ښځه نبوي جومات ته راغله او مولانا صاحب ورته ووېل، د دې په اورېدو سره هغه په جذبه کې شوه او د مولانا صاحب لاس یې ونیوه او ورته ویې ویل: ﴿شف هذا رسول الله صلی الله علیه وسلم﴾ نو مولانا صاحب د بیدارۍ په حالت کې نبي صلی الله علیه وسلم ولیدلو، له دې څخه وړاندې هغه هلك څخه د دې خطا بښنه هم غوښتل شوې وه خو څه ګټه یې ورته نه وه کړې.

هر ځانته مسلمان ویونکی دې دا کیسه وار په وار ولولي او دا څو پوښتنې دې د صوفیانو څخه وکړي.

۱: د دې څپېړې علم نبي صلی الله علیه وسلم ته شوی و، چې هغه ورسره ملاقات کول ترک کړل؟

۲: نبي صلی الله علیه وسلم له وفات څخه وروسته په خپل جومات کې څه کوي؟

د دې د خبرې په اساس که نبي صلی الله علیه وسلم په دې ځای کې شتون لرلی، نو بیا په دې ځای کې امامت کوونکي خلک (جماعت ورکوونکي امامان) څومره بې ادبه دي، چې نبي صلی الله علیه وسلم موجود دی او دوی امامتي ورکوي؟

۳: د مولوی قلندر لاس یوه پردۍ زنانه ښځه او په کوم دلیل نیسي ؟

۴: د هلک ذکر کولو سره د خائسته توب ذکر ته ضرورت څه و؟

ایا صوفیان خو به د عقیدې د غلا اوخیانت سره سره د عزتونو غله او خائنان نه وي؟

لاحول ولاقوة الا بالله

دا واخلئ یوه بله ننداره هم وګورئ همدا صوفی حاجي امداد الله په شمائم امدادیه ۲/۶۳ کې لیکي: حضرت سید حسن دہلوی کہ ملقب بہ رسول نما ہیں دو ہزار روپیہ لے کر زیارت رسول صلی اللہ علیہ وسلم سے مشرف کرتے تھے۔

ژباړه: حضرت سید حسن دهلوي چې هغه ملقب په رسول نما سره و، هغه به دوه زره روپۍ اخیستې او د هغې په مقابل کې به یې له نبي صلی الله علیه وسلم سره د خلکو ملاقات کولو، دا اوس نور سوالونه پیدا کوي، چې مهم په کې دا دی چې د نبي صلی الله علیه وسلم حتمي ملاقات کول د خلکو سره د دوه زره روپو په بدل کې دا د ده اختیار کې ځنګه راغلي وو او دا حق د تصرف ده ته چا ورکړی و؟

د عافيي د وا
معتصماه غږ ته به
څوک
لبیک ووايي؟!

د حق او باطل ترمنځ د معرکې له لومړیو تر اوسه تل په حقپرستو مؤمناتو زنانه وو باندې تکالیف راغلي، که د فرعون په زمانه کې د آسیا رضي الله عنها او ماشطې رضي الله عنها حال ته وګورو چې د حق لپاره یې څومره ظلمونه برداشت کړل او څومره د حق په لاره کې شکنجه شوې، خو په دې هر څه یې صبر وکړ او که د اسلام په لومړیو وختونو کې وګورو چې کله باطل پرستو په مؤمنو زنانه وو خپل ستمونه شروع کړل، د رنګا رنګ ظلمونو ترڅنګ یې ځینې په شهادت ورسولې چې د سمیه رضي الله عنها کیسه خورا مشهوره ده، کومه چې د اسلام لومړۍ شهیده بلل کېږي.

اسلام د دغو شان کمزورو، بیوسو او مستضعفینو د نجات لپاره جنګ مشروع وګرځاوه، الله عز وجل فرمایي {وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا وَاجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنكَ نَصِيرًا} [النساء].

ژباړه: اخر څه دلیل دی، چې تاسې د الله په لاره کې د هغو بیوسو نارینه، ښځو او ماشومانو په خاطر نه جنګېږئ چې کمزوري کړای شوي، تر فشار لاندې نیول شویدي او فریادونه کوي چې: «اې زموږ ربه، موږ له دې وطنه چې اوسیدونکي یې ظالمان دي وباسه؛ او له خپل لوري څخه زموږ کوم سرپرست او مرستندوی پیدا کړه.»

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (د **مؤمنانو مثال د یو بل سره په محبت، رحم کولو او شفقت کې د یو جسد په خبر دی، که چیرې د بدن یو غړی مریض وي ټول بدن ورسره شبکیر (بې خوبه) وي او ټول بدن ورسره تبې نیولی وي**) [متفق علیه].

نن د همدغه ایماني آزموینې ورځ ده، نن به معلومه شي چې څوک رښتیني دي او څوک یوازې په خوله د مؤمنانو سره د ورورۍ چیغې وهي؟!

نن دا دی بیا د خلکو ایمانونه تلل کېږي چې د کمزورو او بیوسو مؤمنانو د نصرت لپاره څوک ډګر ته رادرومي او څوک راوتلي او د کفري نړۍ او د هغوی د لاسپوڅو طواغیتو له وحشي پنجو د وخت سمیه، ماشطه او آسیا رضي الله عنهن خلاصوي؟!

نن بیا یوې مسلمانې خور عافیې صدیقې په اسلامي امت د وامعتصماه! غږ کړی دی!

نن به بیا داسې څوک پیدا شي چې د یوې مسلمانې خور د ناهیلی اوښکو ته د وخت محمد بن قاسم او معتصم بالله شي چې هند د راجه ګانو او نورو وحشي کفارو څخه خپلې خویندې را آزادې کړي؟!

ای اسلامي امته! چاته مو سترګي دي چې د عافيې په څېر زرګونه خويندې د کفارو او طواغيتو له زندانونو آزادي کړي.

هو! زمونږ هره مؤمنه اسيره خور که په ختيځ کې وي او که په لويديځ کې خلاصون يې پر مونږ فرض او واجب دی.

د شام په مبارکه ځمکه د الهول په کمپ کې هره مهاجره خور عافيه ده .

د الروج په مخيم کې د طواغيتو په ځنځيرونو کې ترل شوي زمونږ هره خور عافيه ده.

د روافضو په زندانونو کې د وحشت او تورتمونو شپې تيرونکي هره مؤمنه خور عافيه ده.

د عراق په أبوغريب، تاجي، الناصريه او نورو زندانونو کې اسيراني مؤمناني خويندې هره يوه يې عافيه ده.

د طالب ملېشو په زندانونو کې سلګونه مهاجرې اسيراني خويندې هره يوه يې عافيه ده.

آيا د دې هرې يوې عافيې د خلاصون لپاره مو په اسلامي نړۍ حاکمانو هغو طواغيتو ته سترګي دي چې د دغو مؤمنو خويندو په اسارت کې د صليبي نړۍ سترګي، پښې او لاسونه دي.

آيا په شام او عراق کې هغو صحواتو او اربکيانو ته مو سترګي دي چې د جهاد په نوم اخيستو شرمېږي او د سعودي، قطر، ترکيې او امريکا لپاره پردي ناموسونه خو څه کوي له خپلو ناموسونو هم تېر دي.

او که نه هغه طالب ملېشو ته مو سترګي دي چې د مؤمنو خويندو فقط يادول هم ورته سختدريځي او له حکمته لرې خبره ښکاري.

هغه طالب مليشې چې زندانونه د عافيه صديقې په څېر له سلګونو خويندو ډک دي.

هغه طالب ملېشې چې د مؤمنو مؤحدو زنانه وو سره يې دښمني د صليبي داړه مارانو څخه څو چنده زياته ده، چې د دوی په چاپو کې د خويندو شهادتونه او له مؤمنو خويندو ډک زندانونه د دې خبرې ښه ښکارندوی دي.

دوی که حاجي بشر نورزی د مخدره توکو غټ قاچاقبر له امريکايانو راخلاصولای شي، نو د عافيې خلاصون هم لويه خبره نه ده.

دوی سره د دې چې عافيه صديقه د کيوبا او ګوانتنامو له دوزخه نشي ژغورلای؛ خو د هماغه صليبيانو د خوشالولو لپاره بيا کولای شي خراسان کې د مؤحدو خويندو لپاره دوزخ جوړ کړي.

هغه طالب مليشې چې په ترکيا کې د ديموکراسۍ د بريا لپاره په مبارکې ورکولو کله له هر کافر او منافق وړاندې کېږي، خو د مظلومو خويندو د خلاصون او نصرت په پار تش غږ هم نه شي پورته کولی دوی د صليبي نړۍ د خوشالۍ لپاره تل دا خبره کوي چې مونږ د بل چا په کورنيو چارو کې لاسوهنه نه کوو، د دې څخه يې هدف دا دی چې ځان ته براءت ورکړي تر څو خلک ترې ونه پوښتي چې په غربي هيوادونو کې د مظلومو اسيرو خويندو غم وخوړئ؟

نو په ايران کې د بېوسو اهل سنتو اسيرانو غم به څوک خوري؟

له طالبه دا تمه لرئ چې دوی به دا توره وکړي ؟

دوی خو د همغه روافضو پسې اقتدا کړي ده ، هغوی پسې لمونځونه کوي ، د هغوی امنيت ساتي د هغوی د شرکي مراسمو ساتنه کوي.

د ايغور د کمزورو او مظلومو مسلمانانو غم به څوک خوري؟

څنګه د آی ايس آی مزعوم امارت ته دا تمه لرئ ؟

دوی خو تاسې ګورئ چې د ایغور د محکومو مسلمانانو قاتلانو او ناموس لوټونکو سره اوږې جنګوي ، هغوی ته جنغوزي ډالۍ کوي چې نور یې هم سپرم زیات شي ، هغوی سره خه مسته یارانه او دوستانه پالي .

او همدارنګه د عافیې په شمول د غرب او اروپا په زندانونو کې د بندیو مسلمانو خویندو د خلاصون تمه ترې لرئ ، په داسې حال کې چې دوی همدغه ټولو کفارو سره پخه دوستي لري ، دوی اوس په غوږونو کې کفارو سره د سولې په نامه د تسلیمۍ داسې مالوچ ورننویتي چې داسې د معتصما غږونه نه اوري .

دوی پرېږده چې د امریکا ډاکو او وحشي ولس ته د نجیب او شریف اولس خطاب وکړي .

دوی پرېږدئ چې امریکا ته د دښمن نه، بلکې د دوست په سترګه وګوري .

دوی پرېږدئ چې په ورسپارل شوي خاوره کې د سیلانیانو په نامه د کفارو د راغلو ایجنټانو هر کلی وکړي او خه میلمستیاوې او منظرې ورکړي .

دوی پرېږدئ چې له همدې کفري ډیپلوماتانو د ساتنې لپاره مسلح مخکې او وروسته لاړ شي .

دوی خو سوله (!) ورسره کړې ، داسې سوله چې هیڅ نقض نه لري ، د عافیې په دې نارو او زارو دا سوله نه ماتیږي ، دوی له مخکې ورته وایي چې مونږ د چا په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوو، دا مظلوم مؤمنان مونږ پورې اړه نلري او دا د امریکا، غربي نړۍ، ایران، چین او نورو... طاغوتي او کفري هیوادونو کورنۍ مسئله ده، مونږ خو اوس هغه اسلام منلی چې ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې ته مقبول وي، مونږ اوس د وطنیت په نامشروعه پولو او کرښو کې راګیر یو، زمونږ امیرالمؤمنین ته خو دا نوم آی ایس آی فقط د خلکو د غولونې لپاره انتخاب کړې ، په نوم امیرالمومنین دی ، خو نور ورسره فقط د افغانانو خبره مطرح ده ، د وطنیت په کفري عقیده کلک ایمان او باور لري ، دوی اوس له هغه اسلامه بیزاره دي چې ملګري ملتونه یا ملل ملحده ته د قبول وړ نه وي، ځکه بیا ترینه طاغوتي ګاونډیان خفه کیږي، بیا ترینه غربي نړۍ مخ اړوي، بیا تنصیري مؤسسات او ملګري ملتونه ورته د ډالرو کڅوړې او نوري مرستې نه رالیږي ،ډالر نه رالیږي،بیا یې د رسمیت پیژندنې لړۍ ودریږي بیا نو ورته د کفارو په دې شریک کلي کې ژوند سختیږي.

ای امته! که نه ستاسې سترګې اوس هم مکارې صلیبي نړۍ ته دي چې د پرلپسې وحشتونو پسې یو بل وحشت هم تر سره کړي، یوځل بیا درځخه د عافیې په څېر زرګونه خویندې پورته کړې او بیا ورسره هغه وحشتونه

ترسره کړي چې قلم يې له ليکلو هم عاجز وي؟!

ای امته راويښ شه! د امت رښتيني ميړني او سربښندويان وپېژنه!

هغوی چې د اسلامي امت هره اسيره خور ورته عافيه صديقه ښکاري او د هرې اسيرې خور خلاصون په ځان فرض بولي.

هغوی چې د امت د مستضعفينو د نصرت لپاره يې کور، کلی، خپل خپلوان هر څه پرېښي او په دې لاره کې د سر او مال قربانۍ ته تيار دي.

هغوی چې د کفري نړيوالې ټولنې د قوانينو پرځای يوازې د الله قوانينو ته ژمن دي او له الله پرته بل هيڅ زور، قوت او ټولواک ته سر نه ټيټوي.

هغوی چې له شرعي سياست، شرعي مصلحت او شرعي حکمت پرته هيڅ ډول سياستونه، مصلحتونه او حکمتونه نه لري.

هو! دا د اسلامي دولت هغه اتل مجاهدين دي چې د اسلامي امت د هر ورور او هرې خور درد خپل درد ګڼي، د هغوی غم خپل غم ګڼي او د هغوی په خوښۍ خوشالېږي.

دا د طواغيتو په وحشي پنجو کې د عافيې په څېر زرګونه خويندې په سوال، زارۍ او ننواتو نه آزادېږي؛ دا قرباني غواړي، ککرۍ شيندل غواړي، سر او مال قربانول غواړي، له هر ډول طواغيتو او طاغوتي قوانينو براءت او بغاوت غواړي او دا کارونه يوازې او يوازې د اسلامي خلافت سپېڅلي مجاهدينو کړي او کوي يې .

نو د عافيې او عافيې د نورو مؤمنو خويندو د خلاصون تمه او د هغوی د وا معتصماه غږ ته لبيک ويونکي همدا د اسلامي دولت مجاهدين دي.

نو راځئ د دې سپېڅلي کاروان سره يوځای شئ، د امت مړاوې هيلې راژوندۍ کړې او يو ځل بيا د اسيرو مستضعفو خويندو د خلاصون لپاره د دې پاک لښکر سره يوځای شئ، تر څو مو خوارۍ رنګ راوړي او د صليبي داړه مارانو او د صليب له پرکټيو لاسپوڅو طواغيتو څخه د مظلومو خويندو او ورونو غچ واخلئ.

په ياد ولرئ که د مظلومو مؤمنانو ننګه ونه کړئ او بې ننګي مو وکړه نو لوی فساد به رامنځته شي، داسې ذلت او رسوايی سره به مخامخ شئ چې روان حالت به مو له ياده ووځي، الله تعالی فرمايي: ﴿ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ كَبِيرٌ ﴾ [الأنفال: 73].

ژباړه: «هغه کسان چې کافران دي، هغوی د يو بل ملګري دي، که چيرې تاسې دا کار (د مؤمنانو سره ملګرتيا او نصرت) ونه کړې په ځمکه کې به فتنه او لوی فساد جوړ شي».

نو د عافيه خور او نورو

اسيرو خويندو ازادي په شآرونو کې د مظاهرو او يا په ټولنيزه ميډيا د نارو خبره نه ده بلکې دا عملي قرباني غواړي چې د ټولې نړۍ کفارو او طواغيتو سره د عملي قربانۍ او مقابلې په ميدان کې يوازې د اسلامي دولت سربښندويان ولاړ دي ، نو راځئ چې د کفارو له زندانونو زموږ په زرګونو عافيې د ککريو په شيندلو را ازادي کړو ان شاء الله .

په شرعي(!) نظام کې
رافضي
محتسبين

الحمدلله وحده والصلاة والسلام علی من لا نبي ولا رسول بعده أمابعد:

کفري نړۍ ډېر عجیب او غریب کوششونه شروع کړي، چې څنګه او په څه طریقه د اسلام مبین او مبارک دین د خلکو تر منځه بې باوره، وروسته پاتې، د ستونزو زیږنده او نور ډېر غلط معرفي کړي، په همدې تړاو دوی هر وخت او ډول حالاتو ته په کتلو له هرې حربې څخه کار واخیست.

اوس نو دادی د حقیقي اسلامي نظام سربښندویان د اسلامي دولت غازیان د خوارجو، وهابیانو، سختدریځو، بې تهذیبه او نورو ډول ډول نومونو او صفتونو نوموي او په مقابل کې یې قبوریت، سیفیت، صوفي ایزم، رافضیت او نور شرکي عقائد د توحید د سپېڅلي عقیدې په ځای د خلکو په فکرونو کې ورپېچکاري کوي او د همدې ډول ډول شرکیاتو د خپریدو لپاره په پراخه کچه سرمایه ګذاري او زمینه سازي کوي او ترڅنګ یې بیا په دوحه کې ډیزاین شوي دیموکراسي د شرعي نظام په نوم په خلکو ومني د بې علمه او ناخبره مسلمانانو او د خلکو په ذهنونو کې داکښیني چې دا هم ګویا زمونږ د دین د احکامو څخه یو حکم دی، او بیا د غم له پاسه غم او د افسوس له پاسه افسوس دا چې ددې پلان په پلي کولو کې مهم رول هغه خلک لوبوي، چې د مسلمانانو ترمنځه د عالمانو، پیرانو او شیخانو په صفاتو موصوف وي، نن همدا وجه ده چې بې شمیره هغه خلک چې ځانونه ته مسلمانان وایي ډیرې د اسلام د دین څخه خارج احکام او مسائل د دین څخه ګڼي، دغه ډول د اسلام او مسلمانانو سرسخته دشمنان، خپل دوستان ګڼي، حتی همدغه د اسلام دشمنان خپل ورونه ګڼي، دا د یو من أُوړو او کیلوغوړو ورکونکي کفري اینجیوزګانې او امدادي ټیمونه او اداري چې د مسلمانانو په ملکونو کې د خپلو شومو موخو ترلاسه کولو لپاره کار کوي، دا ورته د مسلمانانو داسې خیرخواه او ناصحین ښکاري، چې بدیل یې په فکر او نظر کې نه لري، سره له دې چې ددې لړو خوړو په بدل کې هغوی څومره مسلمانان د کفر او ردت کندو ته ورګزار کړل، تفصیل نه کوو خو له دې به ستر هلاکت، بربادي او خساره د یو ځانته مسلمان ویونکي دپاره څه وي، چې د یو چا په باره کې دخپل رب اوخالق د حکم او موقف نه برعکس اعتقاد، حکم او موقف جوړوي، ځکه د الله متعال پریکنده قانون دی چې حربي کفار یهود او نصارا مشرکین او مرتدین دا ستاسې دشمنان دي، دا هیڅکله قطعاً ستاسې دوستان او خیرخواه نه شي کېدای، دا قطعاً تاسې ته په خیر نه شي راضي کېدای الله متعال په سورة البَقَرَة ۱۲۰ نمبر ایت کریمه کې فرمایي:

وَلَن تَرۡضَىٰ عَنكَ ٱلۡيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمۡ

(ژباړه) اوهرګز به له تانه یهودیان او نصاری خوشحاله نشي، تر څو ته د هغو په لاره (دین) لاړ نشي

په سورة البَقَرَة :۲۱۷ نمبر ایت کریمه کې فرمایي :

وَلَا يَزَالُونَ يُقَٰتِلُونَكُمۡ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمۡ عَن دِينِكُمۡ إِنِ ٱسۡتَطَٰعُواْ

(ژباړه) او همیشه به وي، دوی (کفار) چې جنګیږي به تاسې سره ، ان تر دې چې که یې وس ورسیږي، نو تاسې به له دې دین څخه واړوي .

په سورة ال عمران ۱۰۰ نمبر ایت کریمه کې فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ فَرِيقٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ يَرُدُّوكُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡ كَٰفِرِينَ.

(ژباړه) اې دایمان دعوی کونکو! که چرته تاسې ددې اهل کتابو څخه د یوې ډلې خبره ومنئ، نو دوی به تاسې له ایمان څخه بیرته د کفر لوري ته واړوي.

په سورة آل عِمرَان ۱۴۹ نمبرایت کریمه کې فرمایي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَرُدُّوكُمۡ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡ فَتَنقَلِبُواْ خَٰسِرِينَ .

(ژباړه) اې دایمان دعوی کونکو! که تاسې د هغو خلکو په خبره لاړ شئ ،چې هغو کفر غوره کړی دی، نو هغوی به تاسې بیرته(له دین نه) په شا واړوي او تاسې به ناکام وګرځئ؛

په سورة آل عِمرَان ۱۱۸

نمبر ایت کریمه کې فرمایي:

لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ.

(ژباړه) هغوی (کفار) ستاسې د ورکولو د هیڅ یو فرصت څخه ګټه اخیستل له لاسه نه ورکوي او تاسې ته چې په هر څه زیان اوړي، دهغوی خوښېږي اویقیني ښکاره شوی سخت بغض د هغوی د خولو څخه او هغه، څه چې هغوی یې په خپلو سینو کښې پټ ساتي ،(ستاسو په دښمنۍ کې نو) هغه له دې څخه زیات دي، موږ تاسې ته په ډاګه څرګنده لاربښووني کړیدي، که تاسې پوهه لرئ . دغه ډول په سورة النِّسَاء ۸۹ نمبر ایت کریمه کې فرمایي:

وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سَوَاءً فَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ أَوْلِيَاءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ وَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا

(ژباړه) هغوی (کافران) خو دا غواړي لکه چې څنګه په خپله کافران دي، هماغسې تاسې هم کافران شئ؛ تر څو تاسې او هغوی ټول سره یوشان برابر شئ(کفر) کې ، له دې امله له هغو څخه هیڅوک خپل دوستان مه نیسئ، تر څو چې هغوی د الله په لار کښې

هجرت ونه کړي، او که هغوی له هجرت څخه منع راوړي؛ نو چېرې یې چې وموموئ ویې نیسئ او ویې وژنئ؛ او له هغوی څخه هیڅ څوک خپل دوست او مرستندوی مه ګرځوئ؛ دغه ډول په سورة الممتحنة ۲ نمبر ایت کریمه کې فرمایي:

إِنْ يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُوا لَكُمْ أَعْدَاءً وَيَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوءِ وَوَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ.

(ژباړه) که چرته هغوی (کفار) پر تاسې برلاسي شي، نو (وبه وینې) چې دوی ستاسې دښمنان وي او په لاسونو او ژبو سره به ازار در ورسوي، هغوی خو دا غواړي چې تاسې دې د دوی په څېر یو ډول کافران شئ.

الغرض نو چې کله د دوی د اسلام اومسلمانانو سره د بغض عداوت او کینې داحال دی ، نو رب خپلو بندګانو ته هم ددې سره د ابدي بغض عداوت قتال او براءت امر کړی او د دوی د هر مکرفریب او خیانت نه یې خپل بنده ګان خبر کړي دي، دې باب کې که ایاتونه او احادیث ذکر کوو بحث بې حده زیاتیږي، بس داختصار له کبله به دومره ووایو چې سورة الأنفال او سورة التوبة ضرور ولولئ او بیا خه سوچ وکړئ، چې کله الله تبارک وتعالی یو کس ستا دښمن معرفي کوي او ته یې دوست ګڼې، هغه یې خائن معرفي کوي او ته یې امین ګڼې، هغه ورسره تاته په براءت امر کوي او ته ورسره ولاء (دوستانی) کوي او په جهر ناري وهې چې دوی نور زما دښمنان نه دي او نور نو جهاد ختم شو ، هغه ورسره درته په قتال امر کوي او ته امن ورکوې او خپل ورور مصلح او بې ضرره یې ګڼې، نو ایا ددې نه لویه د تاوان خبره ددې انسان په حق کې بله شته؟ کلا وحاشا.

بلکه داخو د رب د دښمن دوست شو، د رب د دښمن سره یې دوستي اعلان کړه او د رب د دوستانو د دښمن سره په صف کې ودریده ، دا که اوس د حرم اوسیدونکی او هلته عبادت کونکی دی او که د عام کوم مسجد امام دی او که د کوم کلي او منطقې مشر او سردار خو اوس دا په دې اعتقاد هغه نجس ناولی او مرادر انسان وګرځیده ، چې د اسلام د خوږ دین څخه په هیڅ برخه کې نه دی پاتی شوی، نو دغه لږه ظاهري ښیګنه

دی انسان ته په دام د پرتې هغې دانې مثال شو چې فقط همدا دانه ورته ښکاري او د دانې لاندې پټ دام ورته په نظر نه راځي.

بعینه د داسې ناکاره ملایانو د مذموم او خسیسو کوششونو مذمومه اوخسیسه نتیجه بالاخر داهم راووته ، چې روافض یې د اسلام ددين څخه وګڼل او د دوی او د مسلمانانو ترمنځه یې ورورولي ثابته کړه ، نن که معاشرې ته وکتل شي، نو ښپیته سلنه ځانته مسلمان ویونکي روافضو ته روافض نه بلکه شیعه بلکه ددې نه هم چې په ښه انداز یې نوم ذکر شي أهل التشیع وایي، بلکه طالب ملیشې یې أهل التشیع ورونه ګڼي.

لاحول ولاقوة الا بالله .

خو اوس چې ددې نه هم سخته په غوږونو اوریدل کېږي، هغه دا چې د وطني طالبانو مرتد زعیم ملاهبة الله نه فقط ورونه وګڼل ،بلکه هغوی ته یې د ولایتونو په سطحه مشرۍ ورکړې او هغوی د نورو موقفونو ترڅنګ محتسبین هم وټاکل، داخبره خو د اسلامي دولت علماؤ او داعیانو بار بار په بې شمیره دلائلو ثابته کړې، چې وطني طالبان د معتقداتو د توافق اومشابهت په وجه د بل هر کافر په اعتبار د روافضو سره ډیر سمون خوري، چې دادی ورځ په ورځ زمونږ ددې دعوی ریښتینوالی او په دې باندې دلائل لکه د نیمې ورځې د لمر داسې ثابتیږي، دلته دې باید د لوستونکو یوې خبرې ته جدي پام او فکر وي او هغه دا چې دلته زمونږ قطعاً دا نه مراد کوو چې طالبان مسلمانان دي، نو زمونږ خفه یو چې دوی ولې مرتد روافض محتسبین او په مسلمانانو مشران وټاکل نه، بلکه زمونږ ته روافض او طالبان د اسلام د نواقضو په اعتبار او د شرکي موافقت له کبله دواړه ډلې یو شان مشرکان او مرتد دي، د دواړو حکم دالله په کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت کې یو دی ، چې هغه ردت دی، فقط خو زمونږ دلته بحث په دې کوو، چې دغه طالبان ځان ته مسلمانان وایي هبة الله ځان أمیرالمؤمنین (!) ګڼي، خپل ټول ټوپکماران مجاهدین(!) ګڼي، خپل قطري نظام اسلامي نظام او وضعي قانون شرعي قانون ګڼي، دعوی هم دا کوي چې زمونږ کفار په زور وویستل، زمونږ دلته د شریعت د نفاذ د پاره شل کاله مبارزه وکړه ،شهیدان مو ورکړل زخمیان او اسیران مو ورکړل ، میندې بورې شوې ښځې کونډې شوې، بچې یتیمان شول، شتمنۍ مو لوټ شوې، مقدسات مو پایمال شول.

الغرض د دوی ټولې دا او دیته ورته دعوې، چې دوی ترینه همدا ثابتول غواړي، چې زمونږ مسلمانان یو! اونظام مو اسلامي(!) لښکر مواسلامی(!) او فیصله اوقانون مو اسلامي(!) دی.

دلته زمونږ دغه بحث پریږدو چې دوی په دې دعوی کې د الف نه تر یا په پوره پیمانه درواغجن دي، خو دا پوښتنه ضرور کوو چې که تاسې مسلمانان او نظام مو اسلامي وي، نو د مرتد حق خو د الله په شریعت کې قتل دی، فقط نو تاسو روافض په ځای ددې چې له یوه مخه قتل کړئ، تاسو ژوندي پریښې او نه یوازې ژوندي مو پریښې بلکه د شرکي مراسمو امنیت ورته نیسي او نه دومره فقط بلکه د هغوی مؤسسات مو په ازاد ډول پریښي ،چې په دې سره هغوی ځومره مسلمانان د رافضیت په ګنده او نجس

مرض باندی ککړ کړل، چې اندازه لګول یې له وسې بهر ده او نه دومره فقط بلکه دادی د أمیر المؤمنین بالطاغوت ملاهبة الله اخندزاده په امر نو اوس دولایاتو په سطحه محتسبین اومشران هم وګمارل شول، زه بیاوایم ستاسو د شان سره همدا لایق ده چې په خپل قطري دیموکریت نظام کې دوی ته پوره برخه ورکړئ، ځکه له دی نه مخکې د تیر نظام مرتد افراد هم تاسې په خپلو همغه غټو، غټو عهدو ځینې پریښې او ځینې مو له سره ګمارلي ، اګر چې تاسې خپلو کشرخیلو ته قناعت په دي ورکوئ، چې دوی تیرنظام کې تجربه شوي او په دي قانون پوه لري اومونږ خو شل کاله لری پاتې وو ، نو دوی اوس مهال خه دي، چې دا دندی پرمخ وړي چې چل تری زده کړو بیا به یې لری کړو، نو هغه مرتد چې تر پرونه یې مسلمانان ربړول ، وژل او د کفر په صف کې ولاړ وو، د هغوی قانون یې په ځان منلی و، همغه دې اوس ښې لاس دی، نو روافض هم د هغوی څخه په کفر او ردت کې څه کم خو نه دي، بلکه مونږ دا انتظار باسو، چې بله ورځ مو دا خبر هم راشي له خیره ،چې فلانی حقاني سنګ سیکهـ هم دجناب (!) هبة الله مشیر وټاکل شو او دا بعیده نه ده که څه هم سنګان مو درته له وطنه تیښتي ته اړ کړي خو تاسي به یې بیرته په دې تمو راولئ ، قسم بالله که ستاسي له ملایانو نه ګیله وکړم ، ځکه عقیدوي اختلاف لکه څنګه چې ستاسو د تیرنظام د مرتدو سره نه شته ، بلکل بعینه همدا ډول د روافضو سره هم اختلاف نه لرئ، که لږ ورمخکې شو، نو دابه هم درته ثابته کړو چې سیکهان هم درته پردي نه وایي، تفصیل نه کوو خو ددې امیرالمؤمنین (!) نه چې حتی شیخ الحدیث هم ورته وایي دا پوښتنه کوو ، چې که ستا نور ټول هغه نواقض چې ستا او ستا د پیروانو څخه صادر شوي، هغه پریښودل شي او صرف دغه یوه فیصله او حکم دې چې د روافضو متعلق کړی، چې هغوی ته دی خپل نظام کې د محتسبینو تعیین کولو فیصله کړې، صرف دغه پریکړه دې د شریعت محمدي محکمې ته وراندې کړو، ستا د تکفیر د پاره کافي ده، پاتې دې لا نور په لسګونو نواقض.

اوس په دې پریکړه هبة الله څنګه مرتد شوی؟ نو راځو او ددې تفصیل اوریدو ته عام مسلمانان مخاطب کوو عزتمندو مسلمانانو ! روافض چې د عوامو په اصطلاح کې دشیعه ګانو په نوم سره شهرت لري، دا دالله تبارک وتعالی ددین نه په پوندو ګرځیدلي هغه غلیظ ترین مرتدین دي، چې په سلفو کې د اسلامي امت د علماؤ څخه دوه مسلمانان هم د دوی په کفر او ردت کې اختلاف نه لري د اسلام د احکامو د تقدساتو او شعائرو چې دوی ځومره توهین کونکي او استهزاء کونکي دي ،فکر نه کوم که یهود او نصارا د دوی په مقدار وي، دا چې مخکې له دې چې موږ د دوی نواقض ذکر کړو، دا خبره پخه ذهن کې کښینوئ ، چې د دوی په جوړ شوي خود ساخته دین کې تقیه هغه واجب عمل دی ، چې نه کونکي پری کافر ګرځوي، دوی کې چې څوک تقیه نه کوي هغه دوی بې دینه ګڼي.

وګوری أصول الکافی ۱ / ۳۷۵ دکلینی رافضي.

تقیه دي ته وایي چې دوی په خوله هغه څه ویل واجب ګڼي چې په زړه کې د هغې عقیده نه لري، ددې د پاره چې اهل السنة والجماعة ته

دوکه ورکړي او ځان ورته خپل دوست معرفي کړي، نور نو په زړه کې ورسره دومره عداوت او بغض چې دوی لري، فکر نه کوم که یهود هغې ته ورسیږي، نو بناء علی هذا که کوم ځای دوی د دین اسلام د کوم حکم د منلو اقرار هم کوي نو اعتبار ورته نه شته او دا د دوی په معتمدو کتابونو کې دي، نو چې کله د دوی دا عقیده تاسو وپیژندله نو اوس راځو د دوی نواقضو ته:

روافض شیعه ګان داعقائد لري:

(۱) د الله تبارک وتعالی او د هغه د رالیږلي نبي محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د منلو نه برملا انکار کول وګورئ الأنوار النعمانیة ۲/۲۷۹ د نعمت الله جزائری رافضي.

(۲) د محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم محترمو، عزتمندو، پاکدامنو او مطهرو بیبیانو او د اسلامي امت باعزته میندو عائشه او حفصه رضي الله عنهما باندي د زنا الزام لګول او په هغوی لعنتونه ویل او هغوی د نوح اولوط علیهما السلام د ښځو په شان کافراني ګڼل او هغوی د نبي صلی الله علیه وسلم د قتل اراده لرونکي ګڼل والعیاذ بالله، وګورئ کتاب الأربعین دقمی شیرازی صـ۶۲۲ صـ۶۲۶ بحارالأنوار ۳۱/۶۴۰

(۳) قران باطل او محرف ګڼل، وګورئ اصول الکافی ۲/۶۱۹ دکلیني رافضي الأنوار النعمانیة ۲/۳۶۰ او ۳۶۲ دنعمت الله جزائری رافضي أوایل المقالات صـ ۱۳ او صـ۵۴ دمفید رافضي.

(۴) ابوبکر او عمر رضی الله عنهما منافقان ګڼل ، هغوی ظالمان ګڼل، هغوی د قران تحریف کونکي ګڼل هغوی د لعنت مستحق ګڼل ، په هغوی عیب ویل والعیاذ بالله. وګورئ الانتصار دعاملي رافضي ۹/۱۰۱بحارالأنوار د مجلسي رافضي ۳۱/۶۳۵ تفسیرالقمی ۱/۳۰۱ د علی القمي رافضي تفسیرالصافی ۲/۳۱۸ د کاشانی رافضي دغه ډول وګوری الصحیفة السجادیة ص۵۱ الکافی د کلیني ۳/۳۴۲ وسائل الشیعة ۴/۱۰۳۷

(۵) د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په شمول ټول صحابه کافر ګڼل . وګورئ بحارالأنوار ۳۰/۳۹۹ المقالات والفرق د نوبختي رافضي صـ۲۰

(۶) جمله اهل السنة والجماعة ناصبیان او کافران او مباح القتل ګڼل او مالونه یې غنیمت ګڼل وګورئ الحدائق الناضرة دبحراني رافضي ۱۴/۱۵۹ بحارالأنوار دمجلسي رافضي ۲۹/۳۳ المحاسن النفسانیة د درازی رافضي صـ۱۴۷وسائل الشیعة ۱۸/۴۶۳ دحر العاملي رافضي تهذیب الأحکام ۴/۱۲۲ دابوجعفر طوسي رافضي المحاسن النفسانیة صـ ۱۶۷ ددرازی بحراني رافضي .

(۷) د اهل السنة والجماعه ټول امامان د صحابه کرامو په شمول نواصب یعني کافر او ملعونین او د دین نه منحرفین او کاږه خلک ګڼي، لکه اوازعي، امام مالک، امام ابوحنیفه، امام شافعي، امام احمد بن حنبل ، امام اشعری، ابن حزم، ابن تیمیه، امام ذهبي، امام بخاري، امام زهري، امام باقلاني، وګورئ النصب والنواصب د محسن رافضي صـ۲۵۹ الحدائق الناضرة د بحراني رافضي ۱۰/۴۲ منهاج الصالحین دخوئي

رافضی ۱/۱۱۶ كذبوا على الشيعة د محمد رضی الرضوی رافضی صـــ۱۳۵ وصـــ۲۷۹ او الکافی د کلینی رافضی ۱/۸ یاد دی وي، چې دی کتاب کې کلینی ابوحنیفه رحمه الله باندې د الله لعنت لیږلی، لیکي : لعن الله اباحنيفة كان يقول .... الخ او رضوی رافضي ورته قبحک الله یا اباحنیفه ... ګستاخانه الفاظ لیکلي دي. **(۸)** علي رضي الله عنه

ته د جمله ائمه وو په شمول والعیاذبالله د الله صفات ثابتول لکه علم الغیب، بښل تعذیبول، جنت اوزجهنم ته داخلول د قیامت په ورځ حساب کول وغیره.

وګورئ بحار الأنوار ۲۲/۹۴ او دغه ډول ۲۶/۱۱۱ رجال الکشی صـــ۴۳۰ او ۴۳۱

(۹) د الله تبارک وتعالی باره کې د بدا عقیده لرل، یعنی والعیاذبالله تعالی الله متعال د یوې فیصلې او کارکولو نه مخکې د هغې په فائده او تاوان علم نه لري، دا ورته بیا له کار کولو وروسته ښکاره کیږي والعیاذ بالله تعالی.

وګورئ أصول الكافی د ابن بابویه رافضی ۱/۱۴۶ تفسیر القمی ۲/۲۹۰ بحارالأنوار ۴۱۰۱

(۱۰) خپل مزعوم امامان، دا د ټولو انبیاؤ نه غوره ګڼي.

وګورئ اليقين صـــ۴۶ د ایة الله سید عبد الحسین! رافضی وګوری مرآة العقول ۲/۲۹۰ دباقرمجلسی رافضی الحكومة الاسلامية دخمینی رافضي صـــ ۵۲

عزتمندو مسلمانانو!

روافض شیعه ګان دغه ډؤل نور هم د بې شمیره کفري او شرکي عقایدو درلودونکي هغه غلیظ مرتدین دي، چې د اسلام د دین څخه په هیڅ برخه کې نه دي پاتې شوي، د دوی دغه ذکر شوي عقاید چې تاسې ووینئ، نو خپله به د فطري ایمان په زور هم د دوی تکفیر ته اماده شئ او دوی به د اسلام د دین نه وتونکي اعلان کړئ، پرته له دې چې دې باب کې د کوم عالم او مفتي نظر او فتوی ته انتظار وکړئ، ځکه دا یاد کفریات د دوی دا هغه د دین اصول او واجبات دي، چې دوی په کې د اولین مسلمان ابوبکر صدیق رضی الله عنه څخه واخله تر قیامته راتلونکي اخري مسلمان پورې اختلاف کړی دی نو غرض دا چې د دوی ددې کفري او شرکي عقائدو وجه ده، چې د امت سلفو او خلفو اهل علمو په روافضو د کفر ردت او زندقت فتواوی صادرې کړي دي، مونږ به دې فصل کې تاسو ته د هاغو اهل علمو دغه فتاوې په حوالو سره رانقل کړو، ترڅو تاسې وپوهیږئ چې اسلامي امت د دوی په کفر کې اختلاف نه لري، خو بیا ددې اتفاقي او اجماعي فتوی او نظر په مقابل کې د وطني مرتدو طالبانو نظر او عقیده هم وګورئ روافض خپل ورونه ګڼي او هغوی ته په خپل وطني نظام کې چې دوی یې اسلامی(!) اوشرعی(!) بولي وظیفې او منصبونه ورکوي، د اسلامي امت فتوی د کتاب اوسنت په رڼا کې داده چې دوی قتل کړای شي، خو طالبان یې ژوندي پریږدي، بلکه د مجاهدینو د تورو څخه یې بچ کوي او امنیت یې نیسي او اوس خو یې لابیخی د أدې ځامن کړل، چې د تیر نظام د مرتدینو په څېر یې دوی ته هم ځانونو سره په دی مبارک (!) نظام کې دندی ورکړي.

لاحول ولاقوة الا بالله .

نو اوس راشئ عزتمندو! او د لوى الله تبارک وتعالى په خاص فضل او توفيق سره د دين د امامانو هغه حکم هم ملاحظه کړئ چې د روافضو متعلق يې لګولى دى:

امام مالک رحمه الله:

امام ابوبکر المروذى رحمه الله فرمايي: امام مالک رحمه الله وفرمايل: الذي يشتم أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم ليس لهم اسم أوقال نصيب في الإسلام (ژباړه) هغه څوک چې د نبي صلى الله عليه وسلم صحابة وو ته ښکنځل کوى د هغوى هيڅ نوم په اسلام کې نه شته او يا يې داسې وفرمايل چې هيڅ حصه يې په اسلام کې نه شته السنة لأبى بکرالخلال ٢/٥٥٧

امام احمد بن حنبل رحمه الله:

امام ابوبکر المروذى فرمايي ما د ابوعبدالله (دا د احمد بن حنبل رحمه الله اسم کنيه ده) څخه پوښتنه وکړه د هغه چا باره کې چې ابوبکر، عمر او عائشې ته ښکنځلي کوي، نو فرمايي هغه وفرمايل: ما أراه على الإسلام (ژباړه) زه دا سړى په اسلام کې داخل نه وينم .

وګورئ السنة لأبى بکر الخلال ٢/٥٥٧ وشرح السنة لإبن بطة صـ١٦١ او الصارم المسلول صـ٥٧١ لإبن تيمية دغه ډول امام احمد رحمه الله خپل کتاب السنة صـ٨٢ کې فرمايلي: وليست الرافضة من الإسلام في شيء (ژباړه) او روافض داسلام څخه په هيڅ برخه کې نه دي.

امام بخارى رحمه الله:

امام بخارى رحمه الله فرمايي: ما أبالي صليت خلف الجهمي والرافضي أم صليت خلف اليهود والنصارى ولا يسلم عليهم ولا يعادون ولا يناكحون ولا يشهدون ولا تؤكل ذبائحهم (ژباړه) زه دا فرق نه کوم چې که د کوم جهمي او رافضي پسې لمونځ وکړم او که د يهودي او نصراني پسې (يعني دوى په کفر کې يوشان دي) بيا فرمايي: نه به په دوى سلام اچولى شي، نه به يې د مريض پوښتنه کيدلى شي، نه به ورسره نکاح کيدلى شي او نه به يې جنازو ته حاضري کيدلاى شي او نه به يې ذبيحې خوړى شي وګورئ [خلق أفعال العباد للإمام البخاري صـ١٢٥]

(٤) امام عبدالله ابن ادريس رحمه الله

فرمايي: ليس للرافضي شفعة الا لمسلم (ژباړه) رافضي حق د شفعي نه لري دا حق صرف د مسلمان دى.

وګورئ الصارم المسلول صـ٥٧٠ لإبن التيمية الحراني او السيف المسلول لعلي بن عبد الكافي السبکي الورقة ـ٧١ المخطوط

امام عبد الرحمن بن مهدى رحمه الله:

امام عبدالرحمن بن مهدي رحمه الله فرمايي: هما ملتان الجهمية والرافضية (ژباړه) دا دواړه دوه (کفري) ملتونه دي، جهميان او رافضيان وګورئ خلق أفعال العباد صـ١٢٥ للإمام البخاري ومجموع الفتاوى ٣٥/٤١٥ لإبن تيمية

امام محمد بن يوسف الفريابى رحمه الله:

د امام ابن يوسف الفريابي رحمه الله نه تپوس وشو د هغه چابه باره کې چې هغه ابوبکر رضي الله عنه ته ښکنځلي کوي. نو هغه وفرمايل دا کس کافر دى بيا تري وپوښتل شو چې که داسې کس مړ شي لمونځ وربانديې کول پکار دي، نو هغه وفرمايل چې نه، نو بيا ترې پوښتنه وشوه چې نو دده سره بيا څه کول پکار دي، ځکه ده خو لااله الا الله کلمه ويلې؟

نو هغه وفرمايل : لاتمسوه بأيديکم إرفعوه بالخشب حتى تواروه في حفرته (ژباړه) ده ته لاسونه مه وروړئ، بلکه دا په يو لرګي اوچت کړئ او يوه کنده کې يې جسد ورپټ کړئ.

الصارم المسلول صـ٥٧٠ لابن تيمية والسنة للخلال ٢/٥٦٦

امام احمد بن يونس رحمه الله

امام احمد بن يونس رحمه الله فرمايي: لو أن يهوديا ذبح شاة وذبح رافضي لأکلت ذبيحة اليهودي ولم آکل ذبيحة الرافضي لأنه مرتد عن الإسلام .

(ژباړه) که چرته يو يهودي ګډ ذبح کړي او رافضي يې هم ذبح کړي، نو خامخا به زه د يهودي ذبيحه وخورم خو د رافضي ذبيحه به ونه

خورم ، ځکه چې هغه د اسلام د (دين) نه مرتد شوی دی.

وګورئ الصارم المسلول لابن تيمية صــ ۵۷۰

۸) امام ابو زرعة الرازی رحمه الله

امام ابوزرعة رحمه الله فرمايي: إذارأيت الرجل ينتقص أحدا من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فأعلم أنه زنديق لأن مؤدي قوله الى إبطال القران والسنة .

(ژباړه) چې کله ته داسي څوک ووينې، چې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه وو څخه د کوم يو تنقيص کوی (يعني کمی او عيب يې بيانوي) نو پوه شه چې دا کس زنديق دی ، ځکه چې دده دا خبره د قران او سنت بطلان ته غځيږي.

وګورى الكفاية صــ ۴۹

امام عبد القادر البغدادي رحمه الله:

امام عبدالقادر البغدادي رحمه الله

فرمايي: لما أهل الأهواء الجارودية الهاشمية والجهمية والإمامية الذين أكفروا خيار الصحابة فإنا نكفرهم ولاتجوز الصلاة عليهم عندنا ولاالصلاة خلفهم.

(ژباړه) نو پس کله چې اهل أهواء وو د جاروديه هاشميه وو او جهميه وو او د إماميه وو څخه هغه چې هغوی غوره صحابه کرام تکفير کړي دي، بس بې شکه مونږ د دوی تکفيرکوو او زمونږ په نزد نه په دوی لمونځ جائزدی (که مړه شي) او نه د دوی پسې په اقتداء کې لمونځ جائز دی ، وګورى الفرق بين الفرق صـــ ۳۵۷ لعبدالقادر البغدادي.

دغه ډول بغدادی رحمه الله داهم فرمايي: وما رأينا ولا سمعنا بنوع من الكفر الا وجدنا شعبة منه في مذهب الروافض

(ژباړه) اومونږ نه دی اوريدلی او نه مو ليدلی هيڅ يو نوع كفر مګر دا چې د هغه كفر برخه مو د روافضو په مذهب کې موندلې ده وګورى الملل والنحل صـــ ۵۲

امام قاضي ابو يعلى رحمه الله

وأما الرافضة فالحكم فيهم ... إن كفّر الصحابة او فسّقهم بمعنى يستوجب به النار فهو كافر

(ژباړه) او بهر حال روافض چې دي، نو پس حكم په دوی: ... كه چرته دوی صحابه تکفيروي او يا يې فسق ته منسوبوي په دې معنا چې دوی ته اور واجب ګرځوي، نو پس دغه رافضي كافر دی وګوره المعتمد صــ ۲۶۷

امام ابن حزم رحمه الله

امام ابن حزم رحمه الله د نصاراو د هغه قول چې هغوی د قران دتحريف په اثبات کې د روافضو نه پيش کړی جواب کوي فرمايي: وأما قولهم في دعوى الروافض تبديل القرآن فإن الروافض ليسوا من المسلمين إنما هي فرقة حدث أولها بعدموت رسول الله صلى الله عليه وسلم بخمس وعشرين سنة وهي طائفة تجري مجرى اليهود والنصارى في الكذب والكفر .

(ژباړه) اوبهر حال د نصاراو قول په دعوى د روافضو چې د قران د تحريف متعلق دی ، نو بس بې شكه روافض له سره مسلمانان نه دي دا خو هغه فرقه ده چې ددې ابتدا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وفات نه پنځه ويشت كاله بعد شروع شوي اودا هغه طائفه ده چې په دروغو او كفر كې د يهودو او نصاراو په لار روانه ده وګورئ الفصل ۲۱۳/۲ لابن حزم

امام ابو المظفربن محمد الاسفراييني

امام اسفرايينى رحمه الله

د روافضو معتقدات ذكر كوي او بيا فرمايي وليسوا في الحال على شيء من الدين ولا مزيد على هذ النوع من الكفر إذ لابقاء فيه على شيء من الدين .

(ژباړه) او دوی فی الحال د دين څخه په هيڅ برخه كې نه دي او د دوی د كفر په نوعيت له پاسه بل كفر نه شته ځكه چې ددې د ارتكاب په صورت كې د دين په هيڅ برخه پاتې كيدل نه كيږي.

وګورئ التبصير فی الدين صــ ۲۴ او صــ ۲۵ لأبى مظفر

امام علامه ابوسعد عبد الكريم سمعاني

علامه سمعاني رحمه الله فرمايى وأجتمعت الأمة على تكفير الامامية لأنهم يعتقدون تضليل الصحابة وينكرون إجماعهم وينسبون إلى ماليليق بهم

(ژباړه) او ټول أمت اجماع كړي په تكفير د روافضو ، ځكه چې دوی

د صحابه کرامو د ګمراهۍ عقیده لري او د هغوی داجماع نه انکار کوي او دهغه څه نسبت ورته کوي، چې هغه د دوی سره لائق دي.

وګورئ الأنساب للسمعاني ۶/۳۴۱

علامه امام فخرالدين الرازی رحمه الله

امام رازی رحمه الله د روافضو د تکفیر (یعني د هغوی د کافر کولو دري وجهې ذکر کړي یوه وجه دا ذکر کوي چې روافض د مسلمانانو اکابرین تکفیروي او څوک چې یو مسلمان ته کافر وایي هغه خپله کافر ګرځي، دویمه وجه یې دا ذکر کړي چې روافض داسې خلکو ته کافر وایي چې د هغوی په ایمان او اسلام نبي صلی الله علیه وسلم تصریح کړی او د هغوی تعظیم او د شان لوړی یې بیان کړی او دریمه وجه د دوی د. تکفیرولو داده فرمایي: إجماع الأمة على تكفير من كفر سادات الصحابة (ژباړه) د امت اجماع ده په تکفیر د هغه چا چې څوک صحابه کرام تکفیروي

وګوری نهایة العقول المخطوط للرازی صـــ ۲۱۲

امام ابوحامد محمد المقدسي الرملي

امام ابو حامد المقدسي رحمه الله

د روافضو عقائد ذکر کوي او بیا فرمایي: لايخفى على كل ذي بصيرة وفهم من المسلمين أن أكثر ماقدمناه في الباب قبله من عقائد هذه الطائفة الرافضة على إختلاف أصنافها كفر صريح وعنادمع جهل قبيح لايتوقف الواقف عليه من تكفيرهم والحكم عليهم بالمروق من دين الاسلام

(ژباړه) او دا په مسلمانانو کې په هیڅ بصیرت او فهم والا باندي پټه نه ده، چې دغه کوم چې مونږ مخکې باب کې ددې رافضي طائفې د مختلفو عقائدو څخه ذکر کړل دا صریح کفر او د قبیح جهل سره عناد دی، چې هیڅ علم لرونکې به د دوی په تکفیر کې او نه به د دوی د اسلام ددین نه د تلو په حکم کې توقف وکړي.

وګورئ رسالة فی الرد على الرافضة صـ ۵۲

عزتمندو مسلمانانو! روافض د اسلامي امت هغه بدترین ناولي او سخت ترین دښمنان دي، چې سلفو کې هیڅ مسلمان عالم او امام دوی ته مسلمانان نه دي ویلي، دی باب کې مونږ د پنځه لس ۱۵ اهل علمو عبارات سره د مستندو حوالو ذکر کړل ، د اختصار له کبله به د نورو اهل علمو نومونه او په دوی د حکم او فتوی حوالې ذکر کړو عبارات یې بیا که مطلوب وو خپله دې کتابونو کې وګورئ

شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله هم روافض شیعه ګان کافر او د شریعت اسلام نه خارج ګڼلي دي.

وګورئ مجموع الفتاوی ۲۸/۴۸۵ الصارم المسلول صـــ ۵۸۶ او صـــ ۵۸۷

امام ابوالمحاسن يوسف الواسطي

امام الواسطي رحمه الله هم روافض کافر ګڼلي دي.

وګورئ المناظرة بين اهل السنة والرافضة الورقة ۶۶ المخطوط

ملاعلی قاری الحنفی رحمه الله

ملاعلي قاري رحمه الله هم روافض په اجماع د امت سره کافر ګڼلي دي.

وګورئ شم العوارض فی ذم الروافض الورقة ۲۵۲ او ۲۵۴

امام قرطبي رحمه الله

علامه قرطبي رحمه الله هم روافض کافر ګڼلي او د امام مالک رحمه الله د فتوی تحسین او تائید یې هم کړی دی.

وګورئ تفسير القرطبي ۱۶ /۲۹۷

امام علامه ابن كثير رحمه الله

علامه ابن کثیر رحمه الله هم روافض په اجماع د امت سره کافر او د هغوی وینه تویول یې دشرابو د تویولو نه هم زیات حلال او رواه ګڼلې ده.

وګورئ البداية والنهاية ۵/ ۲۵۲

علامه شاه عبدالعزيز الدهلوي الحنفي

علامه دهلوی رحمه الله هم روافض د اسلام نه بې برخې او کافر ګڼلي دي.

وګورئ مختصر التحفة الإثني عشرية صــ ۳۰۰

علامه امام محمد بن علي الشوكاني:

امام شوکانی رحمه الله هم روافض شیعه ګان خبثاء او مرتدین ګڼلي دي.

وګورئ نثر الجوهر على حديث أبي ذر المخطوط الورقة ص۱۵ او ص۱۶

امام محمد بن عبدالوهاب رحمه الله

علامه امام محمدبن عبدالوهاب رحمه الله هم روافض کافر اومرتد ګڼلي دي.

وګورئ د هغه کتاب رسالة في الرد على الرافضة ص۱۸ اوص۱۹

د ماوراء النهر حنفي علماء

علامه الوسى رحمه الله نقل کړی چې د ماوراء النهر معظمو علماؤ د روافضو د وینو په تویولو او د دوی د ښځو په وینځو کولو هم قول او حکم کړی دی.

وګورئ نهج السلامة ص۲۹ او ص۳۰

د عثماني دولت علماء

علامه زين العابدين بن يوسف الأسكوبي رحمه الله په خپله رساله کې چې هغه د عثماني دولت د حاکم محمد خان بن سلطان په دور کې لیکلی نقل کړي، چې د یاد دولت متاخرینو ټولو علماؤ د روافضو په کفر فتوی ورکړي.

وګورئ الرد على الشيعة مخطوط الورقة ص۵

امام شیخ محمد بن شهاب البزاز

علامه ابن البزاز الحنفي رحمه الله هم په روافضو د کفر او ردت حکم کړی دی.

وګورئ الفتاوی البزازية على هامش الفتاوی الهندية ۶/۳۱۸

امام علامه الشیخ نوح الحنفي

علامه ابن عابدين رحمه الله دخپل شيخ نوح حنفي رحمه الله یو طویله فتوی نقل کړې چې هغه په کې روافض په ډیرو وجوهاتو سره کافر ګرځولي.

وګورئ العقود الدرية ص۲۹

(۲۶) علامه ابن نُجیم الحنفي رحمه الله ،

هم ابوبکر او عمر رضی الله عنهما ته ښکنځل او په هغوی یې لعن طعن کفر ګڼلی.

وګورئ الأشباه والنظائر ص۱۹۰ یاده دي وي چې ابوبکر او عمر رضی الله عنهما باندی لعنت ویل او هغوی ته ښکنځل کول روافض د قربت او فضیلت سبب ګڼي.

(۲۷) علامه ابو محمد ابن قتيبة الدينورى :

علامه ابن قتيبة رحمه الله هم روافض ددي بدو معتقداتو په سبب کفر ته منسوب کړي دي وګورئ الأختلاف في اللفظ والرد على الجهمية والمشبهة ص۴۷

علامه امام ابن القیم رحمه الله

امام ابن القیم رحمه الله هم روافض د اسلام په ضد او مقابل کې د یهودو نصاراو بوت پرستو مشرکانو او د دین دجمله دښمنانو مددکونکي او د مسلمانانو لوټونکي هلاکونکي او دشمنان ګڼلي دي.

مدارج السالكين ۱/۹۴

امام ابوحنیفه امام ابویوسف او امام محمد

رحمهم الله تعالى اجمعين

ددي دري واړه امامانو نه اتفاق نقل دی، په دي چې که هرچا قران ته مخلوق وویل، نو دا کس کافر دی وګورئ کشف الأسرار۱/۹ او په دي کې شک نه شته چې روافض قران ته مخلوق وایي او ددي ترڅنګ نور ددي څومره توهين کونکي دي، دا مخکې مونږ بيان کړي دي ، تکرار نه کوو .

علامه احمد بن حجر الهيتمي رحمه الله:

علامه هيتمي رحمه الله فرمايي څوک چې د نبي صلى الله عليه وسلم

صحابه کرامو ته ښکنځل او د هغوی گستاخي کوي زه هغه قطعي کافر گڼم.
وگورئ الصواعق الحرقة ۱۴۶/۱

(په کفر او ردة کې ورغ تر بلې د ملاهبة ترقي)

نوعزتمندو مسلمانانو ! داشو داسلامي امت د سلفو اوخلفو برجسته علماؤ او إمامانو فتوې او حکم چې دوی ټول روافض کافر ، مرتد او زنادقه او د اسلام د مبین دین څخه خارج گڼلي دي، د دوی وینې تویول او مالونه غنیمت کول یې حلال او جائز گڼلي دي، خو د ملاهبة الله مسکین په حال افسوس راشي چې ځان ته مسلمان او حتی امیرالمؤمنین(!) هم وایي خپل پیروان مجاهدین او فاتحین هم گڼي، خپل نظام شرعي او اسلامي هم گڼي، خو دې هرې دعوې باوجود اتفاقي کافرو او مرتدو ته اوس په دې نظام کې د برخو او مشرۍ ورکولو په وجه داسلام اومسلمانانو دومره ښکاره مخالفت کوي، چې پوهیږي به هم ددی ارتکاب ونه کړي!

نو د اسلام د دواوینو څخه د مستنبط شوې دې قاعدې موافق چې **مَنْ لَمْ يُكَفِّرِ الكَافِرَ أَوْ شَكَّ فِي كُفْرِهِمْ أَوْصَحَّحَ مَذْهَبَهَمْ فَهُوَ كَافِر.** هبة الله او د هغه په دې حکم کې پیروي کونکي مرتد عن دین الله گرځیدلي دي.

لاحول ولا قوة الا بالله

زه دلته بیا وایم مونږ ته په کفر د ملاهبة الله او د هغه دپیروانو او د روافضو ترمنځه قطعاً فرق نه شته ، خو داچې چونکه ځان د اسلام په څادر پټوي او ددې نوم نه عام مسلمان ولس ته دوکه ورکوي، نو ځکه وایو چې که ته مسلمان یې او پیروان دې مسلمانان وي، نظام دی اسلامي وي، نو بیا ولې دمسلمانانو د علماؤ او أمامانو په اجماع او اتفاق کافر شویو او مرتد شویو ته په خپل شرعي نظام (!) کې ونډې ورکوي ایا دا ددې ملاحده او زنادقه و عزت او احترام باندې دلیل نه دی؟

د هغوی سره د دوستۍ دلیل نه دی؟

دهغوی سره دخپلولۍ اوهم مسلکی دلیل نه دی؟

ریشتیا خبره ده چې ایمان عقل قوي کوي، خو تاسې ترینه الله محروم گرځولي یاستئ، گڼې فکر کول پکار دي.

هغوی قران باطل اومحرف گڼي تاسې یې وروړنه گڼئ، هغوی عائشه مور رضي الله عنها زناکاره گڼي، تاسو یې خپل وروڼه گڼئ، هغوی د ابوبکر عمر او عثمان رضي الله عنهم په شمول د رسول الله صلی الله علیه وسلم ډیری صحابه کافر مرتد او منافقان گڼي، تاسې یې بیا هم خپل وروڼه گڼئ او موقفونه ورکوئ ،هغوی د دین امامان کافر او حلال الدم والمال گڼي، هغوی باندې لعنتونه او عیبونه وایي، تاسې یې بیاهم وروڼه گڼئ، لمونځونه وروپسې کوئ ، هغوی علی ، حسن ، حسین، فاطمه او عباس رضی الله عنهم ته د الله تبارک وتعالی صفات ثابتوي، هغوی یې دالله سره شریکان گرځولي خو تاسې یې بیاهم وروڼه گڼئ او د دغه شرکي مراسمو امنیت یې ساتئ!

هغوی الله تبارک وتعالی ته والعیاذ بالله تعالی جهل ثابتوي، خو تاسې یې وروڼه گڼئ او دا په چا پټه ده چې دوی پرون د ناټو هغه سترگې وې چې لیدل یې پرې کول،

هغه لاسونه يې وو ،چې نيول يې پرې كول، هغه پښې يې وې چې تلل يې پرې كول ، هغه قوت يې و چې تعذيبول او ربړول يې پرې كول ، خو نن تاسې دوى خپل ورونه ګڼئ بس! بس! تاسې نه ملامتوو، تاسې يقيني د دوى او هغوى ستاسو ورونه دي تاسې خپلو كې د يو بل كلك پاخه عقيدوي دوستان يې الله تبارك وتعالى مونږ ته خبر راكړى فرمايي:

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ .

يومقام كي فرمايي:

الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُم مِّن بَعْضٍ.

بل مقام كې فرمايي:

وَإِنَّ الظَّالِمِينَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِينَ .

څه ريښتيا فرمايلي دي، الله سبحانه وتعالى تاسې يقيناً خپلو كې پاخه دوستان او خواږه ورونه ياستئ، تاسې د هغوى تكفير نه كوئ، تاسې هغوى په حقه ګڼئ، د هغوى معتقدات شرعي او اسلامي ګڼئ، تاسو د هغوى شرك توحيد ګڼئ، د هغوى نفاق ايمان ګڼئ، د هغوى كفر او ردت اسلام ګڼئ، د هغوى وژل حرام ګڼئ، د هغوى مال حرام ګڼئ، د هغوى حفاظت او ساتنه واجب ګڼئ، د هغوى دين خپل دين ګڼئ د همدى اعتقادي او ايماني موافقت او وروركلوى له وجهي نه خو دادى اوس ستاسې او د هغوى د ملايانو ترمنځ څه فرق شو او دادى اوس دي نو ولس او رعيت په سر محتسبين هم دوى وټاكل .

شاباس (!) ملاهيبة اخونده په كفر او ردت كې دي نور بشكرونه راشنه شوي .

ملاهبة الله مزې كوه مزې

د مزو او چرچو دوران دي دى، ملا هبة الله شابه تكره شه لكه د سيند وږي هر بوټي ته لاس ور اچوه ، خو په ملل ملحده كې چوكى او ځاى لاس ته كړئ، منو د پښتنو بادشاهي راغلې وطن د ترقى په لور روان دى، پايتخت به كندهار ته نقل شي، د كفارو د شفقت وزَرې ورځ تر بله دربانديې راغوړيږي، چهل ميلونه كڅوړو سره اوس پټي نوري كڅوړې هم شروع شوې دي، دا به نورى هم زياتى شي، بس د امريكا د (سي آى اى) سره يو پټې بلې ناستې ته د ملاعمر زوى ملايعقوب زر واستوه ، د پاكستان د (آى ايس آى) د جنرالانو ټيم نه دلا زده كړو دپاره د جلال الدين ځامن سراج الدين او انس ته بيا يو چانس وركړه ، بس د الله دين دى په خپل فكر نور نيږدې ختم كړى، تكړه شه كفار تاسره په مخكنى مبارزه سخت پښيمانه دي، همدا افسوس كوي چې كاش ستاسې د زړو نو په مراد او د پټې عقيدې نه دوى مخكې خبر وې، كرزى او اشرف غني غونډې غربيانو ته هيڅ ضرورت نه و، اوس هم ستا كارنامو بې حده متأثر كړي دي ، د امتحان نوې دكې كړې پرچې دي ور رواني دي، د څه ممتازو نمبرو اميد وساته ، خواري دې بې ځايه نه ده ، غم چې ونه كړې "من جدّ وجدَ" د سيكانو په دفاع كې دې وركړي شهيدان ډير د كرامت خاوندان وګرځيدل، ملل كفريه وو په شاه سم وډبولې د روسانو دفاع كې اتلان (!) دې هم څه معمولي خلك نه وو، نرى ته يې ستاسې فكر او عقيده ډيره خه ورمعرفي كړه، د چيناپانو نه قربان شويو عسكرو خو درته د چين روغ سفارت په لاس كې دركړ، د روافضو ساتنو او وروركلوى خو د ايران د مالي مرستو بندې دروازې داسې درته راپرانيستلې چې ترڅو تاسې صحيح اسلام ته رجوع نه وي كړې، نو داخواږه به دربانديې بند نه شي، مزې كوه هبة الله مزې .

فكر ونه كړې چې دا نظام به دې ړنګ شي، يا به اسلام په تاغالب شي او دا دبدبه به دې ړنګه شي نه ګوره دا فكر ونه كړې، د فرعون بادشاهي كمزورې وه ، څكه ړنګه شوه ، ستا هغه خو ته وينې چې د نړۍ جمله كفار درسره ولاړ دي، غم ونه كړې، د نوح عليه السلام قوم خو كشتى نه لرلې، ځكه ډوب شو ستا باداران خو غټې غټې بحرى بيړى او لوې لوې ابدوزونه لرى، خامخا به دې لاس نيوې كوي، بدر كې چې ابوجهل او د قريشو صناديدو شكست وخوړ، پرونونه يې نه لرل ، د صليبي جنرالانو

نقشي ورسره نه وي، تاسي خو په دي هر څه سمبال یاستئ، زړه دي په همدي ګوره ډاډه ساته ،هیڅ غم ته په کي ځای مه ورکوه اوفکر ونه کړی چي دا ایت ګوری ستا غوندي خلکو باره کي دی چي الله متعال فرمایي:

وَإِذَآ أَرَدْنَـآ أَن نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَـا مُتْرَفِيهَـا فَفَسَـقُوا فِيهَـا فَحَـقَّ عَلَيْهَـا الْقَـوْلُ فَدَمَّرْنَٰهَـا تَدْمِـيرًا.

(ژباړه) او کله چي موږ د کومي سیمي د هلاک کولو اراده کوو، نو د هغي بدمسته (مشرانو ته) ته حکم کوو، خو هغوی په نافرمانیو لاس پوري کوي، هله نو پر هغي سیمي د عذاب فیصله تطبیقیږي او موږ هغه بیخي تباه کوو.

اناالله وانا الیه راجعون .

مونږ ان شاء الله په قطعي ډول پوهیږو چي هبة الله د شراب او شباب د قدرت سلطي او ریاست محبت کي داسي ړوند، کوڼ او ګونګ ګرځیدلی ،چي حواس یي ددي توان نه لري، چي زمونږ په دی خبرو کي فکر او تدبر وکړي، خو دده ددي طاغوتي حکومت هغه طبقه مخاطب کوم، چي ځانونه اوس هم مجاهدین بولي او دا تسلي ځانته ورکوي چي ګویا دوی په ریښتیا امریکا د ناټو سره ماته او د شکست سره مخ کړه ، بس موږ له دوی څخه اخر کي دا څو پوښتني کوو او د دوی نه په دي څو خبرو کي د سوچ او تدبر نه بعد د جواب مطالبه کوو، ممکن حق درک کړي ، د کفر او ردت څخه توبه وباسي خو انابت شرط دی، الله تبارک وتعالی فرمایي:

وَالَّذِيـنَ جَٰهَـدُوا فِينَـا لَنَهْدِيَنَّهُـمْ سُـبُلَنَا وَإِنَّ اللَّـهَ لَمَـعَ الْمُحْسِـنِينَ.

(ژباړه) او هغه کسان چي کوشش کوي، زمونږ طرف ته (په راتلو کي) نو خامخا به مونږ هغوی ته خپلي لاري ور وښایو اوبی شکه الله د نیکي کونکوملګری دی.

طالبه داڅو پوښتنی راجواب کړه؟

نو ددي ځانته ویونکو مجاهدینو نه مو پوښتني دادي : چي تاسي که د امریکا او د هغي د تحالف کونکو سره خپل دغه شل کلن جنګ ته د جهاد او د کفر مقابل کي د مبارزي نوم ورکولو ، نو نن مو په نتیجه سوچ کړی چي ددي جنګ نتیجه څه شوه داسلام په فائده تمامه شوه که د کفر ، هسي نن د کوم وطن کوم کافر دی چي ستاسي له حکومت او نظام نه ډار محسوسوي؟

هغه د کوم وطن کوم کافر دی چي ستاسي وطن ته راتلو کي له تاسي خوف او ډار محسوي ؟

هغه د کوم وطن کوم کافر دی چي تاسي ورسره تعلقات نه غواړئ؟

هغه د کوم وطن کوم کافر دی چي تاسي ترینه د خپل رسمیت غوښتنی طلب اوارمان نه کوئ؟

هغه د کوم وطن کوم کافردی چي تاسو ورسره دوستي نه ده اعلان کړی؟

هغه د کوم وطن کوم کافر دی چي تاسي د هغه سره د قتال او جهاد اعلان کړی دی؟

هغه د کوم وطن د کوم عقیدي کافر دی چي تاسي تري کرکه کوئ؟ سیکهان د الله دښمنان دي، تاسي یي خپل وطن وال ورونه ګڼئ دا په کوم دلیل؟

روافض خو مو هم درته داسلامي امت په اتفاقي فتوی ثابت کړل چي کافر او مرتد دي د اسلام

څخه خارج دي، قتل یې رواه او مال یې غنیمت دی، خو تاسې یې اوس هم خپل ورونه ګڼئ، داپه کوم دلیل؟ دښمني او عداوت خو ورسره نه کوئ نه کوئ چې د دوستۍ او ورورولۍ حال او کېسه مو دي ته راورسیده چې اوس مو نو په حکومتي موقفونو مشران او مأمورین هم وټاکل دا په کوم دلیل؟ ایا تاسې سوچ کړی چې اسلامي او شرعي نظام کې داسې غلیظ مرتد د ژوند حق نه لري نو د چوکۍ اقتدار او مأموریت حق یې له کومه شو؟

الغرض د ځمکې په سر وطن به پریږدو، یوه ډله به پریږدو، صرف یو هغه کافر تاسې مونږ ته وښایي چې تاسې ته مطلوب وي او تاسې یې په خلاف څه پلان او ستراتیژي په کار اچولي وي، نو چې کله نتیجه د جنګ مو دا شوه نو خپله پوه شئ، چې دغه جنګ مو جهاد نه و، ځکه د جهاد نتیجه د الله د دین لوړوالی د مسلمانانو سربلندي، عزت، کامراني او د کفر او د کافرانو ذلت رسوایي بربادي او خساره وي.

صحیح البخاري کې په رقم ۲۶۱۲ باندی روایت دی.

ابوموسی الاشعري رضي الله عنه فرمایي: یوسړی نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی او ویې فرمایل : ای دالله نبي یوکس دی چې د غنیمت د پاره جنګیږي او یوکس دی چې هغه د شهرت د پاره جنګیږي او یو کس ددې دپاره جنګیږي چې مرتبه اوشان یې ولیدل شي (په جنګ کې) نو په دوی کې کوم یو د الله په لار کې حسابیږي؟ راوي فرمایي نبي صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

” مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ (ژباړه) څوک چې وجنګیده ددې دپاره چې د الله دین همدا غالب شي، نو دغه کس دالله په لاره کې دی ،نو اوس ددی حدیث له رویه دی طالب د خپل شل کلن جنګ نتیجې ته خه متوجه شي چې دالله ددین څومره برخه یې غالبه کړې!؟

د اسلام کومه شعیره ده چې د طالب به نظام کې نافذ ده او کفار ترینه ډار کوي؟

بلکه نن خو چې هر د عقل او بصیرت خاوند ګوري نو د خسارې، ذلت ، بربادۍ او ابدي تاوان او هلاکت مهار د طالب په غاړه پروت دی ، نه د هغه سره دجنګیدونکي اصلي کافر.

نو خه په وضاحت سره معلومه شوه چې ستاسې جنګ د دین دپاره نه ، بلکه د وطن دپاره و، د دین دپاره نه و! بلکه د ریاست او اقتدار د پاره و، د دین دپاره نه و، د قومیت او عصبیت دپاره و، ددین دپاره نه و! بلکه ملل ملحده څخه د رسمیت دطلب دپاره و، که دې جنګ ته تاسې دجهاد نوم ورکوئ، نو بیا خو اوکراینیان له تاسې نه تکړه مجاهدین دي، مړي یې ستاسې د مړو نه غوره دي، میړانه یې ستاسو له میړانې غوره ده ،ځکه هغوی هم د خپل وطن، خپلې خاورې او خپل نظام نه ددفاع په پار ځانونه قربانوي!!

دا هر څه مو درته د فکر او سوچ کولو د پاره وویل، خو که سوچ او فکر وکړئ! هو! دلته یو خبره قابل د یادونې ده او هغه دا چې کوم وخت چې د امریکا په خلاف امارت لا اسلامي جنګ شروع کړ دابتداء نه تریو وخته چې کله هغو مخلصینو ته د امارت د مشرانو منافقت او ارتداد معلوم نه وو او جنګ یې یقیناً په دې نیت کاوه چې دالله دین غالب شي او ددې نه ورته دغه وخت بل غوره صف معلوم او موجود نه وو او دا په دې قتال کې قتل شوی وي، دا ان شاء الله تعالی شهید دی عندالله قبول دی ، خو چې عقیده یې دقبر پرستۍ او شرک پرستۍ وغیره د نواقضو نه پاکه وي أما بغیر له دینه (فخرط القتاد) نو اراده مو د اختصار وه ، خو خبره رانه أوږده شوه بس دغه زموږ څو پوښتنې د انابت سره جواب کړئ ممکن د هدایت سبب مو وګرځی.

وما ذلک علی الله بعزیز وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی آله وصحبه وسلم

خوږه یې یارانه ده

سپینې کوترې(!) په دوحه کې چې غومبر ووهي
بیا له کفارو نه بوجۍ، بوجۍ ډالر ووهي
***
دومره خوږه یې یارانه ده تمام کفر سره
تشه خندا یې لکه ډول څوک د اختر ووهي
***
کړې وعده ده ملېشو چې به ساتي صلیبیان
خود ضروري ده چې مؤمن هم په خنجر ووهي
***
چې د توحید خلاف د جنګ خبره شي راپورته
کفري نرۍ ته بیا رذیل طالب ټېر ووهي
***
جهاد یې ختم کړ اوس ټول طاغوتیان ورونه ګڼي
قسم یې کړی نه صلیب نه به کافر ووهي
***
دا د کفري استخباراتو نیابتي جګړه مار
د مؤمن وینې خرڅوي چې پرې چکر ووهي
***
بیا فولادي سوکونه موټې کړل زلمو د دولت
چې پرکټې پرې د صلیب یو یو په سر ووهي
***
داسې ترخې شپې انتظار کړې دې مرتد دښمن ته
چې به مدد لپاره هر کافر ته ور ووهي
***
دغه سختۍ د صف تمحیص دی ورته نشئ خفه
څنګه به نشي خالص زر چې یې زرګر ووهي
***
دا یو ارمان مو دی ای ربه ته یې پوره کړه راته
چې په سپین غر یو ځل بیا تور بیرغ وزر ووهي

دیوبندیان

څوک دي؟

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو !

تاسې د باطلو ډلو، ټپلو د پیژندنې په لړ کې د دیوبندیانو د شرکیاتو او خرافاتو له ډکو عقائدو د پیژندنې ترځنګ د دې ډلې په اړه ابتدایي مالومات په تېرو دوه برخو کې ولوستل اوس د مجلې په دې ګڼه کې د دغه علمي، تحقیقاتي او مالوماتي سلسلې درېیمه برخه وړاندې کوو په دې هیله چې دا برخه هم په دقت مطالعه او تر نورو یې ورسوئ.

3

دیوبندیان
څوک دي؟ (۳)

[النصح الجمیل بتحذیر العوام عن اتباع أهل القبور و التعطیل]

دا چې مونږ په تېرو عنوانو کې د منکر د مخ نیوي او د هغې د إزالې او د عوام المسلمین د خیر خواهۍ په بنیاد دیوبندي مکتب فکر ردّ او د هغوی د أهل السنة والجماعه له عقیدې څخه عموما او د امام أبو حنیفه رحمه الله له عقیدې څخه خصوصا صریح انحراف او مخالفت ذکر کړ، چې مقصود په کې دا دی چې خلک له دې فتنې څخه خبر شي، ترڅو له ایماني خطر څخه محفوظ شي، که څه هم ډېر هغه عوام مسلمانان چې ځانونه دیوبندیان بولي او نور هغوی د دیوبندي عقائدو په اړه خبر نه دي، بس یوازې دومره یې اورېدلي چې سربکف سر بلند. دیوبند، دیوبند. بس دي شعارونو ور څخه زېره وړی وي، نور خبر نه وي چې د دیوبند څه ډول تاریخ دی، کوم ځای کې دی، څه عقیده یې ده، له دې هیڅ خبر نه دي نو په دوی لازمه ده چې له دې نوي پیدا او مبتدعې ډلې څخه ځان لرې کړي او په خپله عقیده نظر ثاني وکړي او له دې وروسته هر عمل د کتاب او سنت په تله وتلي او همدا د هر مسلمان واجب او فرض ذمه واري او مسوولیت دی چې کله هم هغه ته حق له باطل څخه شکاره شي نو هغه به د حق ملګری کیږي ځکه چې کله انسان ته حق معلوم شي او بیا هم د حق مقابل کې له باطل دریځ څخه نه اوړي نو دا ډول خلک عنادګر (ضدیان) وي چې هیڅکله به ورته هدایت او د حق ملګرتیا په نصیب نه شي. اوس که تاسو دا واياست چې مونږ ته خو کله هم دوی داسې نه دي ویلي چې خالق او مخلوق یو دی او یا یې بل داسې څه ویلي وي چې دغه معنا ورڅخه مراد کړای شي نو ځواب دا دی چې بېشکه دوی دا تاسو ته نه دي ویلي او وبه یې هم نه شي ویلای ځکه د دوی دغه عقیده له فطرت سره په ټکر کې واقع ده نو له دې امله چې څوک یې ورسره نه مني نو اوس ورته دا متاخرین توجیهات لټوي او لکه د اوبو وړي په شان هر بوټي ته لاس اچوي. کله وایي: یا دا مراد دی، یا دا دی او که دا نه وي نو دا دی چې په دې سره د عوامو مسلمانانو له نفرت څخه ځانونه وساتي ځکه دوی چې اوس دا تأویلونه کوي چې له وحدة الوجود څخه دغه یو والی د خالق او مخلوق نه دی مراد نو دا هم هسې د عوامو له ملامتۍ څخه ځانونه ساتي. نور دا د دوی پخه عقیده ده، کومه چې تاسو تیر بحث کې په تفصیل سره ولوستله دا وګورئ چې خپله د دوی پیر امداد الله مکي لیکي: **ہمارے دیوبندي اکابرین وحدت الوجود کے عقیدے پر ثابت قدم ہیں لیکن چون کہ اس عقیدے کو چھپانا فرض ہے- اس لئے ان میں اکثر اس کا انکار کرتے ہیں-** [کلیات امدادیه ص۲۱۹] ژباړه: زمونږ دیوبندي مشران د وحدة الوجود په عقیدې ثابت قدم (کلک ولاړ) دي خو د دې عقیدې پټول فرض دي ځکه اکثر خلک له دې انکار کوي. **الغرض عزتمندو!** دومره به پوهه شوي یاست چې دیوبندیان هیڅکله هم د امام أبو حنیفه رحمه الله مقلدین نه دي بلکې دا لکه څنګه مو چې ولوستل غالي قبوریان او د وحدت الوجود عقیدې عملي پیروان دي نو خپلو هغو عوامو مسلمانانو ته کوم چې ځانونه دوی ته په عقیده او مسلک کې منسوبوي دا خبر ورکوو چې رسول الله ﷺ فرمایي: **الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ**. [صحیح البخاری رقم الحدیث 5729] ژباړه: سړی به په آخرت کې هم له هغه چا سره وي (حشر کیږي) چې له چا سره مینه لري. نور ستاسو وخت نه نیسم په الله مو سپارم. الله دې زمونږ ستاسو عقائد او اعمال د قرآن او سنت

موافق جوړ کړي، آمین.
وصلی الله علی نبینا محمد وعلی آله وأصحابه وسلم.
[جمادی الأولی ۱۴۴۴ هـ]

***

د تالیف سبب

نن سبا د دیوبندیانو په اړه د بعضې خلکو نظر دا دی چې دا خلک مؤحدین دي او

د هغوی له عقیدې څخه د ناخبرۍ له امله هغوی سره اړیکې ساتي او هغوی پسې لمونځ هم کوي او په دې کې هیڅ حرج او باک نه ګڼي، تر دې پورې چې دا اختلافات ورته فروعي او معمولي اختلافات ښکاري خو بل اړخ ته بریلویانو سره اړیکې نه ساتل او هغوی پسې د لمونځ نه کولو علت د هغوی غلطه عقیده بولي، بناءً مونږ هم اراده وکړه چې مسلمانانو ته حق او باطل ورمعرفي کړو او دا ورته وښایو چې پیرۍ خلک خپل ظاهر په غوړو زیړو القاباتو پټوي خو حقیقت د هغوی په ډول ډول ګندګیو ککړ وي ځکه هر ځلېدونکی شي ته سره زر ویل هوښیاري نه ده، دغه ډول د دیوبندیانو د دعوو او تقریرونو له امله هغوی ته مؤحدین ویل او هغوی د اهل توحید په صف کې شمیرل به له انصاف څخه لرې خبره وي، د دې سلسلې یوازینۍ هدف مسلمانانو ته د دې خلکو حقیقت ښکاره کول دي، کېدای شي چې ځینې ساده او ناپوهه خلک مجله کې د دې سلسلې نشرول د أمت ترمنځ د اختلاف او تفرقې جوړولو سبب وګڼي نو له دغو خلکو څخه احترامانه هیله لرو چې مونږ دا خبرې په ړاګه نه کړو، نو آخر به دا حق څوک راښکاره کوي؟ تاسې خو لږ سوچ وکړئ چې آخر به دا أمت د کتاب او سنت په لاره څوک روانوي؟ بله دا ده چې زمونږ ستاسو د محبت او نفرت اصل او بنیاد به د الله د رضا ترلاسه کول وي، یعنې "الحب في الله والبغض في الله" به وي. دغه شان د دې لړۍ د نشر دویم مقصد د ناخبره او ناپوهه دیوبندیانو کشرانو خبرول دي چې د دې ډلې په لویو، لویو خبرو او په غټو غټو دعوو باندې دوکه نشئ او په ړندو سترګو چا پسې مه روانیږئ بلکې د حق د پیژندلو کوښښ وکړئ او ځان لپاره سمه لار او سم منهج وټاکئ. هسې نه چې اخرت مو تباه او برباد شي، که چیرې یو لوستونکی دا علمي سلسله د تعصب او حسد د نظر په ځای، د اصلاح په نظر مطالعه کړي او په دې ټولو خبرو سوچ وکړي نو تاسو ته به دا خبره ښکاره معلومه شي چې د بریلویانو په شان دیوبندیانو ته نژدې کېدل هم د الله د قربت او نزدېکت په ځای له الله څخه د لرې والي سبب دی ځکه چې په دې لاره کې د شرک او کفر کندې دي، که یو انسان په دغو لویو ژورو کې ورک شي نو بیا ورته د هدایت او کامیابۍ د رڼا حصول ناممکن یا حد اقل ورته ګرانیږي او که د شرک او تیارو د لارې په ځای،ع یو انسان د کتاب او سنت د ښکاره هدایت او الله په لاره روان شي او د خپلو عالمانو له شرکي عقیدو څخه برائت او اعراض وکړي او خپله عقیده د قران او سنت په رڼا شایسته کړي ځکه توحید د نجات یوازینۍ لار ده نو دا خلک دي زمونږ دا ټولې خبرې، ښه په یخ زړه وګوري او د خپل ځان د اخرت لپاره دي فکر وکړي، الله دې مونږ تاسو ټولو ته هدایت وکړي او الله دې خپل توحید زمونږ په زړونو کې پوخ او مضبوط کړي ترڅو د هغه جبار ذات د جهنم څخه وژغورل شو.

***

اصلي او حقيقي مخ

د دې انځور حقیقي اړخ بدل دی، هغه دا چې د شرک کوم ډولونه په بریلویانو کې موندل کیږي نو هغه ټول په ټوله د دیوبندیانو د مشرانو په کتابونو کې هم موجود دي، د کومو شیانو له امله چې دیوبندیان په بریلویانو باندې رد او نقد کوي او هغوی بدناموي، له دې زیات همدغه شیان

پخپله په دیوبندیانو کې شتون لري څکه که د وحدة الوجود عقیدې ته نظر وشي نو دیوبندیان هم په دې صف کې لیدل کیږي، څوك چې عزیر علیه السلام د الله د ذات سره شریك بولي او عیسی علیه السلام ته د الله د ځوی او بچي نسبت کوي نو همدا خلك په دې میدان کې هم شته، دغه شان څوك چې د الله نور مخلوق له الله سره شریکان ګرځوي یا له الله تعالی سره په صفاتو کې شرك کوي نو دا دیوبندیان له دې خلکو هم یو دوه قدمه وړاندې ښکاري او که تاسو د دوی له حالاتو ځان خبرول غواړئ نو راځئ خراسان غږ مجلو کې راسره دا علمي ، تحقیقاتي او معلوماتي سلسله تر پایه ولولئ.

راځئ! نور ستاسې او د دیوبندیانو د عقائدو ترمنځ حائل نه جوړیږو او په خپل مقصود پیل کوو.

د دیوبندیانو "حکیم الأمت" اشرف علي تهانوي د خپل دیوبندي پیر او مرشد حاجي امداد الله په اړه دا واقعه (چې د الوهیت تصرف او صفاتو اظهار پکې د خپل مرشد لپاره شوی دی) بیانوي:

بحري کښتۍ په ملا باندې روانول او د مکې له مشرکانو مخکې کېدل:

مولانا اشرف علی تھانوی مولوی نظام الدین صاحب کرانوی سے وہ مولوی عبداللہ ہراقی سے روایت کرتے ہیں کہ ایک نہایت معتبر شخص ولائتی بیان کرتے ہیں کہ میرے ایک دوست جو بقیۃ السلف حجۃ الخلف قدوۃ السالکین زبدۃ العارفین شیخ الکل فی الکل حضرت مولانا حاجی امداد اللہ صاحب چشتی صابری تھانوی ثم المکی سلمہ اللہ سے بیعت تھے، حج خانہ کعبہ کو تشریف لے جاتے تھے بمبئی سے آگبوٹ میں سوار ہوئے آگبوٹ نے چلتے چلتے ٹکر کھائی اور قریب تھا کہ چکر کھا کر غرق ہو جاتے یا دوبارہ ٹکرا کر پاش پاش ہو جائے انہوں نے جب دیکھا کہ اب مرنے کے سوا چارہ نہیں اسی مایوسانہ حالت میں گھبرا کر اپنے پیر روشن ضمیر کی طرف خیال کیا اور عرض کیا کہ اس وقت سے زیادہ کون سا وقت امداد کا ہوگا- اللہ تعالٰی سمیع و بصیر کار ساز مطلق ہے اسی وقت ان کا آگبوٹ غرق سے نکل گیا اور تمام لوگوں کو نجات ملی- ادھر تو یہ قصہ پیش آیا ادھر اگلے روز مخدوم جہاں اپنے خادم سے بولے ذرا میری کمر تو دباؤ نہایت درد کرتی ہے خادم نے کمر دباتے پیراہن مبارک جو اٹھایا تو دیکھا کہ کمر چھلی ہوئی ہے اور اکثر جگہ سے کھال اتر گئی ہے- پوچھا حضرت یہ کیا بات ہے کمر کیوں کر چھلی فرمایا کچھ نہیں- پھر پوچھا، آپ خاموش رہے تیسری مرتبہ پھر دریافت کیا، حضرت یہ تو کہیں رگڑ لگی ہے اور آپ تو کہیں تشریف بھی نہیں لے گئے- فرمایا ایک آگبوٹ ڈوبا جاتا تھا اس میں تمہارا دینی اور سلسلے کا بھائی تھا اس کی گریہ زاری نے مجھے بے چین کردیا- آگبوٹ کو کمر کا سہارا دے کر اوپر کو اٹھایا- جب آگے چلا اور بندگان خدا کو نجات ملی اسی سے چھل گئی ہوگی اور اسی وجہ سے درد ہے مگر اس کا ذکر نہ کرنا- [کرامات امدادیه: ص 36]

ژباړه: مولانا اشرف علي تهانوي له مولوي نظام الدین کرانوي څخه او هغه له مولوي عبد الله هراقي څخه روایت کوي چې یو د اعتماد وړ او د ولایت درجې والا انسان دی، دا وایي چې: زما یو ملګری له بقیة السلف، حجة الخلف، قدوة السالکین، زبدة العارفین شیخ الکل فی الکل حضرت مولانا امداد الله چشتي، صابري، تهانوي، ثم المکی سره بیعت کړی و، هغه د بیت الله د حج لپاره روان و او له ممبی (د هند یو ښار) څخه په بحري کښتۍ کې سپور شو، کښتۍ په تلو تلو کې ټکر وکړ، نږدې وه چې تاو شي او غرقه شي یا دوهم ځل یې ټکر کړی وای او ټوټه ټوټه شوې وای، کله چې هغه ولیدل چې له مرګ پرته بله لاره نشته نو د ډېر او مایوسی حالت کې یې په زړه کې د خپل روښان ضمیره پیر تصور وکړ او ویې ویل چې له دې څخه به زیات د کومک

[احتیاج] وخت به لا کوم وي؟ او الله سمیع، بصیر او مطلق کار ساز دی نو په همدغه وخت کې د دوی دا کښتۍ له ډوبېدو څخه وژغورل شوه او ټولو خلکو ته نجات او خلاصون ورپه برخه شو.

دې بل اړخ ته داسې کیسه وشوه چې سبا ته د نړۍ مخدوم [امداد الله] خپل خادم ته وویل چې ته زما په ملا زور کړه ځکه چې سخت درد کوي، خادم چې د زور کولو په نیت د هغه ملا بربنډه کړه نو هغه زخمي وه او پوستکي ورڅخه بېل شوي وو نو پوښتنه یې وکړه: حضرت دا ولې؟ ستاسو دا ملا ولې دومره زخمي شوې ده؟ نو حضرت وویل: څه خبره نشته. خادم دویم ځل بیا پوښتنه وکړه، نو حضرت غلی و، خادم په دریم ځل پوښتنه وکړه او وې ویل: دا خو په څه دروند شي پورې راښکل شوې ده او تاسو خو چېرته تللي هم نه یاست؟

نو حضرت وویل: چې یوه کښتۍ ډوبېده او په هغې کې ستا دیني او [تصوف] سلسلې ورور و، د هغه ژړا او فریاد زه نا کراره کړی

وم، نو دې کښتۍ ته ما په ملا سره زور ورکړ او اوچته مې کړه، کله چې مخکې لاړم او د الله بندګانو ته نجات په برخه شو نو ځکه به زخمي شوې وي او له همدې امله درد کوي خو د دې خبرې یادونه به نه کوي.

دا رنګه یوه بله کیسه د مولانا اشرف علي تهانوي له خولې واورئ:

یہ حافظ عبد القادر صاحب تھانوی وہ مولانا شیخ محمد صاحب قدس سرہ سے روایت کرتے ہیں کہ ہم جہاز میں سوار ہو کر حج کو چلے۔ جہاز ہمارا گردش طوفان میں آگیا اور چار پانچ روز تک گردش میں رہا۔ محافظان جہاز نے بہت تدبیریں کیں، کوئی کارگر نہ ہوئی۔ آخر جہاز ڈوبنے لگا۔ ناخدا نے پکار کر کہا کہ لوگ اب اللہ سے دعا مانگیں۔ یہ دعا کا وقت ہے۔ میں اس وقت مراقب ہو کر ایک طرف بیٹھ گیا ۔ ایک حالت طاری ہوئی اور معلوم ہوا کہ جہاز کے ایک گوشے کو حافظ محمد ضامن صاحب اور دوسرے کو حاجی صاحب اپنے کندھوں پر رکھے ہوئے اوپر اٹھائے ہوئے ہیں اور اٹھا کر پانی کے اوپر سیدھا کر دیا اور جہاز بخوبی چلنے لگا تمام لوگ بہت خوش تھے اور جہاز کی سلامتی کا چرچا ہوا ۔ میں نے وہ وقت، دن اور تاریخ اور مہینہ کتاب پر لکھ دیا اور بعد حج و زیارت اور طے منازل سفر کے تھانہ میں آکر اس لکھے ہوئے کو دیکھا اور دریافت کیا۔ اس وقت ایک طالب علم قدرت علی ساکن اینڈری ملک پنجاب مرید و خادم حضرت حاجی صاحب کی خدمت میں حاضر تھا۔ اس نے بیان کیا کہ بے شک فلاں وقت میں حاضر تھا۔ حاجی صاحب حجرے سے باہر تشریف لائے اور اپنی لنگی بھیگی ہوئی

مجھ کو دی اور فرمایا اس کو کنویں کے پانی سے دھو کر صاف کرلو۔ اس لنگی کو جب سونگھا اس میں دریا شور کی بو اور چکنا پن معلوم ہوا۔ اس کے بعد حضرت صاحب حجرے سے بر آمد ہوئے اور اپنی لنگی دی۔ اس میں اثر دریا کا معلوم ہوتا تھا۔

[کرامات امدادیه: ص14]

ژباړه: حافظ عبد القادر تهانوي هغه د مولانا شیخ محمد صاحب قدس څخه روایت کوي چې مونږ په بحري کښتۍ کې د حج د سفر لپاره کېناستو، زمونږ کښتۍ د سیند په طوفان کې را ایساره شوه او ځلور، پنځه ورځې ایساره وه، د بېړۍ محافظینو د حفاظت لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې؛ خو یوه طریقه هم کامیابه نشوه او اخر کښتۍ په ډوبېدو شوه، نو ما په دې وخت کې غږ وکړ، ای خلکو! اوس له الله څخه دعا وغواړئ، ځکه دا د دعا وخت دی، او زه د مراقبې په حالت کې یو طرف ته کېناستم، په ما باندې یو حالت راغی او راته معلومه شوه چې د دې کښتۍ یو اړخ ته حافظ محمد ضامن شهید او بل اړخ ته حاجي امداد الله دا کښتۍ په خپلو اوږو باندې اېښې وه او اوچته یې کړه او د اوبو په سر یې سمه کړه او بحري بېړۍ په سمه توګه روانه شوه؛ ټول خلک خوښ شول او د کښتۍ د ژغورنې خبره مشهوره شوه، ما دا وخت ورځ او تاریخ، په خپل کتاب کې ولیکل، او د حج سفر له ختمېدو څخه وروسته ما دا لیکل وکتل او معلومه مې کړه، چې په دې وخت کې د پنجاب یو طالب العلم قدرت علي د پنجاب د اینډرې ملك اوسېدونکی، د حاجي امداد الله مرید او خادم د هغه په خدمت کې حاضر و، هغه وویل: بې شکه زه په دې وخت کې حاضر وم او حاجي

صاحب له خپلې حجرې څخه د باندې راووت او لمده پګړۍ [یا لنګ] یې ما ته راکړ او ویې ویل: دا د کوهي په اوبو سره پاکه پرېمینځه، دا پګړۍ چې ما بوی کړه، نو له دې څخه د دریاب د اوبو بوی تللو او غوړزي پکې وه. د دې څخه وروسته حضرت حافظ ضامن هم له حجرې څخه د باندې خپله پګړۍ ما ته راکړه او له دې هم د دریاب د اوبو بوی تللو.

په دې افسانوي کیسه کې حاجي امداد الله حاجت روا، مشکل کشا، عالم الغیب، حاضر او ناظر ثابت شوی دی، او مرید صاحب په خپله ګمراهۍ کې د مکې له مشرکانو څخه هم ورمخکې شوی دی؛ ځکه کله به چې د مکې مشرکان په کښتۍ کې کېناستل او د طوفان او سیلۍ خطر به یقیني و نو د دوی په اړه الله عزوجل فرمایي: ﴿وَظَنُّوٓا أَنَّهُمۡ أُحِيطَ بِهِمۡ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ﴾ [سُورَةُ یُونس: 22] ژباړه: هغوی (مشرکان) انګېرې چې په طوفان کې راګېر شول، په هغه وخت کښې ټول خپل دین یوازې د الله له پاره خالصوي.

خو په دې ځای کې د مرید صاحب عقیده وګورئ چې کله ورته معلومه شوه چې له مرګ څخه خلاصی نشته نو د نا امیدۍ او ډار په حالت کې هم د دوی فکر د روښانه زړه لرونکي خپل پیر په لور ځي او عرض ورته کوي.

مشرکین الله رابلي او د دې مرید صاحب فکر د خپل روښان فکره پیر په لور ځي نو دا عجیبه تقسیم دی، له همدې امله خو د ابوجهل ځوی عکرمه مسلمان شوی و، هغه ویل چې ای د مکې مشرکانو! کله چې طوفان راشي نو تاسې یوازې الله ته بلنه او چغې وهئ او خپل جوړ کړی شوي

معبودان درخځه هیر شي؛ که الله ما ته خلاصی او نجات راکړو نو زه به له سیند څخه تر پورې وتو وروسته، په وچه کې هم یوازې الله (عزوجل) رابلم او په ځمکه یې له قدم کیښودو سره، د توحید اعلان وکړ او قران د مکې د مشرکانو د دې عادت یادونه کړې ده.

﴿فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ﴾ [العنکبوت: 65]

ژباړه: کله چې دا خلك په بېړۍ کې سپرېږي نو له الله څخه په خالص اعتقاد سره دعا غواړي، بیا کله چې الله دوی وژغوري، وچې ته یې راولي نو ناڅاپه دوی بیا په شرك کولو لاس پورې کړي.

او په دې ځای کې مرید صاحب په خپله ګمراهۍ کې دومره مخکې تللی دی چې کله کښتۍ ډوبیږي او مرګ ورته یقیني ښکاري نو بیا هم الله نه وریادیږي بلکې مخلوق ته خپل حاجت وړاندې کوي، او دا کېدای شي چې له دې امله وي چې اشرف علي تهانوي وایي:

ہر قریہ میں ایک قطب ہوتا ہے اور ایک غوث ہوتا ہے بعض نے کہا قطب الاقطاب کو ہی غوث کہتے ہیں- [تعلیم الدین: ص120]

ژباړه: په هر کلي او سیمه کې یو قطب او یو غوث موجود وي او ځینې وایي: قطب الأقطاب ته غوث یعنې کومک کونکی ویل کیږي.

نو له دې وروسته هم چې مرید صاحب غوث ته د مصیبت په وخت کې غږ ونکړي نو بیا به بل چا ته غږ کوي؟ الله عزوجل په یو ځای کې د مکې له مشرکانو څخه همدا پوښتنه کړې ده:

﴿قُلْ مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُونَهُ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً لَّئِنْ أَنجَانَا مِنْ هَٰذِهِ لَنَكُونَنَّ مِنَ الشَّٰكِرِينَ﴾
63 ﴿قُلِ اللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنْهَا وَمِن كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ أَنتُمْ تُشْرِكُونَ﴾ 64 [سُورَةُ الأنعَام: 63 ـ 64]

ژباړه: له دوی څخه وپوښته، د بېدیا او سمندر په تیارو کې څوك تاسې له خطرونو څخه ژغوري؟ څوك دی چې له هغه څخه تاسې (د کړاو په وخت کې) په زاریو او په پټه، پټه دعاوې غواړئ؟ چې که تا له دې بلا څخه مونږ وژغورلو نو مونږ به ارومرو شکر ویستونکي اوسو؟ ووایه، الله تاسې ته له هغې او له بل هر کړاو څخه نجات درکوي، بیا تاسې نور له هغه سره شریکان ګڼئ.

د الله خو دا قانون او وعده ده چې الله نجات او خلاصی ورکونکی دی خو د مرید صاحب دا عقیده ده چې ای زما پیر صاحبه! ستا کومك ته به له نن څخه زیاته اړتیا هم لا راځي؟ د مکې د مشرکانو دا عادت و چې الله ته به یې خپل فریاد او غږ کاوه او مرید خپل پیر صاحب ته فریاد کوي!!! دا څومره غټ او لوی توپیر دی؟ تاسو سوچ وکړئ.

په یو ځای کې الله تعالی مشرکانو ته دا خطاب کړی دی:

﴿وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلَّا إِيَّاهُ فَلَمَّا نَجَّاكُمْ إِلَى الْبَرِّ أَعْرَضْتُمْ وَكَانَ الْإِنسَانُ كَفُورًا﴾ [سُورَةُ بنِي اسرآئیل/الإسرَاء: 67]

ژباړه: کله چې په سمندر کې پر تاسې مصیبت راځي نو له هغه یوه ذات څخه پرته چې نورو ته بلنه ورکوئ هغه ټول ورکیږي، خو کله چې هغه تاسې ژغوري، وچې ته مو ورسوي نو تاسې له هغه څخه مخ اړوئ، په ریښتیا چې انسان ډیر ناشکره دی.

له مشرکانو څخه به د سمندر په منځ کې غیر الله هیر و او یوازې الله به ور یاد و خو دیوبندي مرید صاحب په سمندر کې هم غیر الله وریادیږي او د غیر الله په رابللو مصروف وي، دا عجیبه تقسیم دی. د مشرکانو په اړه الله عزوجل بل ځای فرمایي: ﴿وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوْجٌ كَالظُّلَلِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ [سُورَةُ لقمَان: 32]

ژباړه: او کله چې (په

سمندر کې) پر دوی یوه څپه د چټریو غونډې خپره شي نو دوی الله رابولي په داسې حال کې چې د هماغه لپاره خپل دین خالص کړځوي.

او په یو ځای کې الله عزوجل له کافرانو څخه دا پوښتنه کړې ده، که په تاسو باندې د الله عذاب نازل شي: ﴿أَغَيْرَ اللَّهِ تَدْعُونَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ. بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ﴾ [سُورَةُ الأنعَام: 40 ـ 41]

ژباړه: نو ایا په هغه وخت کې تاسې له الله پرته کوم بل څوك بلئ؟ وواياست، که رېښتيني یاست. بلکې په هغه وخت کې تاسې همدا الله رابولئ.

او ستاسو حالت داسې شي: ﴿وَتَنسَوْنَ مَا تُشْرِكُونَ﴾ [سُورَةُ الأنعَام: 41]

ژباړه: تاسې خپل انګېرلي شريکان هېروئ.

خو په دې ځای کې د مريد صاحب مشر ډېر عجيب دی، حاجي امداد الله د حاجت پوره کوونکی او د مشکل لرې کوونکی ګڼل، د عذاب او د طوفان په وخت کې هم له الله پرته هغه څخه دا غوښتل چې: له دې وخت څخه به بل کوم وخت د کومک لپاره زيات مناسب وي؟ حال دا چې الله عزوجل فرمايي: ﴿أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ﴾ [سُورَةُ النَّمل: 62]

ژباړه: څوك دی چې د بې کسه بې وسه دعا اوري، کله چې هغه يې وبلي او څوك د هغه کړاو ايسته کوي؟

بيا الله پخپله د دې ځواب کړی دی:

﴿أَءِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ﴾ [سُورَةُ النَّمل: 62]

ژباړه: ايا له الله سره کوم بل معبود هم (د دې کارکوونکی) دی؟ تاسې بيخي لږ غور کوئ.

اوس دا خبره هم اړينه ده، دا مريد صاحب چې چا ته د بلنې غږ کوي، نو په هغه کې د دې مصيبت د لرې کولو قوت شته؟ حال دا چې الله فرمايي: ﴿فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا﴾ [سُورَةُ بَنِيَ اسرآئيل/ الإسرَاء: 56]

ژباړه: هغوی نه له تاسې څخه کوم کړاو ايسته کولای شي او نه يې بدلولای شي.

لږ د دې پير صاحب جرائت ته وګورئ، فرمايي: «چې يوه کښتۍ ډوبېده؛ په دې کې ستاسو د ديني سلسلې يو ورور و او د هغه ژړا او فرياد زه بې کراره او درد مند کړی وم» نو د دې له امله له هندوستان څخه په سمندر کې يوازې يا له حافظ ضامن سره په ګډه يې دا کښتۍ سمه کړه، که د دې دومره غټې کښتۍ پورته کول اسان کار وای نو د کښتۍ مسافرو به خپله په اوږو اوچته کړې وای.

همدا رنګه يې حاجي صاحب عالم الغيب هم ثابت کړی دی چې هغه له دومره لرې واټن څخه پرته له وسايلو دا غږ واورېد.

دغه ډول حاجي صاحب يې په هر ځای کې حاضر او ناظر هم جوړ کړی دی چې هغه له سبب او وسيلې څخه پرته د سمندر منځ ته رسيږي او بيا بېرته خپل ځای تهانه بهون ته ورګرځي او دا معلومات هيچا ته نه و ځکه خادم دا خبره کړې وه چې «تاسو خو هيڅ يو ځای ته تشريف نه دی وړی، داسې معلومېږي چې واټن او وسائل د دوی لپاره هيڅ اهميت نه لري» له اسبابو پرته د خلکو کومکونو ته ورځي؟

د کښتۍ د ژغورولو د دې کيسې په اړه، د يو بريلوي ملا خبرې وګورئ، کومو ته چې ديوبنديان مشرکان وايي: **قبیلے کے شیخ کی غیبی قوت، ادراک اور خدائی اختیار کا یہ حال کہ ہزاروں میل کی مسافت سے دل کا زبان کا خاموش استغاثہ سن لیا اور سن ہی نہیں لیا بلکہ فورا ہی یہ بھی معلوم کر لیا کہ سمندر کی نا پیدا کنار وسعتوں میں حادثہ کہاں پیش آیا ہے اور پھر مدد کرنے کیلئے وہاں پہنچے اور طوفان سے جہاز کو نکال لائے- یہاں مانگنا بھی ہوا اور پکارنا بھی شرک در شرک کے جمع ہو جانے کے با وجود توحید پر ان حضرات کی اجارہ داری ختم نہیں ہوئی- یا تو شرک کا مفہوم بدل دیجئے یا اپنی راہ کو، دورنگی جائز نہیں- دو طرح کی شریعتیں چلانا کیا عقلمندی ہے، ایک عقیدہ جو پہلے شریعت میں کفر شرک اور ناممکن اور دوسری شریعت میں اسلام ایمان اور امر واقعہ بن**

جائے۔ (خلاصہ از زلزلہ)

ژباړه: د قبیلې د شیخ غیبي قدرت، ادراك او د الوهیت د اختیار دا حال دی چې په زرګونو میله لرې، د زړه غلی غږ یې واورېد او یوازې اورېدل نه و بلکې په هماغه وخت یې دا هم معلومه کړه چې دا پیښه د سمندر په نامعلومه غاړه کې، په کوم ځای کې رامنځته شوې ده، بیا د کومک لپاره هلته ورسیدو، او طوفان ځخه یې جاز راوویستو. دې ځای کې غوښتل هم شوي دي او رابلل هم شوي دي، د شرك له پاسه شرك ده خو بیا هم د دې خلکو په توحید باندې اجاره ختمه نه شوه، یا خو تاسې د شرك مفهوم بدل کړئ، او یا خپله لار، ځکه دوه مخي جائز نه ده ځکه په یو وخت کې په دوه قسمه شریعتونو، عمل کول کومه هوښیاري ده، چې د یوې عقیدې په اعتبار سره یو کار شرك، کفر او نامکمن وي او په بل شریعت کې همدا کار اسلام، ایمان او رښتیا خبره وي.

مونږ خو یوازې داسې ویلی شو چې: تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ ضِيْزَا.

چیرته د سمندر په منځ کې ډوبېدونکې کښتۍ ژغورل او چیرته له دوی ځخه کومک غوښتل او په ځمکه کې هم د الله په ځای د خپل پیر او مرشد تصور کول او پیر صاحب هم یوازې د تصور درك کولو سره د سترګو په رپ دا مشکل حل کول، لکه څنګه چې د الله صفت دی. ﴿وَمَآ أَمْرُنَآ إِلَّا وَاحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ﴾ [سُوْرَةُ الْقَمَرْ: 50] ژباړه: زمونږ پریکړه د سترګې د رپ په څېر وي.

د ډېر تېز تلونکي آس ورکېدل:

بالی زندی مولوی بازار کے ایک صاحب آزادی سے قبل ڈھاکہ سے شیلانگ بذریعہ موٹر جارہے تھے۔ صوبہ آسام کا اکثر حصہ پہاڑی ہے۔ اس میں موٹر یا بس چلنے کا جو راستہ ہے وہ بہت تنگ ہے۔ فقط ایک گاڑی جاسکتی ہے دو کی گنجایش نہیں۔ یہ صاحب حضرت کے مرید تھے۔ جب نصف راستہ طے ہو گیا تو دیکھا سامنے سے ایک گھوڑا بڑے زوروں سے آرہا ہے۔ اس شخص اور دیگر تمام حضرات کو خطرہ پیدا ہوا کہ اب کیا ہو گیا، موٹر روک لی۔ لیکن اس کے باوجود بھی بڑی تشویش تھی کیونکہ گھوڑا بلا سوار بڑی تیزی سے دوڑا آرہا تھا۔ راوی کا کہنا ہے کہ اس شخص نے اپنے دل میں سوچا کہ اگر پیر ومرشد ہوتے دعا کرتے۔ ابھی اتنا سوچا ہی تھا کہ حضرت شیخ گھوڑے کی لگام پکڑ کر کہیں غائب ہو گئے۔ [انفاس قدسیّہ: 186]

ژباړه: د بالی زندي مولوي له بازار ځخه یو تن، له ډهاکه (د هند سیمه) ځخه شیلانګ ته په موټر کې روان و؛ د اسام آیالت ډېره برخه غرونه دي او په دې کې د بس یا موټر لار تنګه ده چې یوازې یو موټر پکې تللی شي، په یو وخت دوه موټره نه ځاییږي او دا صاحب د حضرت صاحب مرید و چې کله یې نیمه لاره ووهله نو یو آس یې ولیده چې په ډېره تېزۍ سره په دې لار راروان و، دا مرید او نور خلك وډار شول چې اوس به څه کیږي نو خپل موټر یې ودرولو خو له دې سره بیا هم غټ خطر و ځکه دا آس ډېر په تیزۍ له سپاره پرته را روان و، کیسه کوونکی وایي د مرید په زړه کې وګرځېدل: که زما پیر او مرشد حاضر وای نو دعا به یې کړې وه، ایله به مې همدومره فکر کړی و چې حضرت شیخ د آس واګې ونیولې او چیرته ورك شو.

د دې په اړه بریلوي ملا وایي:

سینکڑوں میل کی دوری سے دل میں آنے والی سوچ کو سنا ہی نہیں بلکہ معلوم کر کے کہ مرید کو کسی جگہ پر ضرورت پیر ہے وہاں پلک جھپکنے میں پہنچ کر منہ زور گھوڑے کی لگام پکڑ غائب ہوجانا کہ کہیں مرید کو حادثہ پیش نہ آجائے مشکل کشائی نہیں تو اس کو کیا نام دو گے؟

[تبصره از ارشد القادري مصنف "زلزله"]

ژباړه: له سلګونو میله لرې واټن ځخه په زړه کې تیریدونکی سوچ یې یوازې وانه وریدو بلکې دا یې معلوم کړ چې مرید ته په کوم ځای کې د پیر ضرورت دی، هلته د سترګو په رپ کې رسیدو سره د تیز آس واګې نیول او ورکیدل چې

هسې نه مريد ته څه ستونزه پېښه نشي نو که دا مشکل کشايي نه وي نو دي ته څه نوم ورکوئ ؟! په نغدو کې يوه بله کيسه واورئ او د توحيد توی شوې سره وينه په خپلو سترګو وګورئ:

د مشکل لرې کولو يو بل انداز:

په تېرو دواړو کيسو کې مشکل لرې کوونکي په خپله کښتۍ د سمندر په چپو کې له غرقېدو څخه ژغورلې ده. په دې ځای کې د حاجي امداد الله د عقيدې يو بل اړخ د مخلوق له لوري د بندګانو د اړتياوو (حاجتونو) پوره کولو په اړه وګورئ، حاجي امداد الله فرمايي چې: "ايک دن حضرت غوث الاعظم ساتھ اولياء اللہ کے ہمراه بيٹھے ہوئے تھے- ناگاه نظر بصيرت سے ملاحظہ فرمايا کہ ايک جہاز قريب غرق ہونے کے ہے- آپ نے ہمت و توجہ باطنی سے اس کو غرق ہونے سے بچا ليا- [شمائم امداديه حصه دوم؛ ص43]

ژباړه: يوه ورځ غوث الاعظم له اوه (7) تنو اولياء الله (د الله دوستانو) سره ناست و. ناڅاپه د بصيرت په نظر يې وليدل چې يوه سمندري کيښتۍ غرقېدو ته نږدې شوې ده. هغه په همت او باطني توجه سره دا کښتۍ له ډوبيدو څخه وژغورله.

تاسې وليدل چې په کوم انداز يې د الله عزوجل صفت د بنده لپاره ثابت کړ، الله فرمايي: ﴿وَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ﴾ [سُورَةُ البَقَرَة: 117]

ژباړه: او د کوم کار پرېکړه (فيصله) چې صادره کړي، صرف دومره امر ورته کوي چې "شئ" نو هغسې کېږي.

او په دې ځای کې پير صاحب، نه چېرې تللی او نه راغلی او نه يې کښتۍ (جهاز) ته اوږه ورکړې او نه يې څه زور کړی دی، يوازې "د مؤمن په ليدلو سره د تقديرونو په بدليدو"، يې عمل وکړ او د كُنْ فَيَكُوْن د صفت ښکارندوينه (اظهار) يې وکړ، له دې پرته حاجي امداد الله، عبد القادر جيلاني صاحب ته د غوث الأعظم (تر ټولو ستر کومک کوونکي) صفت ورکوي او په دې شرك او مرض کې ورسره اشرف علي تهانوي هم شريک دی؛ لکه هغه په يوې کيسې خپله تبصره کوي، وايي:

غوث الاعظم څوك؟

"اور مجھ کو حضرت غوث الاعظم رحمہ اللہ عليہ کی خوشی ياد آگئی" [ارواح ثلاثه: ص 123]

ژباړه: او ما ته د حضرت غوث الاعظم خوشحالي را په ياد شوه.

تاسې دا پرېکړه وکړئ چې غوث الأعظم يعنې تر ټولو ستر کومک کوونکی الله عزوجل دی او که مخلوق دی؟ حال دا چې الله عزوجل فرمايي: ﴿ثُمَّ إِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فَإِلَيْهِ تَجْأَرُوْنَ﴾ 53 ﴿ثُمَّ إِذَا كَشَفَ الضُّرَّ عَنْكُمْ إِذَا فَرِيْقٌ مِّنْكُمْ بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُوْنَ﴾ 54 [سُورَةُ النَّحل: 53 ـ 54]

ژباړه: بيا کله چې پر تاسې کوم سخت وخت راځي نو تاسې په چيغو سره د همغه (الله) لوري ته ورځغلئ. خو کله چې الله هغه وخت دربانديې تېر کړي نو نا څاپه له تاسې يوه ډله، خپل رب سره نور شريکوي.

له الله عزوجل پرته بل هيڅوك مرستندوی او فرياد اورېدونکی نشته، لکه څنګه چې الله عزوجل فرمايي: ﴿أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ السُّوءَ﴾ [سُورَةُ النَّمل: 62]

ژباړه: څوك دی چې د بې کسه او بېوسه دعا اوري؟، کله چې هغه يې وبلي او څوك د هغه کړاو لرې کوي؟

د ديوبنديانو حضراتو په فکر دا خلک مشکل لرې کوونکي دي ځکه دا الله دوستان دي او د الله د دوستانو په اړه د ديوبنديانو دا عقيده ده. لکه څنګه چې حاجي امداد الله فرمايي:

اولياء د عالَم ستنې :

"اولياء اللہ عالم کے دعائم ہيں يعنی ستون" [شمائم امداديه: حصه دوم؛ ص55]

ژباړه: د الله دوستان د دنيا ستنې (بنيادونه) دي. لکه څنګه چې يو چت د ستنو په مټ ولاړ وي، همدا رنګه د الله په اولياوو دا دنيا له هلاکت څخه محفوظه ده او له دې امله ورته د غوث الأعظم نوم اخلي او دا خبره له لاندې کيسو څخه هم معلومېږي.

له ډوبېدو څخه ژغورل:

مولوی محمد نبيه صاحب فرماتے ہيں کہ ايک صاحب تهانہ بھون کے رہنے والے دہلی ميں مجذوب کے پاس

دعا کے لئے حاضر ہوئے تو اس نے کہا کہ تھانہ بھون ابھی تک غرق نہیں ہوا۔ اس نے عرض کیا کہ حضرت میں تو دعا کے واسطے حاضر ہوا ہوں اور آپ بد دعا فرما رہے ہیں انہوں نے جواب دیا کہ تھانہ بھون اب تک ضرور غرق ہو جاتا مگر وہاں دو شخص ہیں ایک مردہ ایک زندہ۔ایک تو شاہ ولایت صاحب وہاں لیٹے ہوئے ہیں (ان بزرگ کا مزار تھانہ بھون میں ہے) اور ایک مولانا اشرف علی صاحب ان دونوں کی برکت سے تھما ہوا ہے ورنہ ضرور غرق ہو جاتا. [ارواح ثلاثه: ص 413]

ژباړه: مولوی محمد نبیه فرمايي: یو صاحب د تهانه بهون اوسېدونکی، په ډهلي ښار کې د یو مجذوب خواته د دعا لپاره ورغی نو هغه مجذوب ورته وویل چې تهانه بهون تر دې وخته نه ده تباه شوې؟ نو صاحب ورته وویل: حضرت! زه د دعا لپاره راغلی یم او ته ښېرا کوې؟ نو هغه ځواب ورکړ چې دا تهانه بهون به تر اوسه تباه شوې وای خو هلته دوه کسان دي، یو ژوندی دی او بل مړ دی، یو حضرت شاه ولایت صاحب دی (چې د ده قبر په تهانه بهون کې شتون لري) او یو اشرف علي تهانوي دی؛ د دې دواړو له برکته تهانه بهون محفوظه ده او که نه نو خامخا به تباه شوې وای.

د دیوبندیانو د عقیدې په اساس، یوه سیمه د مړو د قبرونو او د ژوندیو د کورونو له امله محفوظه وي او که دا نه وای نو خامخا به برباده شوې وای، د الله په قانون کې د دنیا حفاظت په څه باندې ولاړ او موقوف وي؟ تاسو دا وګورئ.

قال الله تعالی: ﴿إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ أَن تَزُولَا وَلَئِن زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّن بَعْدِهِ﴾ [سُورَةُ فَاطِر: 41]

ژباړه: یقینا یوازې همدا الله دی چې اسمانونه او ځمکه یې له منځه تلو څخه ساتلي دي او که هغه بې ځایه شي نو له الله وروسته کوم بل څوک د هغو راټینګوونکی نشته.

د الله په قدرت سره دا ښارونه او کلي محفوظ دي او که داسې نه وي نو دا هیڅ څوک نشي ساتلی، دا د فکر او افسوس ځای دی چې د دیوبندیانو د عقیدې په اساس، دا سیمې او ښارونه د یوه مړي د قبر او د یوه ژوندي انسان اشرف علي تهانوي په سبب محفوظ دي او که دا دواړه نه وای نو دا به ډوب او تباه شوي وای؛ حال دا چې د الله عزوجل قانون دا دی چې ژوندي انسانان او مړي هیڅ یوه سیمه یا یو کلی نشي ژغورلای (خو دومره خبره ده چې انبیاء ترې مستثنی دي چې د هغوی د شتون پرمهال الله په یوه سیمه عذاب نه راولي) او دا کلي په هغه وخت کې تباه کیږي چې دې خلکو کې ظلم او زیاتی را پیدا شي، لکه الله فرمايي: ﴿وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي الْقُرَىٰ إِلَّا وَأَهْلُهَا ظَالِمُونَ﴾ [سُورَةُ القَصَص: 59]

ژباړه: او مونږ نه یو هلاکوونکي د یوه کلي (سیمې) ترڅو چې اوسېدونکي یې ظالمان نه وي .

بل ځای کې فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرَىٰ بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ﴾ [سُورَةُ هُود: 117]

ژباړه: ستا رب کلي نه هلاکوي، په داسې حال کې چې د هغې اوسېدونکي نیکان وي.

اوس که په تهانه بهون کې ظالمان وای نو الله به تباه کړې وای ځکه الله "لَا يَخَافُ عُقْبَاهَا" ذات دی او هغه د دې له انجام څخه نه ډارېږي، الله عزوجل نه له ژوندي ډار کوي او نه له مړي خو که د دې سیمې اوسېدونکي نیکان وي نو الله یې نه هلاکوي، په دې کې د مړي او ژوندي هیڅ توپیر نشته، خو دې خلکو ټول چل دې ته جوړ کړی چې خلک دوی ته مشکل لرې کوونکي، د دنیا نظام چلونکي او دنیا له هلاکت او بربادۍ څخه ژغورنکي وایي، خلک همدوی ته غږونه وکړي او د دوی څخه په سختو کې کومک وغواړي. لکه دا خبره به له دې را روانو کیسو څخه معلومه شي، الله عزوجل فرمايي: ﴿أَمَّن يَهْدِيكُمْ فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ﴾ [سُورَةُ النَّمل: 63]

ژباړه: او هغه څوک دی چې د وچې او سمندر په تربرو (تیارو او تورتمونو) کې تاسې ته لاره ښايي.

نو د دې خلکو دا عقیده، د قران له صریحو آیاتونو

څخه خلاف ده، بریلویان چې وايي خضر علیه السلام بې لارو مسافرو ته په ځنګلونو او دریابونو کې لاربښودنه کوي نو دیوبندیان پرې رد کوي او دا شرکیات بولي خو د خپلو مشرانو، ملایانو دا ډول خبرې ورته د ایمان او اسلام خبرې ښکاري، د "درس حیات" کتاب لیکوال له خپل استاذ او د خپل جماعت له مشر خدمت کوونکي څخه د تصرف او قدرت کیسه بیانوي:

لار ورکو ته لار ښودل:

یو پنډت (د هندوانو دیني مشر) د کامل پیر په لټه کې شپه او ورځ ګرځېده نو ناڅاپه یې له یوې مجذوبې (لیونۍ) ښځې سره ولیدل، هغې ورته د ګړهول سیمه وښوده چې هلته ستا د درد دوا شته. د دې پنډت د سفر حالات تاسو د "درس حیات" له مصنف څخه واورئ:

(دوپہر کا وقت تھا اور گرمی کا زمانہ جو گیارہ سٹیشن سے پیدل گڑھول جا رہے تھے- گرمی کے دنوں میں دوپہر کے وقت لوگ عموما گھروں کے اندر پناہ لئے ہوتے ہیں باہر راستے میں چلتے ہوئے لوگ نہیں ملتے- یہ کئی جگہ راستہ بھولے اور ہر جگہ ایک ہی صورت کے ایک ہی شخص نے ظاہر ہو کر راستہ بتلادیا- جب گڑھول پہنچے حضرت کے جمال جہاں آرا پر نگاہ پڑی تو دیکھا کہ یہ تو وہی ہیں- بے اختیار عرض کیا بادشاہ میرے حال پر رحم کیجئے اور مجھ کو رستہ بتلائیے- حضرت نے پوچھا کیا بات ہے کیا چاہتے ہو؟ عرض کیا گڑھول آتے ہوئے جہاں کہیں رستہ بھولا تو بادشاہ آپ نے ظاہر ہو کر راستہ بتلایا- اب آپ پوچھتے ہیں کہ میں کیا چاہتا ہوں- آپ کو سب معلوم ہے کہ میں کیا چاہتا ہوں- [درس حیات: ص300]

ژباړه: د غرمې وخت و او د ګرمۍ په موسم کې له جوګیاره سټیشن (اډې) څخه ګړهول سیمې ته پلي (پیاده) روان و. د ګرمۍ په موسم کې خلک غرمه په خپلو کورونو کې وي، په لارو کې څوک نه لیدل کیږي او پنډت په څو ځایونو کې لاره غلطه کړې وه خو په هر ځای کې د یوه شکل خاوند ورته لار ورښودله، کله چې ګړهول سیمې ته ورسېد او په حضرت باندې یې سترګې ولګېدې نو ورته معلومه شوه چې دا هغه انسان دی چې ماته یې لار ښودله نو بې اختیاره یې ورته وویل: ای باچا! زما په حال رحم وکړه او ما ته لار راوښیه؛ نو حضرت ورڅخه پوښتنه وکړه: څه خبره ده او ته څه غواړې؟ نو پنډت ورته وویل: په ګړهول سیمه کې څو ځایه راڅخه لار ورکه شوه، پاچا تا راته راښودله او اوس ته دا پوښتنه کوې چې ته څه غواړې؟! تا ته دا هر څه معلوم دي چې زه څه غواړم).

نو داسې معلومیږي چې پیر ورته له غیبو خبر ښکاري او که دا خبره داسې نه وي نو پیر ته څنګه معلومه شوه چې یو غریب هندو زما د خانقاه (عبادت ځای) لاره ورکه کړې ده، نوموړی چې پخپله خانقاه کې ناست دی او د پنډت هر یو حرکت څاري، یا له پنډت سره نژدې دی چې لار ورڅخه ورکه شي نو لار ښوونه ورته کوي او یا نه د براق په څېر تیزه سورلۍ وه چې د سترګو په رپ کې هم له مسافر سره وي او هم په خپل دربار کې، بیا چې پنډت د خپلو مخکینیو تجربو په اساس دا دعوی وکړه چې تا ته دا هر څه معلوم دي چې زه څه ویل غواړم.

بله دا چې حضرت صاحب دا خبره په دې مقام کې اشارتاً هم ونه کړه چې دا د شرك عقیده ده، دا د الله ځانګړتیا ده او مونږه خو بریلویانو ته ځکه مشرکان وایو چې هغوی د غیر الله په اړه دا ډول عقیده لري.

دا واخلئ د توحید د عقیدې پر خلاف له شرك څخه ډکه یوه بله کیسه چې په دې کې یو انسان، په خپل روحاني تصرف سره، له خپل شاګرد او مرید څخه شیطان شړلی و:

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو: د دیوبندیانو د شرکي عقائدو او نورو خرافاتو په اړه د دې علمي، تحقیقاتي، مالوماتي او مدللې سلسلې دریېمه برخه همدومره وه تاسې به د دې سلسلې څلورمه برخه د مجلې په را روانه ګڼه کې ولولئ، ان شاء الله.

مؤمنان
گهونكي دي

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على رسول الله صلى الله عليه وسلم و على اله و صحبه اجمعين.

الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَٰفِرِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِندَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا. (سُورَةُ النِّسَاء : ۱۳۹).

ژباړه: هغه کسان چې مؤمنانو پرېږدي، له کافرانو سره د دوستۍ اړيکي ټينګوي، آيا دا خلك د عزت لاس ته راوړلو لپاره هغو ته ورځي؟ په داسې حال کې چې هر راز عزت يواځې د الله لپاره دی.

الله عزوجل خپل نبي صلی الله عليه وسلم ددې لپاره راليږلی دی چې صفا دين (قرآن او سنت) خلکو ته بيان کړي، هغه خپله ذيمه واري پوره کړه، دين يې بيان کړ، حق او باطل واضحه شو.

په بعضو شيانو يې امر وکړ او د ځينو څخه يې منع وکړه.

د الله تعالی رسول صلی الله عليه وسلم چې د نبوت څخه مخکې په امين مشهور وو هر انسان يې قدر کاوه، خو کله چې يې صفا دين بيان کړ او ويې ويل چې د الله تعالی نه سيوا بل حقدار د بندګۍ نشته، نو خپل هم ترې پردي شول، ترديدي چې جناب نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته يې پدې لار کې ډير تکليفونه ورسول، او دا تکليفونه يوه ورځ او دوه ورځې نه وو بلکې مسلسل پرله پسې روان وو.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم ملګري يې هم وځورول، مشرکانو به مختلفې حربې استعمالولې، مختلف تبليغات به يې کول، کله به يې ورته جادو ګر ويل، کله به يې ورته صابي ويل، کله به يې ورته کاهن، کله شاعر او کله به يې نور تبليغات ورپسې کول، خو دې تبليغاتو د رسول الله صلی الله عليه وسلم دعوت ټکنی نکړ، بلکې خلکو ته پکې دعوت پروت وو، مشرکانو ته تبليغاتو کومه فايده ورنکړه، اخر يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه ملګرو ځورول نور هم زيات کړل، د مسلمانانو نيول، وهل، تړل، ترديدي چې مسلمانان يې په هجرت کولو مجبور کړل، آخر رسول الله صلی الله عليه وسلم هم هجرت کولوته اړ شو.

كفار نور هم پريشانه شول او دا يې نشو برداشت كولى چې مسلمانان دې خپل يو اسلامي نظام ولري او د يو رب العالمين بندګي دې وكړي او يو الله جل جلاله ته دې خلك ارا دعوت كړي، كفارو دشمني له مخكې څخه سخته كړې وه ،خو دې سره يې نوره هم سخته كړه او دا کوشش يې کاوه چې اسلامي نظام له منځه يوسي.

الله عزوجل فرمايي: {يُرِيدُونَ أَن يُطْفِـُٔوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَيَأْبَى اللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَٰفِرُونَ} (سُورَةُ التَّوبَة: ۳۲)

ژباړه: دا خلك غواړي چې د الله رڼا په خپلو پوكيو سره مړه كړي، خو الله د خپلې رڼا له بشپړولو پرته منونكی نه دی، كه كافرانو ته دا هر څومره ناكاره و بريښي هم.

بل ځای فرمايي: {يُرِيدُونَ لِيُطْفِـُٔوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ الْكَٰفِرُونَ} (سُورَةُ الصَّف: ۸)

ژباړه: دوی د خولو په پوكيو سره د الله د رڼا مړه كول غواړي او د الله فيصله دا ده چې هغه خپله رڼا بشپړه خوره كړي كه د كافرانو دا هر

ځومره بده ايسي هم. خو د الله تعالی فيصله بدله وه هغه دا چې ورځ په ورځ خلک د الله تعالی په دين کې داخليدل، د الله تعالی رسول صلی الله عليه وسلم ته الله تعالی فتحې ورکولې او د مشرکانو ارمانونه الله عزوجل د خاورو سره خاورې کړل. الله عزوجل رسول الله صلی الله عليه وسلم او د هغه ملګرو ته غلبه ورکړه او مشرکان الله تعالی ذليل کړل او ډلې ډلې خلک به د الله تعالی په دين کې داخليدل.

الله تعالی فرمايي: {إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ؛ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا} (سُورَةُ النّصر : ٢-١).

ژباړه: کله چې د الله مرسته راشي او بری در په برخه شي؛ او [ای پيغمبره (صلی الله عليه وسلم)!] ته به ووينې چې خلک ډلې ډلې د الله په دين کې داخليږي..

اوس همغه تاريخ تکراريږي د نبوي منهج لارويان د اسلامي دولت سرښندويان له همغسې سختو حالاتو تيريږي څنګه چې د رسول الله صل الله عليه وسلم ملګري تري تيريدل ددې عصر مشرکان او د دوی ملګري ټول د اسلامي دولت مجاهدينو ته يو ځای شوي او چې کوم زور لري ټول ددوی په خلاف استعمالوي، د اوسني دور کفار او د هغوی دوستان پدې کوشش کې دي ، چې څنګه اسلامي نظام له منځه يوسي، او د اسلام اصلي ځېره بدله کړي او خلکو ته يې د ديموکراسی، جمهوريت او يا هم د شرکي تصوف په شکل رامخ ته کړي کفار ددې لپاره ډير مصارف کوي، په ميلياردونو ډالر خرڅ کوي، دا خبره د هيچا نه پټه نده اوس نو خبره تر تولو ډيره واضحه ده ، د روافضو په شرکي کړنو هيڅ پابندي نه شته بلکې زمينه سازي ورته روانه ده ، قبر پرستي او تصوف خه په اوج کې دی ، طالب مرتدين هم په دوحه کې ډيزاين شوي نوي ديموکراسي د اسلام په نامه حاکموي او ددې هر څه د حمايې او تقو يې لپاره هره اونۍ امريکا ټالبانو ته څلويښت ميلونه ډالري کڅوړې رالېږدي او ورسره نور لس ميلونه ډالر د اسلامي دولت د ځپلو لپاره پټ ورکوي، او نورې پټې مرستې خو پټې دي.

دا احمقان کوښښ کوي چې د عوامو مسلمانانو په سترګو کې خاورې واچوي تر څو پدې پوه نشي چې دا کومکونه ورسره د ا سلام او د مؤمنانو د ځپلو په پار کوي.

کفار يو د بل سره ترونونه کوي تر څو اسلامي نظام ختم او پر ځای يې د کفارو د خوښې مطابق نظام پلې کړي، تاسو به د دوی کنفرانسونه او غونډو څخه خبريږئ، د اکثره غونډو اجنډاوې يې دا وي چې اسلامي دولت د نړۍ لپاره يو لوی خطر دی او بايد په شريکه يې مخه ونيسي ، دوی که څه هم پخپلو کې سره اختلاف لري خو بيا د اسلامي دولت په

مقابل کې سره یو بل ته
لاس ورکوي، هدف او مقصد
یې دا وي چې اسلامي نظام
د الله تعالی په ځمکه
رانشي، او که اسلامي نظام
وي هم نو د دوی (امریکا) د
خوښې مطابق داسې نظام
وي لکه اوسني طالباني
نظام.

کفار هغه نظام غواړي
چې د توحید لارویان پکې
باید وځپل شي

او هغه نظام چې شرعي
واضحه حدود پکې معطل
کړی شي

څه وخت مخکې د بایډن
ملیشو (ټالبانو) یو لوړ
پوړی چورواکی عبدالغني
حقبین په فحاشی ونیول
شو، دا چې دغه چورواکی
د هیبت الله د نژدې کسانو
څخه وو نو ډیر ژر یې د
زندان څخه خوشې کړ
تردې چې ښه په سپین
سترګی د ډزو په شور کې
په قندهار کې استقبال هم
وشو، او بېرته خپلې دندې
ته ولاړ.

د دوی یو بل لوړ پوړ
چور واکی د فحاشو ښځو
او شرابو سره ونیول شو، او
نیونکو کسانو تري ویډیو
هم وکړله، لیکن هیڅ یې
هم ورته ونه ویل او ښه
جګې سترګې ازاد پرېښودل
شو، نه په دورو ووهل شو
او نه هم پرې بله کومه
شرعي فیصله وشوه.

سره له دې چې طالب
ملیشې د جعلي شریعت
ډیرې مانورې او ډرامې
وړاندې کوي ، محصن زاني
د رجم په ځای په ۳۹ دورو
وهلو پرېږدي ، غله ته د لاس
په ځای ویښته پرې کوي
او همداسې نور حدود یې
هم درواخله ، خو کله یې
چې خپل چورواکي په زنا
او غلا کې ونیول شي خپله
په خپلو جرمونو اعترافات
هم وکړي او دوی تري
خپله ویډیو هم وکړي خو
څه وخت د زندان په نامه
ددوی په میلمستونونو کې
د څو شپو تیرولو پس د
حقبین (!) په څېر بیا اذاد
ګرځي یاني خپلو چاړواکو
ته ددوی د خپل خواهش
مطابق د حدودو په نوم
رایج شوي سزاوې هم نه
ورکوي .

همداسې نور هم ډیری
مثالونه شته چې د بایډن
کرایي ملیشو پکې هغه
ناروا کړیدي چې په
خوله د ویلو او په قلم د
لیکلو ندي الغرض کفار
هغه نظام غواړي چې په
توحید بیانولو او هغې ته
دعوت کولو او د رسول
الله صلی الله علیه وسلم
په سنتو عمل کولو باندې
پابندي وي.

نو دا هم ستاسو څخه پټه
نده چې د بایډن ملیشو
په مؤحدینو څومره پابندي
لګولې، مدرسې یې وربندې
کړې، د قرآن تفسیر کول یې
پرې بند کړ، مؤحدین علماء
او عام مؤحدین یې ووژل، د
سنت په طریقو یې پابندي
لګولې هر څوک چې په
سنت عمل کوي هغه وهي
، تړي او ټکوي.

کفار هغه نظام غواړي
چې د یهودو پشان پکې
حیلې وشي چې غل ته مخ
تور شي او متاهل زنا کار
پکې رجم نشي.

هغه نظام چې د الله
تعالی د رسول صلی الله
علیه وسلم بې بې او د
مؤمنانو مورعایشې رض
الله عنها دښمنانو ته پکې
پوره برخه او ازادي ورکړل
شوي وي ،هغه نظام چې د
همدې د روافضو پکې پوره
ساتنه کېږي.

هغه نظام چې شرکي
مزارونه پکې ښه په درز
کې اباد وي

هغه نظام چې د بتانو
پکې ساتنه کېږي.

حال دا چې رسول الله
صلی الله علیه وسلم به
یو بت هم نه پرېښوده.
تاسو به خبر یاست چې
ټالبانو د بامیانو او په
نورو ځایونو کې د بتانو
د جوړونې او ساتنې لپاره
ځانګړي اداره جوړه کړېده.

هغه نظام چې یهودو او
نصاراؤ سره پکې دوستانه
وي او مؤمنانو سره دښمني.

او حال دا چې الله تعالی
فرمایي: {وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ
الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ
تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ } (سورة
البقرة: ۱۲۰).

ژباړه: یهودیان او عیسویان
به هیڅکله له تا څخه
خوشحاله نشې، تر څو
ته د هغو په لاره (دین) لاړ
نشې.

بل ځای الله تعالی
فرمایي: {لَّا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ
الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ
الْمُؤْمِنِينَ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ
فَلَيْسَ مِنَ اللَّهِ فِي شَيْءٍ}
(سورة آل عمران: ۲۸).

ژباړه: مؤمنان دې هیڅکله
داسې نه کوي چې مؤمنان
پرېږدي او له کافرانو سره
ملګرتیا او دوستي وکړي.
څوک چې داسې چلن
وکړي، د هغه له الله سره
هیڅ اړیکه نشته.

نو معلومه شوه چې یهود
او نصارا هغه وخت درځخه
راضي کېږي چې تا د خپل
دین څخه واړوي.

کفار هغه نظام غواړي
چې قومیت او وطنیت ته
پکې ښه ترجیح ورکول

کېږي که د کرښې نه اخوا بشه مؤمن وي او ستا د ملک نه وي هغه حق نلري چې ستا ملک ته راشي او که ستا په ملک کې کافر، مشرک، مرتد وي هغه ستا ورور دی.

حال دا چې الله تعالی فرمايي: {إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ} (سُورَةُ الْحُجرَات: ١٠).

ژباړه: مؤمنان خو يو د بل سره وروڼه وي.

په اسلام کې غوره والی په تقوا دی، عرب، عجم، سپين، تور، سور فرق نلري، ځکه الله تعالی فرمايي: ان اکرمکم عندالله اتقاکم.

د الله تعالی په نزد غوره په تاسو کې تقوا دار (د الله څخه وېره لرونکی) دی.

دوی (ټالبان) او د دوی باداران (امريکا) دا فکر کوي چې اسلامي امت ټول به ګنې ددوی د تالي ځټو طالب احمقانو په څېر له عقل او سعور څخه خلاص وي او دا د دوحې په سالونونو کې ډيزاين شوی پاکستانی اسلام به د حقيقي اسلام په حيث ومني او ټول امت به دوکه کړي ؟

خو هيڅکله داسې نه ده.!

لله الحمد ټول مسلمانان پدې پوه شوي دي چې دا اسلامي نظام نه بلکې يو ديموکراتيک او شرکي نظام دی ددې لپاره دوی فکري جګړې ته ډېر پام کړی دی، هغه دا چې يو ځای بل ځای يې يو څو کسان ووهل او په ميډيا کې به يې وويل چې نن دومره ځايونو کې حدود جاري شول، حال دا چې تر اوسه نه د کوم غل څخه لاس پرې شوی او نه هم متاهل زنا کار رجم شوی. سودي کاروبار هماغه شان جاري دی، بانکونو کې به تاسو وينئ.

څرنګه چې د مکې مشرکانو پخپل ټول قوت سره دا کوښښ کاوه چې د مسلمانانو جماعت زيات نشي او په نړۍ اسلامي لښکري غلبه حاصله نکړي، همدارنګه اوسني وخت کې هم د ابوجهل او ابو لهب په قدم تلونکي پخپل ټول نظامي، اقتصادي قوت سره دا کوښښ کوي چې اسلامي دولت په نړۍ واک ونلري، او د الله تعالی سپيڅلی شريعت چې هغه قرآن او سنت دی نافذ نکړي.

الله تعالی فرمايي: {لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَمَأْوَاهُمُ النَّارُ وَلَبِئْسَ الْمَصِيرُ} (سُورَةُ النُّور: ٥٧).

ژباړه: کوم کسان چې کافران دي، د هغو په باب په دې غلطه انګېرنه کې مه اوسه، چې هغوی به په ځمکه کې الله بې وسې کړي. د هغو هستوګنځی اور دی او هغه ډېر ناکاره هستوګنځی دی.

کفار دې پدې پوه شي مؤمنانو سره خپل رب وعده کړېده چې هغوی ته به په ځمکه واک ورکوي، که څه هم لږ امتحانات به پرې تېريږي.

ځکه الله تعالی فرمايي: {وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّلِحَتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِى ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِى لَا يُشْرِكُونَ بِى شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَسِقُونَ} (سُورَةُ النُّور: ٥٥)

ژباړه: الله ستاسو د هغو کسانو سره چې ايمان راوړی او ښه عملونه وکړي، وعده کړېده چې هغوی په ځمکه کې هماغه شان خليفه ګان وګرځوي لکه چې له هغو څخه مخکې تېر شوي خلک يې ګرځولي ول، د هغو لپاره به هغه دين پر محکمو بنسټونو ودروي چې الله تعالیٰ ورته خوښ کړی دی. او د هغو د وېرې (اوسنی) حالت به په امن ورته بدل کړي. هغوی دې زما بندګي کوي او زما سره دې کوم شی نه شريکوي. او څوک چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو همداسې کسان فاسقان دي.

دا د رب وعده ده، لکه څنګه چې مخکني امتونو کې الله عزوجل مؤمنانو سره خپلې وعدې پوره کړې وې همدارنګه دې امت سره يې هم پوره کوي، او د په ځمکه کې به ورله تمکين ورکوي، ان شاءالله تعالی.

او دا د الله رب العالمين سنت دی چې هميشه لپاره کمزوری ډله د مؤمنانو په لويه ډله د کفارو باندې غلبه کوي خو په منځ منځ کې د مسلمانانو د بعضو اعمالو له وجې امتحانات راولي، او هغه امتحانات د مسلمانانو لپاره اجر او د صف د پاکوالي سبب شي.

الله عزوجل فرمايي: {كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّبِرِينَ} (سُورَةُ البَقَرَة: ٢٤٩)

ژباړه: ډېر ځله داسې شويدي چې يو وړوکې

ټولګی د الله په امر پر یوې لویې ډلې برلاسه شوېده. الله د صبر کوونکو ملګری دی.

نو د کفارو دغه غونډې او مصارف اسلامي دولت ته کوم تاوان نشي رسولی بلکې بیا به همدوی په دې مصارفو او خرچو حسرت ښکاره کوي او ښکاره کړي یې هم دی، لکه څه موده مخکې د امریکا په هغه وخت کې جمهور رئیس ډونالډ ټرمپ دغه خبره کړې وه.

الله تعالی فرمایي: {إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ} (سُورَةُ الأنفَال: ٣٦).

ژباړه: کومو خلکو چې د حق له منلو څخه انکار کړی دی، هغوی خپلې شتمنۍ د الله له لارې څخه د منع کولو لپاره لګوي او اوس به یې لا زیات لګوي. خو په پای کې به همدا هلې ځلې، د هغو لپاره د پښېمانتیا سبب وګرځي. بیا به هغوی مغلوب وي، بیا به دا کافران د دوږخ لوري ته محاصره شوي ورشي.

د دوی (کفارو) په اول کې دا ګمان وي چې ګنې اسلامي دولت مو ختم کړ بیا کله چې د دوی د طمعې خلاف هغوی (اسلامي خلافت) ته الله تعالی فتحه نصیب کړي او شرعي نظام نافذ کړي نو بیا د کفارو مرۍ وپرسیږي او هر ځای همدا چغې وهي چې اسلامي دولت پرمختګ کړی او ګواښ دی نړۍ ته.

الغرض کفار هغه نظام غواړي چې د هغوی ګټې پکې خوندي وي، هغوی ته پکې خطر نه وي، شرک، بت پرستي، شراب، بې حیایي، بدمتوب، قومیت، وطنیت، دیموکراسي، ډله بازي او نور د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم مخالفتونه پکې ازاد وي.

خو د الله مؤمنان بندګان د توحید د روښآنه لارې لارویان د اسلامي دولت سرښندویان بیا په ټوله نړۍ هغه نظام غواړي چې کفارو سره په کې دښمني وي ، کفار په کې مغلوب او جزیې ورکولو ته مجبور وي ، د کفارو په زندانونو کې د اسلامي امت لوڼې بندی نه وي بلکې د کفارو ښځې د مسلمانانو وینځې وي ، هغه نظام چې ټول اسلامي امت په کې د یو بیرغ لاندې راټول وي دا د وطنیت او قومیت په فکر او فهم راکښل شوي فزیکي او معنوي کرښې نړول شوي وي او ټوله اسلامي خاوره اذاده وي ، هغه نظام چې د نړۍ له مخه د شرک او دیموکراسۍ تور تغر ټول شوي وي او هغه نظام چې ......

نوالله عزوجل د همدغسې نظام غوښتونکو ته په صراحت سره ویلي چې په تاسې به ازمایښتونه راځي ، ستاسې په صف کې به صابره او باثباته خلک پاتې وي نور منافقین ، مرجفین او نور ګډوډ خلک به مو له لیکو د همدې سختو امتحاناتو له کبله ووځي او بیا به تاسې ته الله په نړۍ خلافت او واک درکوي نو الله عزوجل نه سوال کوو چې په ټوله نړۍ زمونږ په ژوند یو اسلامي نظام قایم کړي، چې مؤمنان او مسلمانان پکې سر لوړي او د الله تعالی دښمنان پکې ذلیله او سر ټیټي وي.

و صلی الله علی نبینا محمد وعلی اله وصحبه وسلم.

د اذان غږ

د آذان غږ دی کلیسا نه به ناقوس والوزي
بازان هوا کې دي نو څنګه به ټپوس والوزي؟!

***

ځينې وختونه بلا کيف وکړي دا زړه خوشال کړي
لکه په بم دې کينولی پوخ جاسوس والوزي

***

د اسلامي دولت د زور کيسه چې چرته کيږي
د امريکا پښې په لړزه شي، زور د روس والوزي

***

د ملحدينو، روافضو قتل عام په کار دی
چې په خپل کور کې دا نجس ايران مجوس والوزي

***

د منافق سړي غپا مجاهدينو پسې
لکه هوا ته چې بس هسې تش کارتوس والوزي

***

ده يې اخيستی په ټيکه اوس حمايت د صليب
ځکه بريدو کې مليشې رسوا منحوس والوزي

***

غواړي چې وکړي مخنيوی د خلافت د قيام
خو د ټلوالو دا خوارۍ به لکه بوس والوزي

***

چې طواغيتو سره کړس کړس خنداګانې کوي
پاتې کالي يې د حياء، عزت، ناموس والوزي

(2)

د الله د نصرت او تمکین اسباب

د الله د نصرت او تمکين اسباب (۲)

عزتمندو ورونو او خوېندو!

د حــق او د باطــل مبــارزه د آدم علیــه الســلام د زمانــې څخــه شروع شــوې او تــر هغــې بــه د دې مبــارزې لمبــې مــرې نــشي څــو پــورې چــې رب العالمیــن قیامــت نــه وي قائــم کــړی او رب العالمیــن خپلــه آخــري فیصلــه نــه وي کــړې، نــو پــه همــدې اســاس دا مبــارزه روانــه ده، باطل پرســت هــم د خپلــې باطلــې عقیدې پــر بنیــاد او د باطلــو اهدافــو د لاســته راوړلــو پــه خاطــر کوښــښ کــوي، شــپه او ورځ یــې یــوه کــړې، تــر څــو د ځــان لپاره د کامیابـۍ وسـائل او اسـباب ولټـوي او پـه دې مبــارزه کــې یــې کامیابــي پــه نصیــب شي، نــو مؤمنــان خــو بــه پــه طریــق اولی ســره د نــصرت او د کامیابــۍ د اســبابو طلــب کــوي ځکــه مؤمنــان پــه حقــه دي! مؤمنانــو ســره د رب العالمیــن صحــې او ســپیڅلی نظــام دی!

لــه همــدې وجــې مؤمنانــو تــه رب العالمیــن پــه خپــل کتــاب کــې او محمــد رســول اللــه صلــی اللــه علیــه وســلم پــه خپلــو ســنتو کــې بــار بــار د هغــه اســبابو او وســائلو توصیــې کــړې چــې یــو مؤمــن تــه د هغــه پــه ســبب د رب العالمین نــصرت او مــدد حاصلیــږي، او پــه نتیجــه کــې یــې رب العالمیــن پــه دنیــا کــې تمکین ورکــوي او همــدې وســائلو او اســبابو تــه یــې ترغیبــات ورکــړي، او د هغــه د مخالفــت څخــه یــې مؤمنــان وېــرولي دي، نــو مؤمــن ســره بــه د هماغــه اســبابو د حاصلولــو حــرص وي ترڅــو پــرې ځــان پوهــه کــړي او عمــل کــې یــې راولي او د خپــل رب نــصرت حاصــل کــړي ځکــه حقیقــي نــصرت هــم هماغــه دی چــې رب العالمیــن د چــا تــر څنــګ وي او مرســته ورسره وکــړی:

اللــه تعالــی فرمایــي: **وَمَـا النَّـصْرُ إِلَّا مِـنْ عِنـدِ اللهِ الْعَزِيـزِ الْحَكِيـمِ** [سُـورَةُ آلِ عِمـرَان : 126]

ژبــاړه: بــرلاسي او مرســته هــر څــه چــې دي، د هغــه اللــه لــه خــوا دي چــې ډېــر زوررور او د حکمــت خاونــد دی.

بیــا کلــه چــې د رب العالمیــن نــصرت او د هغــه تدبیــر لــه کومــو بندګانــو سره ملګــری شــو، نــو پــه هغــه بانــدې بیــا څــوک غالبــه کېــدلای نــشي.

دا کفــار چــې کــوم اســباب او وســائل د خپلــې کامیابــۍ لپــاره اســتعمالوي، د هغــې اســبابو خالــق هــم زمونــږ رب دی... نــو کلــه چــې رب زمونــږ سره ملګــری وي نــو بیــا بــه غلبــه هــم زمونــږ وي ان شــاءالله.

خــو دا خبــره هــم بایــد یــاد وســاتو ، چــې رب العالمیــن زمونــږ او ستاســی دې قتــال او مبــارزې تــه ضرورت نلــري، بغیــر لــه دی هــم ټولــو خلکــو تــه هدایــت کولی شي لکــه څنګــه چــې اللــه تعالــی فرمایــي:

وَلَـوْ شِـئْنَا لَءَاتَيْنَـا كُلَّ نَفْـسٍ هُدٰىهَـا وَلٰكِـنْ حَـقَّ الْقَـوْلُ مِنِّـى لَأَمْـلَأَنَّ جَهَنَّـمَ مِـنَ الْجِنَّـةِ وَالنَّـاسِ أَجْمَعِـينَ [سُـورَةُ السَّـجدَة : 13]

ژبــاړه: کــه مــوږ غوښــتلی نــو لا پخــوا بــه مــو هــر ســاکښ تــه د هغــه هدایــت ورکــړی وای، خــو زمــا هغــه خبــره تــرسره شــوه چــې مــا ویــلي وو چــې زه بــه جهنــم لــه پېریانــو او انســانانو ټولــو څخــه ډک کــړم.

او کــه اللــه تعالــی وغــواړي خپلــه د کفــارو څخــه انتقــام هــم اخیســتلای شي، خــو دا پــه مونــږ او تاســې یــو ابتــلاء او امتحــان دی، رب مونــږ او تاســی آزمایــي: اللــه تعالــی فرمایــي: **وَلَـوْ يَشَـآءُ اللـهُ لَانتَـصَرَ مِنْهُـمْ وَلٰكِـن لِّيَبْلُـوَا بَعْضَكُـم بِبَعْـضٍ..** [سُـورَةُ محمَّـد : 4]

ژبــاړه: کــه اللــه غوښــتي وای، نــو پخپلــه بــه یــې لــه هغــو څخــه غــچ اخیســتی وای، خــو (دغــه کړنــلاره هغــه د دې لپاره غــوره کړېــده) چــې تاســې یــو د بــل پــه وســیله وآزمایــي.

نــو پــه همــدې اســاس کلــه چــې مونــږ مکلــف یــو چــې شرعــي اســباب او وســائل بــه اســتعمالوو، نــو بایــد لــه هغــې اســبابو څخــه پــه تفصیــل ځــان خــبر کــړو:

قــرآن کریــم او ســنت کــې دوه قسمه اســباب ذکــر شــوي او مؤمنانــو تــه یــې لارښــونه کېــږي چــې یــو لــه هغــې څخه:

۱ـ مــادي اســباب: دي، چــې پــدې بــه ان شــاءالله د رب پــه توفیــق سره پــه آخــر د کتــاب کــې خــبره وکــړو

۲ـ معنــوي اســباب: مؤمنانــو تــه معنوي اســباب تــر ټولــو لومړیتــوب لــري، د دښــمن پــه دفعــه کولــو کــې معنویت د

ټولو څخه اوچته اسلحه ده، ځکه چې زمونږ په ژوند کې اساس هم همدا معنوي امور دي، که چيرې يو شخص اسلحه راپورته کړي، او د دښمن په مقابله کې په سنګر کې ودرېږي او هر قسمه ظاهري نقشې هم واچوي خو چې ايمان نه وي، اعمال صالحه نه وي، دا کمزورى انسان دى، دا د تاوان او خسارې سره مخامخ کېدونکى انسان دى، او دا قسم خلکو ته به شکست په برخه وي، هغه لاس چې اسلحه پکې ده، بغير د معنويت څخه هغه لاس شل دى!

* هغه سترګې چې معنويت ورسره نه وي هغه ړندې دي!
* هغه غوږونه کاڼه دي چې معنويت يې ملګرى نه وي!
* هغه ذهن او دماغ به ليونى وي چې معنويت پکې نه وي!
* هغه نقشې به ناکامې وي چې معنويت ورسره ملګرى نه وي!

نو له همدې کبله مونږ هم په خپل کتاب کې معنوي اسبابو ته لومړيتوب ورکوو او لومړى معنوي اسباب ذکر کوو چې د هغې له جملې څخه اولنى سبب د نصرت:

الإيمان وقوّة العقيدة:

***

مضبوطه عقيده او ايمان تر ټولو لومړى سبب دى، چې کومو بندګانو کې موجود وي نو د همدې قسمه خلکو سره د رب العالمين وعده ده چې د دوى سره به نصرت او مدد کوي، د دوى دفاع به کوي، په دښمنانو به غلبه ورکوي، او په دنيا او آخرت کې عزت هم د همدوى په برخه دى.

د ايمان حاصل دا چې په رب العالمين يې کلکه عقيده وي، د رب په ملائکو، رسولانو، کتابونو، ورځ د آخرت او په تقدير يې کلکه ايمان وي، داسې خلکو ته بيا رب العالمين ناآشنا ثبات او استقامت هم ورنصيب کوي، ځکه پدې به د مؤمن عقيده وي که زخمي شم رب ته نږدې کېږم، که شهيد شم ځاى مې جنت دى.

او دا به يې عقيده وي چې: (قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَىٰنَا وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ [سُورَةُ التَّوبَة : 51]

دوى ته وايه: "مونږ ته هېڅکله څه (ضرر يا شېګڼه) نه رسېږي، مګر هغه چې الله راته ليکلي دي، هماغه الله زمونږ مولا دى، او مؤمنان بايد په همغه توکل وکړي.)

دا کفار زمونږ هېڅ هم نشي کولى، مګر همغه کېږي، چې زمونږ رب يې وغواړي، نو داسې عقيده چې د چا ملګرې شوه، د رب نصرتونه دي ورته مبارک وي.

او داسې خلک چې د ايمان غم ورسره نه وي لا أُبالى انسان وي، د خپلو خواهشاتو غم کې وي، په عقيده کې يې هم مضبوطوالى نه وي، هسې مذبذب او شکي عقيده يې وي ، نو داسې خلکو سره رب مددونه نه کوي، نه يې رب العالمين دفاع کوي، نه ورته رب په جنګونو کې ثبات او استقامت ورکوي، په دې سبب د نصرت، د قرآن کريم زيات آيتونه دلالت کوي، چې ايمان او مضبوطه عقيدة د نصرت اساسي سبب دى:

الله تعالى فرمايي: وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ [سُورَةُ آل عِمرَان : 139]

ژباړه: بې زړه کېږئ مه، اندېښمن کېږئ مه، همدا تاسې برلاسي ياست، که تاسې مؤمنان اوسئ.

ابن کثير رحمه الله وايي د دي معنى دا ده چې:(أى العاقبة والنصرة لكم أيها المؤمنون) آخره کاميابي او نصرت ستاسې په برخه دى اي مؤمنانو.

ابن عاشور په خپل تفسير کې وايي: (و هذه بشارة لهم بالنَّصر المستقبل) دا د صحابه کرامو (مؤمنانو) لپاره په راتلونکو حالاتو کې د نصرت بشارت او زېرى دى.

همدارنګه الله عزوجل په سورة حج کې ناآشنا خبره کوي هغه فرمايي: إِنَّ اللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ الَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ [سُورَةُ الحَجّ : 38]

ژباړه: بېشکه، الله له هغو کسانو څخه دفاع کوي چې ايمان يې راوړى دى. دا يقيني ده چې الله هېڅ يو خائن، د نعمت منکر نه خوښوي.

نو وروڼو کله چې رب العالمين د چا په دفاع کې ودرېږي ، نو هغه سره به څنګه مدد نه کېږي، هغوى به څنګه نه کاميابېږي، ضرور بالضرور کاميابى ته رسېږي،

والله دا ډېره خوږه جمله ده چې (إِنَّ اللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ الَّذِينَ ءَامَنُوٓا)!

تفسير سعدي کې وايي: (هذا إخبار و وعد و بشارة من الله، للذين آمنوا، أن الله يدافع عنهم كل مكروه، ويدفع عنهم كل شر -بسبب إيمانهم- من شر الكفار، وشر

وسوسة الشيطان، وشرور أنفسهم، وسيئات أعمالهم)
ژباړه: دا خبر دى او وعده او بشارت دى د الله تعالى د مؤمنانو لپاره، چې الله تعالى به د هغوى څخه هره بدي دفعه كوي، او هر شر د كفارو به ورڅخه لرې كوي، د هغوى د ايمان په سبب، او شرونه د وسوسو د شيطان، او د خپل نفس شرونه او د خپلو بدو اعمالو څخه به يې(ساتي).

همدارنګه الله تعالى فرمايي: وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ [سُورَةُ الرُّوم : 47]
ژباړه: او پر مونږ دا حق دى چې د مؤمنانو سره مرسته وكړو.

په سورة النساء كې هم رب العالمين همدې خبرې ته اشاره كوي او فرمايي: وَلَن يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَٰفِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا [سُورَةُ النِّسَاء : 141]
ژباړه: الله د كافرانو لپاره پر مؤمنانو د برلاس كيدو هيڅ كومه لاره نه ده جوړه كړې.

همدارنګه فرمايي: إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ ءَامَنُوا فِى الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَٰدُ [سُورَةُ المؤمن: 51]
ژباړه: باور ولرئ چې مونږ د خپلو پيغمبرانو او مؤمنانو مرسته او نصرت هرومرو د دې دُنيا په ژوند كې هم كوو او په هغه ورځ به يې هم وكړو چې كله شاهدان ولاړ وي؛

سورة الانفال كې هم الله تعالى د خپلې ملګرتيا معيار ايمان ذكر كوي او فرمايي: وَأَنَّ اللَّهَ مَعَ الْمُؤْمِنِينَ [سُورَةُ الأنفَال : 19]
ژباړه: او يقيناً الله تعالى د مؤمنانو ملګرى دى.

همدارنګه رب العالمين فرمايي: وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ الْمُنَٰفِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ [سُورَةُ المنَافِقون : 8]
ژباړه: او عزت خاص د الله، د هغه د پيغمبر او مؤمنانو لپاره دى، خو دغه منافقان نه پوهيږي.

همدارنګه الله تعالى فرمايي : يَٰٓأَيُّهَا النَّبِىُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَٰبِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ يَغْلِبُوٓا أَلْفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ [سُورَةُ الأنفَال : 65]
ژباړه: (اې پيغمبره) مؤمنان (د كفارو په مقابل كې) جنګ ته وهڅوه، كه ستاسې نه شل تنه (مؤمنان) صابران وي، نو هغوى به پر دوو سوو برلاسي شي؛ او كه سل تنه داسې وي، نو د حق د منكرانو پر زرو تنو به برلاسي شي. ځكه چې منكران داسې خلك دي چې پوهه نه لري.

نو عزتمندو وروڼو پورته ټول آيتونه پدې دلالت كوي چې د رب العالمين وعده ده چې د ايمان خاوندانو سره به نصرت او مدد كوي، او د همدوى دفاع به كوي، په دښمنانو به غلبه د ايمان والاو لپاره وي او په دنيا او آخرت كې عزت هم د همدوى په برخه دى، نو كله چې ايمان د نصرت د اساسي سببونو څخه دى، نو راځئ وروڼو چې خپل ايمان ته لږ فكر مند شو، لږ دا خپل ايمان وتلو، ارزيابي يې كړو، د تقويت لپاره يې كوښښ شروع كړو چې څنګه يې مضبوط او قوي كړو، څنګه په كې زيادت راولو، د هغه اسبابو په لټه كې شو چې ايمان زياتوي لكه قران سره تعلق ساتل، ديني مجالسو كې اشتراك كول يا د حق پرسته علماؤ بيانونه اوريدل، دعاګانې كول، په قرآن كې تدبر كول، د رب العالمين كائناتو او مخلوقاتو كې سوچونه كول، نيكو اعمالو ته متوجه كېدل، دا ټول د ايمان د تقويت سببونه دي، او د هغه اعمالو نه په كلكه ځان وساتو چې زمونږ ايمان راخرابوي، يا ايمان مو كمزورى كوي لكه كبر، حسد، بغض كول او له نورو ګناهونو څخه ډډه كول، همدا راز د خپلو امراؤ له نافرمانۍ څخه ځان وساتو او خپلو شهواتو پسې لاړ نه شو.

نو وروڼو كه مونږ غواړو چې د رب العالمين نصرت او ملګرتيا حاصله كړو نو تر ټولو مخكې به خپل ايمان برابروو، كله مو چې ايمان صحي نه وي، عقيده كې مو شركيات وي، د رب العالمين د نصرت او مدد تمنا عبث ده.

***

دويم سبب:
العمل الصالح:

نيك عمل د نصرت د اسبابو څخه هم يو مركزي سبب دى، كله چې مؤمنان نيك اعمال كوي، نو رب العالمين به په ځمكه كې تمكين وركوي، رب به مؤمنانو ته دولت او قوت وركوي او د خوف او يرې پر ځاى به اطمينان او سكون د مؤمنانو په برخه شي.

او كله چې كوم خلك يواځې د ايمان دعوه كوي، خو د نيكو اعمالو څخه

خالي وي، نو اصلاً دا ایمان، ایمان نه دی، دا به څنګه ایمان وي چې مؤمن عمل صالح ته نه مجبوروي!

همدې وجې نه د نصرت او تمکین په اسبابو کې رب العالمین د ایمان څخه وروسته عمل صالح ذکر کوي:

الله تعالی فرمایي: وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّلِحَتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِى ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْـًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَسِقُونَ [سُورَةُ النُّور : 55]

ژباړه: الله ستاسو د هغو کسانو سره چې ایمان راوړی او ښه عملونه وکړي، وعده کړې ده چې هغوی به په ځمکه کې هماغه شان خلیفه ګان وګرځوي لکه چې له هغو څخه مخکې تېر شوي خلک یې ګرځولي ول. د هغو لپاره به هغه دین پر محکمو بنسټونو ودروي چې الله تعالیٰ ورته خوښ کړی دی. او د هغو د وېرې (اوسنی) حالت به په امن ورته بدل کړي. هغوی دې زما بندګي کوي او زما سره دې کوم شی نه شریکوي او څوک چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو همداسې کسان فاسقان دي.

دلته عزتمندو ورونو دا خبره یاد ساتو چې رب العالمین (وَعَمِلُوا الصَّلِحَتِ) ویلي، د یو خاص عمل تذکر نه ده چې یو لمونځ ته د سړي فکر لاړ شي، یا یې اذکارو ته فکر لاړ شي نه، بلکې د صالحو اعمالو د لاندې چې څومره اعمال داخل وي، هغې ته مخکې والی کول مراد دی، لمونځونه پدې کې داخل دي، که فرضي وي که نوافل وي، قیام اللیل او نور لمونځونه پدې کې داخل دي، زکاتونه ورکول عمل صالح دی، امر بالمعروف او نهی عن المنکر د اعمال صالحه څخه دی، د خپلو امراؤ صحیح طاعت کول عمل صالح دی، رب العالمین ته توبې او استغفار سره رجوع کول پدې کې داخل دي، د خلکو سره احسان کول، مؤمنانو سره ښایسته اخلاق پدې کې داخل او داسې نور...

همدا وجه ده چې سورة الحج کې رب العالمین دا خبر ذکر کوي چې: الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَوةَ وَءَاتَوُا الزَّكَوةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَقِبَةُ الْأُمُورِ [سُورَةُ الحَجّ : 41]

ژباړه: دا هغه کسان دي چې که موږ دوی ته په ځمکه کې قدرت (تمکین) ورکړو، نو لمونځ به قایم کړي، زکات به ورکړي، په ښو چارو به امر وکړي او له بدیو څخه به منع وکړي. او د ټولو چارو پای د الله په لاس کې دی.

دغه ټول اعمال صالحه دي چې رب د دې په سبب د خپلو مؤمنو بندګانو سره نصرت او مدد کوي.

په سورة العصر کې هم همدې خبرې ته رب العالمین اشاره کوي چې د تاوان او ناکامۍ څخه هغه خلک بچ دي کوم خلکو کې چې ایمان موجود وي او ترڅنګ یې اعمال صالحه کوي:

الله تعالی فرمایي: وَالْعَصْرِ [1] إِنَّ الْإِنسَنَ لَفِى خُسْرٍ [2] إِلَّا الَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا الصَّلِحَتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ [سُورَةُ العَصر : 3]

ژباړه: په وقت د مازدیګر قسم دی؛ په یقیني ډول، انسان په لوی تاوان کې دی، پرته له هغو خلکو چې ایمان یې راوړی او ښه عملونه کوي او یو بل ته د حق نصیحت او د صبر ښودنه کوي.

همدا وجه وه چې صحابه کرامو او تابعینو کې ایمان او اعمال صالحه په اوچته پیمانه موجود وو، نو رب العالمین هم هماغسې لوی لوی فتوحات ورکړل،

د عمر رضی الله عنه د خلافت په دور کې شام، دمشق او فلسطین په مکمله توګه فتحه شول، وروسته یې تر ترکیې او مصر پورې لاسونه وغځول، مصر او عراق هم رب العالمین هغوی ته ورکړل او د رب شرعه یې پکې نافذه کړه.

عثمان رضی الله عنه د طرابلس د کفارو نه جزیې واخیستې.

الجزائر او مراکش هم د عثمان رضی الله عنه په زمانه کې فتحه شول، په اندلس (هسپانیه) ننني اسپین او قبرص، باندې هم د اسلام لښکرې ورواوښتې دا خو لا څه چې تر هرات او کابل د اسلامي نظام لښکرې راورسېدې.

هغه وخت هم د نورې نړۍ د کفارو لښکرې او نور اسباب د مسلمانانو څخه زیات او قوي وو، خو د مسلمانانو سره د ایمان او عمل صالحه ؤ اسلحه وه ځکه رب پر دښمنانو غالبه کول، همدا وجه ده چې د

هغوی ایمانونه رب د نورو خلکو لپاره معیار ګرځوي:

الله تعالی فرمایي: فَإِنْ ءَامَنُوا بِمِثْلِ مَا ءَامَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا وَّإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ [سُورَةُ البَقَرَة : 137]

ژباړه: بیا که هغوی هماغسې ایمان راوړ، لکه چې تاسې راوړی دی، نو سمه لار یې موندله؛ او که له هغه څخه مخ واړوي، نو څرګنده خبره ده چې هغوی په بدبختۍ کې دي. له دې امله داړه اوسئ چې د هغوی په مقابل کې الله ستاسې د ملاتړ لپاره کافي دی.

الله هر څه اوري او په ټولو شیانو پوهیږي.

نو همدا ایمان او صالح اعمال وو، چې صحابه کرامو ته یې فتحې او عزت ورپه برخه کړ که چیرې مونږ او تاسې هماغسې اعمال اختیار کړل والله ناآشنا فتوحات به مجاهدین په خپلو سترګو وګوري.

بیا د عمل صالح لپاره مرکزي دوه شرطونه دي:

اول: الإخلاص لله.

خالص او یوازې د الله بندګي کول او د الله سره په عبادت کې بل څوک نه شریکول.

دوهم: والمتابعة لرسول الله – صلى الله عليه وسلم – اعمال د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم په طریقه کول.

امام ابن القیم رحمه الله فرمایي: العمل الصالح هو: الخالي من الرياء الْمُقيَّد بالسُّنة.[الجواب الكافي ص132]

ژباړه: صالح عمل هغه دی، چې د ریاء څخه خالي وي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په سنتو برابر وي.

فائده: د پورته دویم سبب څخه دا معلومیږي، که چیرې مؤمنان په بدعاتو، خرافاتو، کې اخته شول او خپل دین څخه یې رسم رواج جوړ کړ دا یاد وساتئ چې د داسې انسانانو سره هم د رب العالمين مددونه بیا نه وي مفهوم مخالف هم د دې آیت دا دی چې الله فرمایي: (وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ ءَامَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّلِحَتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ) أن لا استخلاف في الأرض وأن لا أمن ولا أمان لجيش أو مجتمع تاركين العمل الصالح، و يرتكب المحرمات، ويمارس المنهيات.

یعني هغه خلکو لپاره د الله تعالی له طرفه د خلافت وعده نشته، او نه امن او امان د هغه لښکر او ټولنې لپاره شته چې عمل صالح پریږدي، او حرام اعمال کوي، او د منعه شوي کارونو ارتکاب کوي، ځکه الله تعالى د تمکین حکمت دا بیان کړی چې هلته به لمونځونه قائمیږي، زکاتونه به ورکول کیږي، امر بالمعروف او نهی عن المنکر به کیږي.

نو دې خبرې ته به مجاهدین ډیر متوجه وي، چې کله د مجاهدینو په صف کې مفسدین پیدا شول چې د رب العالمين په محرماتو کې اخته کیږي په ښکاره ګناهونو ته راتګ کوي، د داسې اعمالو والا مخه به نیسئ، ترڅو د رب نصرت ته لاره هواره شي.

او که چیرې په مجاهدینو کې بدعات، محرمات او نور فاسد اعمال وي، پر ځای د دې چې مونږ د نصرت طمعه ولرو رب العالمين به مو نست نابود کړي، لکه حدیث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم همدې خبرې ته اشاره کړې:

عَنِ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : " مَثَلُ الْقَائِمِ عَلَى حُدُودِ اللَّهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا ، كَمَثَلِ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا عَلَى سَفِينَةٍ فَأَصَابَ بَعْضُهُمْ أَعْلَاهَا وَبَعْضُهُمْ أَسْفَلَهَا ، فَكَانَ الَّذِينَ فِي أَسْفَلِهَا إِذَا اسْتَقَوْا مِنَ الْمَاءِ مَرُّوا عَلَى مَنْ فَوْقَهُمْ، فَقَالُوا : لَوْ أَنَّا خَرَقْنَا فِي نَصِيبِنَاخَرْقًا وَلَمْ نُؤْذِ مَنْ فَوْقَنَا ، فَإِنْ يَتْرُكُوهُمْ وَمَا أَرَادُوا هَلَكُوا جَمِيعًا ، وَإِنْ أَخَذُوا عَلَى أَيْدِيهِمْ نَجَوْا وَنَجَوْا جَمِيعًا" (صحيح البخاري: رقم ـ 2325)

ژباړه: د نعمان بن بشير رضی الله عنهما څخه روایت دی، هغه یې د نبی صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه وفرمایل: مثال د هغه چا چې د الله په حدودو ولاړ وي (یعنی احکام یې عملي کوي) او د هغه چا چې په حدودو کې واقع وي (یعني حرامو کې واقع وي) پشان د هغه قوم دی چې څنډی (پچه) واچوي په کښتۍ، پس څه خلکو ته لاندې او څه ته پاس د کښتۍ ورسیږي، پس هغه خلک چې لاندې (برخه) د کښتۍ کې وي کله چې اوبو ته محتاج کیږي نو بره پاس خلکو ته راخیژي، نو خپلو کې سره ووایي، چې مونږ به د دې خپلې کښتۍ یوه برخه سوری کړو او پاس خلکو

ته به تکليف نه ورکوو، نو که چيرې دې (پاس) خلکو دوی پرېښودل او هغه څه چې دوی يې اراده کړې، نو ټول به هلاک شي، او که چيرې يې د هغوی لاسونه ونيول نو دوی او هغوی ټول به نجات ومومي.

همدا وجه ده کله چې الله تعالی د کوم قوم د هلاکت اراده وکړي، نو رب پکې ناکاره خلک پيدا کړي، چې هغوی ناکاره اعمال شروع کړي بس د رب عذاب متوجه شي:

الله تعالی فرمايي: وَإِذَآ أَرَدْنَآ أَن نُّهْلِكَ قَرْيَةً أَمَرْنَا مُتْرَفِيهَا فَفَسَقُوا فِيهَا فَحَقَّ عَلَيْهَا ٱلْقَوْلُ فَدَمَّرْنَٰهَا تَدْمِيرًا [سُورَةُ الإسرَاء : 16]

ژباړه: او کله چې مونږ د کومې سيمې د هلاکولو اراده کوو، نو د هغې بډايانو ته حکم کوو، خو هغوی په نافرمانيو لاس پورې کوي، هله نو پر هغې سيمې د عذاب فيصله تطبيقيږي او مونږ هغه بيخي تباه کوو.

نو عزتمندو ورونو او خويندو! حاصل دا دی که چيرې د رب څخه د نصرت طمعه لرو نو د هغې لپاره سبب اعمال صالحه دي، او که بد اعمال مو اختيار کړل د رب نافرمانی مو شروع کړې، بيا د رب نصرت خو لېرې خبره ده، بلکې د رب د عذاب مستحق به وګرځو، بعضې علماؤ ناآشنا خبرې کړې او هغه دا چې: أقيموا دولة الإسلام في قلوبكم تقم لكم على أرضكم).

تاسې په خپلو زړونو کې اسلامي دولت قائم کړئ، الله به يې درته ستاسې په ځمکه قائم کړي!

***

دريم سبب: التَّقوَى

دريم سبب د اسبابو د نصرت څخه تقوی ده، حقيقي تقوی چې کله د رب العالمين بندګانو کې راشي نو بيا رب العالمين د همدې خلکو ملګرى دى، رب به دې خلکو سره خامخا مددونه کوي، مخکې له دې چې پدې سبب خبره وکړو اول بايد تقوا وپيژنو چې څه ته وايي، او مفهوم د تقوی څه شی دی، امام سيوطي د ابو هريرة رضی الله عنه څخه د تقوی مفهوم داسې نقل کړی چې:

أن رجلًا سأل أبا هريرة عن التقوى؟ فقال له أبو هريرة: هل أخذت طريقًا ذات شوكٍ؟ قال: نعم، قال: فكيف كنت تصنع إذا رأيت الشوك؟ قال: أعْدِلُ عنها، أو جاوزتها، أو قَصُرت عنها، قال: ذاك التقوى (الدر المنثور" (1 / 61)

ژباړه: يو سړي د ابو هريرة رضی الله عنه څخه د تقوی په اړه پوښتنه وکړه؟ هغه ته ابو هريرة رضی الله عنه ووېل: کله په اغزي داره لاره تللی يې؟

هغه ووېل: هو، ابو هريره رضی الله عنه ورته ووېل: ته چې کله اغزي وګورې نو بيا څنګه طريقه کوې؟

هغه ووېل: زه د هغه څخه يو طرف کېږم، او د هغه څخه تېرېږم، يا ځان ترې راټولوم، هغه ووېل: همداسې تقوی هم ده.

د ابو هريره رضی الله عنه مقصد دا دی چې يو مؤمن په دنيا کې دومره د احتياط زندګي وکړي که د رب العالمين معصيت سره مخامخ کېږي، چې بل طرف ترې دا انسان واوړي، او خپل ځونډ کې د الله د حدوداتو داسې خيال وساتي لکه انسان چې يوه اغزي داره ځمکه باندې خومره په احتياط تېرېږي، هسې نه چې چيرې د رب حدودات پايمال نکړي او چيرې يې په مخالفت پښې ونه لږېږي.

او د ګناهونو څخه ځان داسې راټول کړي لکه د ازغيو څخه څنګه انسان خپله جامه ساتي. بعضې علماؤ دا تعريف کړی چې: هي امتثال أوامر الله واجتناب نواهيه.

ژباړه: د الله تعالی اوامرو عملي کول او د نواهيو څخه ځان ساتل.

چا دا ويلي: أنها عبادة الله بفعل الأوامر وترك النواهي خوفًا من الله ورغبة فيما عنده.

تقوی د الله عبادت دی په عملي کولو د اوامرو او په پرېښودلو د نواهيو (د الله له وجې د ويرې د هغه او له وجې د شوق د هغه (نعمتونو) چې د هغه سره دي، بعضو دا ويلي: أنها الخوف من الجليل، والعمل بالتنزيل، والقناعة بالقليل، والاستعداد ليوم الرحيل.

تقوی د الله تعالی څخه يره کول، او عمل کول په قرآن، او قناعت کول په لږ، او تيارى کول د ورځې د سفر (د قيامت) لپاره.

خو د ټولو تعريفونو مقصد دا دی چې د رب څخه داسې ويره کول، چې د هغې د ويرې له وجې مونږ او تاسې د رب العالمين يو معصيت ته هم ورنږدې نشو او د هغه د ويرې له وجې مونږ د رب العالمين هر حکم ته لبيک ووايو، داسې

صفــت چــې کلــه مؤمنانــو کــې پيــدا شــو نــو د اللــه تعالــى نــصرت او ملګرتيــا بــه د همــدې قســمه بندګانــو پــه برخــه شي رب بيــا دا ځمکــه په ميــراث کــې همــدې مؤمنانــو تــه ورکــوي:

اللـــه تعالـــى فرمايـــي: {إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّـــهِ يُورِثُهَـــا مَـــن يَشَـاءُ مِـنْ عِبَـادِهِ وَالْعَاقِبَـةُ لِلْمُتَّقِـينَ} [سُـورَةُ الأعـرَاف : 128]

ژبــاړه: يقينــاً دا ځمکــه د اللــه ده، لــه خپلــو بندګانــو څخــه چــې يــې چــا تــه خوښــه شي، د هغــې وارث يــې ګرځــوي؛ او وروســتۍ کاميابــي د تقــوا دارو پــه برخــه ده.

دې ايات کــې نــا اشــنا جملې اللــه تعالــى بيــان کــړي اول ددې خــبرې تذکــره کــوي چــې (إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّـــهِ)دا ځمکــه د رب العالميــن ده او چاتــه يــې چــې اوغــواړي همغــوئ تــه يــې ورکــوي دا ځمکــه نــه د CIA ده چــې خپــل واک پــرې چلــوي، نــه د isi ده، چــې طالــب اخوندانــو تــه بــه يــې ورکــړي، بلکــې دا زمونــږ د رب ځمکــه ده خــو رب العالمين خپــل بنــدګان امتحانــوي چــې کلــه يــو ډلــه پــدې ځمکــه مسلطه کــړي کلــه بلــه ، خو د رب بشــارت دويمــه جملــه کــې دى چــې (وَالْعَاقِبَـةُ لِلْمُتَّقِـينَ) اخرنــى ميــدان د مُتقيانــو دى بــإذن اللــه،

مفسرينــو د همــدې ايــات پــه تفســير کــې نــا اشــنا ځرګندونــې کــړې، تفســير ســعدي:

امــا ســعدي ددې ايــات لانــدې ليکــي: (ولكـن العاقبـة للمتقـين، فإنهـم - وإن امتحنوا مـدة ابتـلاء مـن اللّـه وحكمـة، فـإن النـصر لهـم، وَالْعَاقِبَـةُ الحميـدة لهـم).

ژبــاړه: اخرنــۍ کاميابــي د متقيانــو پــه برخــه ده، يقينــاً دوى اګــر کــه ډيــره مــوده د اللــه لــه طرفــه امتحــان کــړاى شي او د اللــه د حکمتونــو لــه وجــې، خــو يقينــاً د اللــه مدد د همــدوى لپــاره دى، او ښايسته عاقبــت هــم د همــدوى دى.

تفســيربغوي: امــا بغــوي رحمــه اللــه وايــي چــې د دې ايــات : {مَـن يَشَـاءُ مِـنْ عِبَـادِهِ وَالْعَقِبَـةُ لِلْمُتَّقِـينَ بالنـصر والظفـر }.

معنــا دا ده چــې عاقبــت د متقيانــو دى پــه (طريقــه) د کاميابــۍ او نــصرت د اللــه تعالــى.

تفســيرطبري: .(والعاقبــة للمتقــين)، يقــول:{ والعاقبــة المحمــودة لمــن اتقــى اللــه وراقبــه, فخافــه باجتنــاب معاصيــه وأدّى فرائضــه}

ژبــاړه: امــام طــبري رحمــه اللــه د دې ايــات بــاره کــې (والعاقبــة للمتقــين) وايــي: شايســته کاميابــي د هغــه چــا لپــاره ده چــې ځــوک د اللــه تعالــى څخــه ويريــږي، پــس ويريــږئ د هغــه څخــه پــه ځــان ســاتلو د ګناهونــو او پــه اداء کولــو د فرائضــو سره.

همدارنګــه پــه ســورة بقــرة کــې هــم رب العالميــن همــدې خــبرې تــه اشــاره کــوي چــې د تقــوى لــه وجــې مؤمنانــو تــه د رب العالميــن معيــت حاصليــږي.

اللــه تعالــى فرمايــي:{ وَاتَّقُـوا اللَّـهَ وَاعْلَمُـوا أَنَّ اللَّـهَ مَـعَ الْمُتَّقِـينَ } [سُـورَةُ البَقَـرَة : 194]

ژبــاړه: لــه اللــه څخــه پــه ويــره کــې اووســئ او پــه دې وپوهيــږئ چــې اللــه د هغــو خلکــو ملګــرى دى چــې د هغــه د حــدودو لــه ماتولــو څخــه ډډه کــوي ـ يعنــى تقــوا دار بنــده وي .

امــام ســعدي رحمــه اللــه پــه خپــل تفسير کــې د دې ايــات د لانــدې هــم نــا اشــنا خــبرې کــوي، هغــه فرمايــي : { مَـعَ الْمُتَّقِـينَ } أي: بالعـون والنصر والتأييـد والتوفيـق ومـن كان اللـه معـه حصـل لـه السـعادة الأبديـة، ومـن لـم يلـزم التقوى تخـلى عنـه وليـه, وخذلـه, فوكلـه إلى نفسـه فصـار هلاكـه أقـرب إليـه مـن حبـل الوريـد}

ژبــاړه: { مَـعَ الْمُتَّقِـينَ } معنا دا چــې اللــه تعالــى د متقيانــو سره پــه ملاتــړ او مــدد او تائيد او هغــوى تــه توفيــق ورکولــو سره ملګــرى دى، او هغــه څوک چــې اللــه تعالــى ورسره ملګــرى شــو، هغــه همشــنۍ خوشــحالي او ســعادت ترلاســه کــړ، او ځــوک چــې تقــوىٰ نــه لازمــوي، هغــه څخــه بــه خپل دوســت لېــرې شي، او شرمينــده بــه يــې کــړي، او خپــل نفس تــه بــه يــې وســپاري، پــس (پــدې وخــت کــې) هلاکــت د ده ډيــر نــږدې دى هغــه تــه د مــرۍ د رګ څخــه!

متقيــان خــو هغــه خلــک دي چــې د اخــرت پــر ورځ بــه د رب العالميــن خصــوصي ميلمانه وي، نــو دنيــا کــې بــه د داســې بنــده ګانــو سره خامخــا رب مددونــه کــوي:

اللــه تعالــى فرمايــي:{ يَـوْمَ نَحْـشُرُ الْمُتَّقِـينَ إِلَى الرَّحْمَـٰنِ وَفْـدًا }[سُـورَةُ مَريَـم : 85]

ژبــاړه: هغــه ورځ راتلونکــې ده چــې مــوږ پرهيــزګاران د ميلمنــو پــه څېــر د رحمــان حضــور تــه ورانــدې کــړو.

ســورة يونــس کــې رب العالميــن متقيانــو تــه نــا اشــنا بشــارتونه اوروي او اخــر کــې ورتــه د کاميابــۍ زيري ورکــوي چــې ايمــان او تقــوى والا خلــک کاميــاب دي،

اللــه تعالــى فرمايــي:{ أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَـآءَ اللَّـهِ لَا خَـوْفٌ عَلَيْهِـمْ وَلَا هُـمْ يَحْزَنُـونَ [62] الَّذِيـنَ

ءَامَنُـوا وَكَانُـوا يَتَّقُـونَ [63] لَهُـمُ الْبُـشْرَىٰ فِي الْحَيَـوٰةِ الدُّنْيَـا وَفِي الْءَاخِـرَةِ لَا تَبْدِيـلَ لِكَلِمَـٰتِ اللَّـهِ ذَٰلِـكَ هُـوَ الْفَـوْزُ الْعَظِيمُ }[سُـورَةُ يُونـس : 64]

ژبـاړه: واورئ! خـوك چـې د اللـه دوسـتان دي، پـر هغـو كومـه ويـره او كـړاو نشـته هغـوى چـې ايمـان يـې راوړى دى او د پرهيـزګارئ كرنـلاره يـې غـوره كړيـده.

د دنيـا او اخـرت دواړو پـه ژوندانـه كـې د هغـو لپـاره زيـرى دى د اللـه خـبرې نـشي بدلېـداى. همـدا لـوى برياليتـوب دى.

كلـه چـې كومـو خلكـو كـې تقـوا پيـدا شـوه، بيـا نـو اللـه تعالـى د دې خلكـو لپـاره د هـرى تنګـى څخـه د نجـات لار برابـروي، او د هـر غـم او خفـګان څخـه ورتـه د وتلـو زمينـه برابـروي، اللـه تعالـى فرمايـي: {وَمَـن يَتَّـقِ اللَّـهَ يَجْعَـل لَّـهُ مَخْرَجًـا } [سُـورَةُ الطّـلَاق : 2]

ژبـاړه: څـوك چـې د اللـه څخـه وويرېـده، اللـه بـه د هغـه لپـاره لـه سـتونزو څخـه د وتلـو كومـه لاره پيـدا كـړي.

همدارنګـه اللـه تعالـى فرمايـي: {وَمَـن يَتَّـقِ اللَّـهَ يَجْعَـل لَّـهُ مِـنْ أَمْـرِهِ يُـسْرًا} [سُـورَةُ الطّـلَاق : 4]

ژبـاړه: څـوك چـې د اللـه څخـه وويريـږي، اللـه يـې پـه كار كـې اسـانتيا پيـدا كـوي.

دا د رب خـبرې دي، د يـو انسـان او بـشر خـبرې نـه دي، او رب پـدې قـادر دى، داسـې ځايونـو كـې بـه دې بـچ كړي، چـې سـتا ګمـان بـه هـم نـه وي، دښـمن بانـدې بـه داسـې غلبـه دركـړي چـې سـتا ګمـان بـه هـم نـه وي، اسـبابو كـې بـه رب درتـه داسـې بركـت واچـوي چـې سـتا ګمـان بـه هـم نـه وي ، چـې دا خـبرې مجاهدينـو عمـلاً پـه سـنګرونو او خپلـه جهـادي مبـارزه كـې ليـدلي، پـه سـورة انفـال كـې هـم رب العالميـن صراحتـاً فرمايي:{يَأَيُّهَـا الَّذِينَ ءَامَنُـوٓا إِن تَتَّقُـوا اللَّـهَ يَجْعَـل لَّكُـمْ فُرْقَانًـا وَيُكَفِّـرْ عَنكُـمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَيَغْفِـرْ لَكُـمْ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْـلِ الْعَظِيـمِ }[سُـورَةُ الأنفَـال : 29]

ژبـاړه: اې مؤمنانـو! كـه تاسـې لـه اللـه څخـه وويرېږئ، نـو اللـه بـه تاسـې تـه (فُرقـان) در پـه برخـه كـړي، او ستاسـې بـدي بـه در څخـه لـرې كـړي، او ستاسـې ګنـاه بـه در وبښـي. اللـه لوى فضـل كوونكـى دى.

امـام بغـوى رحمـه اللـه وايـي : قـال مجاهـد : (مخرجـا في الدنيـا والآخـرة) .

وقـال عكرمـة :(نجـاة أي يفـرق بينكـم وبـين مـا تخافـون).

ژبـاړه: امـام مجاهـد وايـي: د (فرقـان) معنـىٰ دا ده چـې دنيـا او اخـرت كـې بـه درتـه د (ژغورنـې) لارې خلاصـې كـړي.

او عكرمـه وايـي (نجـاة) معنـىٰ دا ده چـې ستاسـې او د هغـه څـه چـې تاسـې ور څخـه ويريـږئ پـه مابيـن كـې بـه جدايـي راولي.

امـام قرطبـي رحمـه اللـه نقل كـوي : ابـن إسـحاق : {فرقانـا فصـلا بـين الحـق والباطـل، وقـال ابـن زيـد و السـدي : نجـاة الفـراء : فتحـا ونـصرا . }

ژبـاړه: ابـن اسـحاق وايـي (فرقـان) معنـىٰ، جدايـي بـه راولي پـه مابيـن د حـق او باطـل كـې او ابـن زيـد او سـدي وايـي: (معنـىٰ يـې نجـات ده.

همدارنګـه اللـه فرمايي:{يَأَيُّهَـا الَّذِيـنَ ءَامَنُـوا اتَّقُـوا اللَّـهَ وَقُولُـوا قَـوْلًا سَـدِيدًا [70] يُصْلِـحْ لَكُـمْ أَعْمَلَكُـمْ وَيَغْفِـرْ لَكُـمْ ذُنُوبَكُـمْ وَمَـن يُطِـعِ اللَّـهَ وَرَسُـولَهُ فَقَـدْ فَـازَ فَـوْزًا عَظِيمًـا} [سُـورَةُ الأحــزَاب : 71]

ژبـاړه: اې مومنانـو ! د اللـه څخـه وويرېـږئ او سـمه خـبره كـوئ. اللـه بـه ستاسـې عملونـه سـم كـړي او ستاسـې لـه ګناهونـه څخـه بـه در تيـر شي ، هـر څـوك چـې د اللـه او د هغـه د رسـول اطاعـت وكـړي، هغـه لـوي برياليتـوب ترلاسـه كـړ.

عزتمنـدو مجاهدينـو او مسـلمانانو ورونـو!

د دې سـبب اختتـام پـدې كـوم چـې تقـوىٰ هغـه كيشـتى ده چـې سـمندر دا خلـك راخيسـتي وي او څـوك پـه يـو طـرف وروهـي او څـوك پـه بـل طـرف خـو د كشـتى والا خلـك د نجـات پـر لـور روان وي، د دى دنيـا مثـال د بحـر او دريـاب دى، دا انسـانان پكـې رب العالميـن خوشـې كـړي، بـس څـوك د شرك او كفـر پـه چپـو كـې ورهـلاك شـول، څـوك د معصيـت او ګناهونـو چپـو رالانـدې كـړي، څـوك يو امتحـان څـوك بـل، خـو هغـه خلـك چـې تقـوى ورسره وي پـدې سره بـه رب العالميـن دې خلكـو سره نـا اشـنا نصرتونـه او مددونـه كـوي او ددې عميـق بحـر نـه بـه ورتـه د راوتلـو لار وركـوي.

دا درې اسـباب د اللـه د نـصرت او د تمكيـن د حاصلولـو شـو باقـي نـور بـه يـې پـه راتلونكـې ګڼـه كـې ولولـئ.

وصـلَّى اللـه وسـلَّم عـلى نبيِّنـا محمَّـد، وعـلى آلـه وصَحْبِـه أجمَعِيـن.

٢

د قرآن فضائل عظمت او اهمیت

د قرآن کریم او د هغې د لوستونکي آداب:

الحمـد لله ربّ العالمين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد وآله الطاهرين ، ولعنة الله على أعدائهم أجمعين من الأولين والأخرين .

أما بعد.

د خراسان غږ مجلې درنو لوستونکو! په تیره برخه کې د قرآن کریم اوچت شان ذکر شوی و، نو کله چې قرآن کریم د الله تعالی مقدس کتاب دی نو قدر او عزت یې پر هر مؤمن لازم دی ، او بې حرمتي یې انسان د الله په قهر او غضب ککړوي او له ایمان څخه انسان وباسي.

قرآن کریم خو لا څه چې محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم به د تورات قدر کاوه، سره د دې چې منسوخ شوی کتاب دی . حدیث کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په بالښت ناست و او تورات ورته راوړل شو: **فَنَزَعَ الْوِسَادَةَ مِنْ تَحْتِهِ فَوَضَعَ التَّوْرَاةَ عَلَيْهَا ، ثُمَّ قَالَ : آمَنْتُ بِكِ وَبِمَنْ أَنْزَلَكِ** (سنن أبي داود ـ رقم: 3861)

ژباړه: بالښت یې له ځان څخه راواخیست او تورات یې وربانديې کیښود او بیا یې وویل: ما پر تا و هغه چا چې ته نازل کړې یې ایمان راوړی.

نو په همدې اساس مؤمن خو به د رب العالمین د دې مقدس کتاب قرآن کریم خامخا قدر او احترام کوي او د دې کتاب سره د تعلق پر وخت به د هغه آدابو لحاظ ساتي کوم چې قران او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت کې نقل شوي دي.

د قران کریم سره دوه قسمه آداب تړلي چې یو قسم یې ظاهري اداب دي.

دويم قسم باطني اداب دي.

چې په مختصره توګه به الله تعالی په توفیق سره مهمو ادابو ته اشاره وکړو.

اول ادب:

له بې اودسۍ او جنابت څخه د بدن پاکوالی .

معنی دا چې کله مؤمن قرآن کریم را آخلي نو باید په طهارت او پاکوالي حالت کې یې راواخلي لکه الله تعالی په قرآن کریم کې دې ادب ته اشاره کوي او فرمایي: **لَّا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ** [سُورَةُ الواقِعَة : 79]

ژباړه: نه دې مسح کوي دې قران له مګر پاک خلک.

همدارنګه الله تعالی فرمایي: **ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ** [سُورَةُ الحَجّ : 32]

ژباړه: دغه اصلي موضوع ده (وربانديې پوه شئ) او څوک چې د الله د ټاکلیو شعایرو درناوی وکړي، نو دا د زړونو له پرهیزګارۍ څخه ده.

همدارنګه حدیث کې راځي چې یمن والا ته رسول الله صلی الله علیه وسلم لیکلی و چې: **أَنْ لَا يَمَسَّ الْقُرْآنَ إِلَّا طَاهِرٌ** (سنن دارمي: رقم ـ 2195)

ژباړه: نه دې مسحه کوي قرآن مګر پاک انسان.

دويم ادب:

مسواک وهل.

دا هم اهل علمو د قرآن کريم په آدابو کې ذکر کړې چې کله انسان قرآن کريم تلاوت کوي پکار دا ده چې مسواک ووهي او خپله خوله پدې سره پاکه کړي.

دريم ادب:

د قرآن کريم د لوستلو نه مخکې (اعوذ بالله من الشيطان الرجيم) لوستل.

الله تعالى فرمايي: **فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْءَانَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَنِ الرَّجِيمِ** [سُورَةُ النّحل : 98]

ژباړه: نو کله چې ته په قُرآن لوستلو شروع وکړې، نو له رټل شوي شيطان څخه د الله پناه غواړه.

او کله چې ابتداء د سورت څخه انسان قرائت کوی بايد (بسم الله الرحمن الرحيم) هم ورسره يوځای کړي.

او که مينځ د سورة وی نو بيا يوازې اعوذ بالله ويل کافي دي.

څلورم ادب:

قرآن کريم په خايسته اواز لوستل:

دا هم يو ادب دی چې بايد مؤمن قرآن کريم په خايسته اواز ولولي حديث کې راځي:

عَنْ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " زَيِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ " (سنن أبي داود ـ رقم: 1258)

ژباړه: د براء بن عازب رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: قرآن خايسته کړئ په خپلو اوازنو سره.

خو ليکن قاري بايد خپل اواز د سندرو ويونکو، فاسقانو سره تشبه نکړي او د ښه اواز په کوشښ کې د بې ځايه تکلف نه ځان وساتي.

پنځم ادب:

د قرآن کريم د تلاوت په مينځ کې د عبث خبرو ، خنداکانو او لهو او لعب څخه ډډه کول.

عن نافع، قال: كَانَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عنْهمَا إذَا قَرَأَ القُرْآنَ لَمْ يَتَكَلَّمْ حتَّى يَفْرُغَ منه، (صحيح البخاري ـ رقم: 4526)

ژباړه: د نافع نه روايت دی هغه وايي عبد الله بن عمر رضي الله عنهما به چې کله قرائت د قرآن شروع کړ تر هغه به يې خبرې نه کولې ترڅو چې فارغ به شو د هغې نه (د قرائت د قرآن نه) .

شپږم ادب:

قرآن کريم څخه تکيه (بالښت) نه جوړول.

حديث کې راځي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي **(يا أهل القرآن! لا تتوسدوا القرآن)** (مرعاة المفاتيح: 7/ 294)

د دې حديث دوه معناګانې محدثينو کړي.

اوله: چه د قرآن کريم نه بالښت مه جوړوئ چې انسان پرې دپاسه ډډه ووهي ځکه دا د قرآن کريم بې ادبي ده.

دويمه: په وخت د قرآئت کې به قرآن کريم ته تکيه نه لګوي.

البته که په يادو يې يو انسان لولي، نو په تکيه او په ملاسته دواړو کې مشکل نشته ځکه رسول الله الله په ملاسته قرآئت کړی دی.

اووم ادب:

يو ايات بار بار لوستل لپاره د تدبر او تأثر اخيستلو.

دا هم يو ادب دی چې انسان يو ايات بار بار واپس کړي او تلاوت يې کړي پدې خاطر چې دې ايات کې تدبر سوچ او فکر وکړي.

حديث کې راځي ابو ذر رضي الله عنه فرمايي: " قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِآيَةٍ حَتَّى أَصْبَحَ يُرَدِّدُهَا ، وَالْآيَةُ **إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ** سورة المائدة آية 118 .(سنن ابن ماجه : رقم ـ 1340)

ژباړه: نبي صلى الله عليه وسلم د شپې لمونځ (قيام الليل) په يو ايات سره وکړ تر دې چې سبا يې کړ، تکرارو يې او دا ايات و **(إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ)**

اوس که ته هغو ته سزا ورکړې، نو هغوی ستا بندګان دي او که ښښنه ورته وکړې، نو ته برلاس او د حکمت خاوند يې."

اتم ادب:

د تلاوت پر وخت ژړل:

کله چې د الله د عذاب اياتونه او يا د قيامت او حساب او کتاب اياتونه د انسان د مخې تيريږي بايد د الله د خوف له وجې انسان وژاړي.

چې دا صفت او ادب په رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو کې په کامله معنى موجود و او ډير واقعات پکې نقل

دي.

حديث کې راځي:

عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ ، قَالَ : قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " اقْرَأْ عَلَيَّ " ، قُلْتُ : أَأَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ ، قَالَ : " فَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهُ مِنْ غَيْرِي " ، فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ سُورَةَ النِّسَاءِ حَتَّى بَلَغْتُ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا سورة النساء آية 41 ، قَالَ : " أَمْسِكْ " ، فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ . (صحيح البخاري ـ رقم: 4241)

ژباړه: د عمرو بن مرة څخه روايت دی هغه وايي: ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ماته قرآن ولوله ، ما ورته وويل: ايا زه يې تاته ولولم حال دا چې (قرآن) پر تا نازل شوی، هغه وفرمايل: زه خوښ ګڼم چې د بل چا څخه يې واورم، پس ما په هغه سورة النساء شروع کړه تر دې چې زه ورسيدم **(فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَى هَؤُلَاءِ شَهِيدًا.** سورة النساء آية 41)

ژباړه : نو څه حال به وي! دوی به په هغه وخت کښې څه وکړي، چې موږ به له هر اُمت څخه يو شاهد راولو او پر دغه اُمت باندې تا (محمد صلى الله عليه وسلم) شاهد تېر کړو.

(رسول الله صلى الله عليه وسلم) وويل: ودريږه! پس پدغه وخت کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له سترګو اوښکې روانې وې.

نهم ادب:

د قرآن کريم د تلاوت پر وخت چپ کيدل او خايسته غوږ کيښودل.

قرآن کريم کې الله تعالى فرمايي: **وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْءَانُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ** [سُورَةُ الأَعْرَافِ : 204]

ژباړه: کله چې ستاسې په وړاندې قُرآن لوستل کيږي، نو هغه په غور سره واورئ او چوپ اوسئ؛ ښايي چې پر تاسې رحم وشي."

لسم ادب :

په بعضې آيتونو کښې دعا غوښتل:

د نبي صلى الله عليه وسلم دا طريقه وه چې د رحمت اياتونه به راغلل نو د الله د رحمت دعاء به يې کوله او که د عذاب اياتونه به راغلل نو د هغې څخه به يې پناه غوښتله.

حديث کې راځي:

عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ ، قَالَ : قُمْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً " فَقَامَ فَقَرَأَ سُورَةَ الْبَقَرَةِ لَا يَمُرُّ بِآيَةِ رَحْمَةٍ إِلَّا وَقَفَ فَسَأَلَ ، وَلَا يَمُرُّ بِآيَةِ عَذَابٍ إِلَّا وَقَفَ فَتَعَوَّذَ (سنن أبي داود ـ رقم: 740)

ژباړه: د عوف بن مالک اشجعي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي: زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يوه شپه ودريدم هغه (لمونځ) ته پاڅيده، سورة البقره يې شروع کړه، د رحمت په ايات به نه تيريده مګر وبه دريده پس سوال به يې وکړ او د عذاب په يو ايات به نه تيريده مګر وبه دريده او پناه به يې وغوښته.

يولسم ادب:

د مصحف احترام کول پداسې طريقه چې په ځمکه کينښودل شي او نه ملګري ته ورګوزار کړل شي.

مخکې دا خبره په مقدمه کې ذکر شوې وه ، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د تورات احترام کاوه، نو د قرآن کريم احترام خو به په طريق اولی سره کيږي..

دولسم ادب:

په ښي لاس سره د قرآن کريم اخيستل اوبل چاته ورکول:

ځکه چې لاس به رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه کارونو کې استعمالوه، چې انسان ورڅخه کرکه کوي لکه استنجا کول او داسې نور.

او ښی لاس به يې په طهارت، اخيستلو او ورکولو او داسې نورو امورو کې استعمالوه.

نو عزتمندو مسلمانانو ورونو!

کله چې د الله کتاب معزز دی او قدر او احترام يې په هر مؤمن لازم دی نو په همدې اساس پکار دا ده چې په پورته ټولو ادابو عملي کولو سره هر مؤمن د الله د کتاب سره تعلق وساتي.

رب دې قرآن کريم زمونږ او ستاسې لپاره په دنيا کې منهج تګلاره او سبب د هدايت وګرځوي او اخرت کې د رب العالمين په دربار کې سفارش کونکی.

وصلَّى الله وسلَّم على نبيِّنا محمَّد، وعلى آله وصَحْبِه أجمَعِين.

خپل نذر يې پوره کړ!

لنډه کیسه

د ګلانو غوټيو سرونه سپړلي وه، هر خوا طبيعي ښکلا وه، خوړې ورمې خورې وې، د هر ډول مرغيو آوازونو بيل ډول خوند کاوه، د سپين غر په سر واورې په ويلې کېدو وې، په غرنيو خوړونو کې اوبه هم لږې زياتې شوې وې، د اوبو شور ځانګړې مزه درلودله، کله چې مرکز ته ورسېدم ګورم چې يو نوې کاکا مرکز ته راغلى دى، کاکا ته مې چې د ورايه وکتل له څېرې خندرويه او خوشال طبعه انسان معلومېده، سلام مې وکړ ورنږدې شوم روغبړ مې ورسره وکړ.

د ملګري نه مې يې په اړه پوښتنه وکړه، ويل ده نوى هجرت کړى دى، او ابو عبدالرحمن اکا نوميږي، ورسره کيناستم مجلس مې ورسره پيل کړ.

ډير د ښه اخلاقو خاوند وه، خو د رنګه داسې معلومېده لکه ډير تکليفونه چې پرې تېر شوي وي، کاکا سره مو خبرې پيل کړې، ورته مې وکړه : کاکا جانه! څومره وخت کيږي چې خراسان ته دې هجرت کړى دى، ويل کمه موده کيږي، بيا يې د هجرت کولو په دوران کې د تکاليفو کيسې وکړې او د هرې خبرې کولو څخه وروسته به يې الحمدلله ويله

عبدالرحمان اکا د شرقي ترکستان د ايغور د محکومو مسلمانانو له ډلې وه، هغه مسلمانان چې په ميلونونو يې د کمونسټو چينيانو د وحشتونو په ژرنده دل کيږي ، ناموسونه يې لوټل کيږي، بچي ترې بيليږي ، هويت يې بدليږي ، وهل کيږي ربړول کيږي او وژل کيږي خو پرته د اسلامي دولت د مجاهدينو څخه د نړۍ هيڅ مسلمان سره نه د دوى غم شته او نه د اشغال شوې شرقي ترکستان په هر صورت عبدالرحمن کاکا د هجرت څخه مخکې چې پرې په ده او نورو مسلمانانو د چين کمونستي رژيم کوم ظلمونه کړي وه، د هغې يادونه يې هم وکړه، هغه ظلمونه د هيچا نه پټ ندي کوم چې د چين دولت په عامو مسلمانانو کوي او دا د ظلمونو لړۍ لا هم روانه ده، د کاکا هره خبرې کې يو ځانګړې کيف و، په مجلس ورسره بوخت وم چې بل ملګري غږ راباندې وکړ ويل: کاکا جان همدلته دى راځه بيا به ورسره مجلس

وکړې، اوس لږ کار لرو، کاکا ته مې وویل چې هسې هم همدلته یې بیا به نور مجلس بل وخت وکړو.

د کار نه چې فارغ شو، د کاکا څنګ ته راغلو کاکا ډیر خوږ انسان وه، هر وخت به د قرآن په تلاوت بوخت وه، د تلاوت نه چې یې ځان فارغ کړ زمونږ څنګ ته راغی او مجلس یې پیل کړ، کاکا به د نور خدمت تر څنګ پخلی هم کاوه ویل ما خلویښت کاله په هوټل کې آشپزي کړې ده، یوه ورځ یې ویل نن درته داسې خوراک پخوم چې زمونږ په علاقه کې یې خلک ځانګړې میلمه ته تیاروي، ډیر زیار یې وویسته ویل دېته لغمان وایې، ریښتیا هم چې دغه خوراک ډیر خوندور وه.

کاکا سره مو آشنایي زیاته شوه، یوه شپه چې کوټې ته ورغلم نو کاکا د ماښام لمانځه ته ملګرو مخکې کړی وه، لا اقامت نه و خلاص شوی چې زه ورننوتم، کاکا چې زه ولیدم نو د وروسته کیدو هڅه یې کوله ما ورته وویل چې ته جمعه راکړه، کاکا چې مخکې شو او قرأت یې شروع کړ، سبحان الله کاکا ته الله رب العالمین یو بیل ډول خوږ او ښکلی اواز ورکړی وه، او قرأت یې هم ډیر ښکلی کاوه، بیا به مو هر وخت جمعې ته مخکې کاوه.

کاکا به اکثره خبرې په عربي ژبه کولې او پښتو یې هم لږه لږه یاده کړې وه ، ما ته به یې ماتې ګوډې پښتو ډیر خوند راکاوه، یوه ورځ مو د عمر ګل تقبله الله او یو بل ملګري سره د رابطې لپاره یو ځای ته د تلو اراده وکړه، روان شو هغه ځای ته رسیدلي نه وو، چې امریکایي بې پیلوټه الوتکه راغله او په ګرځیدو یې پیل وکړ، دا چې د رابطې ځای ښکاره ځای وه، نو فیصله مو په همدې وکړه چې تر څو دغه بې پیلوټه الوتکه ورکیږي نو مونږ به د قاري صاحب سره وخت تیر کړو، د قاري صاحب خواته ورغلو، ور (دروازه) مو ورته ټک ټک کړ، اواز یې وکړ ویل څوک یې؟، عمر ګل تقبله الله ورته کړه ویل عمر یم، قاري صاحب هم ډیر خوش طبیعته انسان و، ویل: راځئ بلا مو واخلم راځئ را دننه شئ، ویل ماشومان مې د علاج لپاره لاندې تللي دي کور کې ځانته یم، عمر ګل تقبله الله ور ورغبرګه کړه : دا خو یې سمه مزه وکړه کور مو درته محاصره کړ، ټولو وخندل قاري صاحب سره کیناستو د قاري صاحب په کور کې د توتانو ونه وه، دا داسې وخت دی چې توتان رسیدلي دي لږ لږ توتان مو وخوړل، عمر ګل تقبله الله ته مو پام شو چې دوه جارو ګانې یې لاسونو کې نیولي دي او ځای جارو کوي، غږ مې پرې وکړ مال څه کوې ویل لږ ساعت به تېر کړو، بل ملګري ورته کړه ویل ته خو سم تکړه یې ماشاءالله جارو کولو کې قاري صاحب ورته په خندا کې وویل: الله دې راوله.

پدې وخت کې قاري صاحب چغې کړې ویل: مُقاتل، مُقاتل، مُقاتل مال چا ته غړونه کوې دا نوم خو ما اوس واورېده، قاري صاحب وخندل ویل دا ستا د ملګري د ابو عبدالرحمن اکا د ځوی نوم دی، بیا یې د هغوی ډیره ستاینه وکړه ویل ډیر زیات خدمت کوي هر شی مو چې پکار شي نه یې ایساروي، هر څه چې پاخه کړي زمونږ برخه پکې خامخا کوي، بیا دوه کوچنۍ ماشوماني چې په حجاب کې پټې وې، راغلې

په نیمه پښتو یې وویل: کاکا مُقاتل نشته څه مو پکار دي؟

قاري صاحب ورته ویل: میلمانه دي چای راوړه، مونږ قاري صاحب ته وویل: مه راغواړه د الله بنده مونږ چای نه څښو.

لږ وخت تېر نه وه چې ماشومانو چای راوړه او ورسره یې چارمغز هم را اخیستي وه، چای مو وڅښلې خو د صلیب بې پیلوټه الوتکه هماغه شان ګرځېدله، عمر ګل تقبله الله وویل: الله دې تباه کړي سم رینګ روډ یې جوړ کړی دی، همدا بنګار دی یوه نده دوه ندي، او تیل هم پکې نه ختمیږي، هغه کسان چې وایي خلافت د امریکا پروژه ده را دې شي او لږ دې دا حالات په خپلو سترګو ووینې، ویل دغه خلک هر څه وینې، او که نه وینې خبرېږي خو خامخا خو لیکن په سترګو یې پردې دي او په غوږونو یې مهرونه لګېدلي دي، بل دا چې میډیا ټوله د دښمن لاس کې ده تبلیغات دي چې کوي یې، خو مونږ ته زمونږ رب کافي دی او حسبنا الله و نعم الوکیل یې وویل، د غرمې ډوډۍ مو هم د قاري صاحب په ځای کې وخوړه ماسپښین لمونځ مو چې وکړ الوتکې ورکې شوې بس زر لاړو رابطې مو وکړې او راغلو.

د کاکا کور مو ولیده کله به هم چې پدغه لاره کوم طرفته تلو که کاکا به کور کې وه، لږه دمه به مو ورسره کوله، او ما ته به یې هر وخت ویل چې مونږ ډېر خوشخالیږو چې تاسې مونږ کره راځئ.

یوه ورځ زه د شیخ ابو عمر تقبله الله خوا ته ورغلی وم، خبر شو چې ملګري شهیدان شوي دي او یو پکې مقاتل هم دی.

دا داسې وخت دی چې د بایډن ملیشو د امریکا په هوایي ملاتړ د خراسان په تمکین حمله کړې ده ملګرو په میرانه د اسلامي دولت د سرحداتو څخه دفاع کوله چې په ترڅ کې یې څه ملګري شهیدان شول، چې یو پکې مقاتل هم وه، تقبلهم الله.

چې خبر شو نو شیخ صاحب تقبله الله وویل چې د ابو عبدالرحمن اکا تعزیت ته به اول ورشو او تسلي به ورکړو، ما ورسره ومنله، د مازیګر لمر پریوتی وه، چې حرکت مو وکړ تردې چې د ابو عبدالرحمن اکا کور ته ورسیدو غږ مې ور وکړ، ابو عبدالرحمن کا! ابو عبدالرحمن اکا!.

د هغه طرفنه غږ راغی ویې ویل: درغلم، ابو عبدالرحمن اکا راښکته شو چې شیخ صاحب یې ولیده ډېر خوشحاله شو، ویل راځئ، نن ډېر خوشحاله یم څه ناآشنا میلمانه راغله هر کله راشئ، شیخ صاحب ورته کړه جزاکم الله خیرا الله ، رب العالمین دې جنتي کړه دا خو زمونږ خپل ځای دی، نو حجرې ته یې بوتلو او کیناستو مونږ د ماښام لمونځ وکړ چې سلام مو وګرځوه چې ګورو د چایو سره سره ډېر شیان یې د خوراک لپاره راوړي دي، ویل دا اوس وخورئ نوره ډوډۍ به وروسته وخورو ان شاءالله تعالی، کاکا د ټولو نه د احوال پوښتنه وکړه بیا یې شیخ صاحب سره مجلس شروع کړ، د خپلې نوې نکاح خبره یې وکړه، بیا کور ته لاړه او ډوډۍ یې رواړله، چرګ یې حلال کړي وه، کاکا په خندا وویل چې زما ځوی مقاتل سنګر ته تللی دی دا مې هغه ته ساتلی وه، کیدای شي سبا راشي ما ویل که راغی ورته به یې حلال کړم، بس چې تاسې راغلئ هغه ته بل پیدا کړم ان شاءالله، شیخ صاحب ورته ویل دا دې

ولې حلال کړه، ویل تاسې کله دلته راغلي یې، او بله دا چې ما دوهمه نکاح وکړه ولیمه مې نده کړې ما ویل چې ځوی مې د سنګر څخه راشي یو ځای مې ورته جرګه کړېده هغه ته به هم نکاح وکړم ولیمه به په یو ځای دواړه وکړم، چې شیخ صاحب تقبله الله دا خبره واورېده یو سور اسویلی یې وکړ، نوری یې په ځمکه کېښوده او خوراک یې بند کړ او دیوال ته یې تکیه وکړه، خو د کاکا پخا طر چې پوه نشي رانیغ شو او په نه زړه یې خوراک شروع کړ، او زر زر به یې وریپسې د اوبو ګوټ کاوه ، ما ورته کتل چې د سترګو نه یې اوښکې روانې وې.

پلار د خپل ځوی د شهادت څخه نه وه خبر او په دې طمعه وه، چې ځوی به مې راشي ، چرګ به ورته حلال کړم او نکاح به ورته وکړم ولیمه به هم یو ځای وکړم.

زیات مجلس یې وکړ ډېرې کیسې یې وکړې، شپه شوه، کاکا ویل زه هم درسره همدلته څملم شیخ صاحب پرې ټینګار وکړ چې کور ته لاړ شي، مجبور شو او کور ته لاړه، شیخ صاحب ژړل ویل دده دغه حالت مې ډېر ځوروي، تر نیمې شپې شیخ صاحب ویښ وه، ویل یې دا اوس څنګه خبر کړو؟ چې سبا شو نو ابو عبدالرحمن اکا راغی او د خپل هغه ګاونډې چې د مقاتل سره یو ځای سنګر ته تللی وه، د هغه لورې څخه خبر شوی وه، د شونډو په نرۍ مسکا یې شیخ صاحب ته وویل: څه ملګرې شهیدان شوي دي او یو پکې مقاتل هم دی الحمد لله یې وویله، د دې خبرې سره شیخ صاحب په شتکارې وژړل، ابو عبدالرحمن اکا ورته کړه شیخ صاحب مه ژاړه زما همدا یو ځوی وه، او دا ما د الله تعالی په لار کې نذر کړی وه، او دا دی نذر پوره شو الحمدلله، زه پرې خوشحال یم الحمدلله الحمدلله.

مونږ ورته تعزیت وکړ او ترې لاړو..

د بارودو سيلۍ

په خراسان ولايت کې داسلامي خلافت په تمکين کې د مجاهدينو او مهاجرينو د حقيقي ژوند رښتينې کيسې.

هو!

د بارودو په تونده سيلۍ کې د مجاهدينو د ثبات او استقامت، ميړانې او شجاعت، اخلاص او ديانت څخه ډکې کيسې.

ډير ژر له العزائم خپرندويه ادارې څخه

اې طالب ملېشو!
د اسلامي دولت اتل سربښندویان اوس د خراسان په ګوټ ګوټ کې شتون لري، راتلونکې
ورځې ستاسو لپاره ډیرې ترخې او د مومنانو لپاره به ډیر خواږه زیري له ځانه سره
ولري ان شاء الله.
مؤسسة العزائم
یې وړاندې کوي